# د افغان او انګرېز دوهمه جګړه

لیکوال: پوهاند حسن کاکړ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(( زه د هندوستان کوم راجا نه یم، چې هغه تر سره کړم . ))[30] امیر ته د دې وینا نسبت ورکول د هغه د رقیب سردار ولي محمد خان له قوله، ښایي شك رامنځ ته کړي؛ خو سردار یحیا خان حتا د بریتانوي وکیل په حضور کې د جولای پر لسمه په یوه دربار کې دا په ډاگه کړې وه، چې (( د هندوستان راجه گان او پاچاهان، چې د هغوی سیمه د برتانیې د قلمرو په مرکز کې قرار لري، دا واك لري، چې په خپله خوښه څوك وستایي او څوك سپك کړي . دلته په افغانستان کې موږ ځنگه د معاهدې دویمه ماده ذکر کړو . ))[31]**

**له دې اختلاف نه وروسته د امیر په سلوك کې د معاهدې د منلو او د هغې له عملي کولو نه ځرگندیږي، چې امیر اصلاً د هغې د عملي کولو توان او قدرت، د هغه مخالفت پر وړاندې چې له ده سره ښوول کېده، نه درلوده . او د افغان مشرانو پر وینا د امیر له دې کمزورۍ نه حتا(( برتانوي چارواکي هم خبر وو . ))[32] او ځنگه چې امیر قاطع او ځواکمن شخصیت نه درلود، له هغه نه عاجز و، چې په پوره زړورتیا سره په ښکاره توگه یوه لار غوره کړي او پر هغې په پوره ځواك او کلك ایمان سره عمل وکړي. په دې اساس امیرد پېښو د انکشاف په تمه پاته شو . د دې پر ځای چې پر او ضاع او شرایطو اغېزه وشیندي، پخپله د هغه پلوی شو او هیله من و، چې ښایي د عامه مخالفتونو له مخې د ده د دغې معاهدې د موادو په اړه (( سفیر له وېرې پخپله خوښه ښار پرېږدي؛ مگر هغه ( امیر ) هیله من و ، دا فشار د خپلواکو قبایلو له خوا وارد شي، نه د هغه د خپل لښکر له خوا . ))[33] په کابل کې عمومي نظر هم همداسې و او د واترفیلد په وینا (( دلته هم عمومي نظر داسې دی، چې خپل پلاوي ته نجات ورکړي؛ خو اوس چې پېښه دا ډول شوې، متاسف دی . هغه نه خلك په واك کې لري او نه لښکر او ښایي اړ شي خپل ځان د هغوی په سر کې راولي او دا به د هغه د ساتنې یواځېنی چانس وي ... )) ځکه چې (( د خلکو عمومي غوښتنه دا ده، چې پاما ( انگرېزان ) مخالف وکړي . ))[34] خو امیر دا هیله او قدرت هم بایلی و او په داسې حال کې، چې پلار یې د وروستي مقاومت په هیله له تزاري روسیې څخه د مرستې په تمه له یرغلگرو ځواکونو نه تېښته وکړه، امیر یعقوب خان پخپله یرغلگرو ځاکواکونو ته پناه ورووړه او له هغوی څخه یې د ناامنیو په له منځه وړلو کې مرسته وغوښته .**

**<u>دویم تېری</u> :**

**لیتن د کوگناري او د هغه د ملگرو د مرگ د خبر په اورېدلو سره، هغه خوشحالي او بریالیتوب، چې د گندمك د تړون په پایله کې په برخه شوی و، له لاسه ورکړ او د دسمبر پر څلورمه یې پر کابل د پوځونو د مارش امر صادر کړ . رابرتس هغه مهال په سمله کې و او په ۲۴ ساعتونو کې کرم ته ورسېد او هلته له پیوار غاښي ( کوتل ) څخه له پوځ سره، چې شمېر یې د ۶۰۰۰ او ۷۰۰۰ وسله والو ترمنځ و، د کابل په لور روان شو . په کندهار کې ستیورات ته لارښوونه وشوه . هغه ښار چې تاکل شوې وه خالي کړي، بېرته د پخواپه څېر په خپل اشغال کې ولري . د خیبر مقیمه قوه تقویه شوه او زیات احتیاطي پوځونه شا ته آماده شول .**

**په عین حال کې لیتن امیر ته خبر ورکړ، چې (( د برتانیې یو قوي پوځ به له شترگردن څخه د هغه مرستې ته په ډېره چټکۍ سره ورشي او د هغه د پرمختگ لپاره به هر څه، چې په وس او توان کې وي، دریغ نه کړي . ))[35] په هغه لیکونو کې چې هماغه ورځ یې د برتانیې صدراعظم ته ولېږل، ځرگنده کړه، چې (( د سیاست هغه شبکه، چې په څومره دقت او حوصلې سره جوړه شوې وه، په څومره بې پروایۍ له منځه لاړه ... )) اوس به اړ اوسو، چې د افغانستان د جوړښت تل پاته تجزیه په لاس کې واخلو، چې زموږ موخه د هغه استحکام و...سره له دې هم هغه نوې او ښایي پراخه شوې هڅې، چې اوس پر موږ تحمیل شوي؛ په هغه صروت کې، چې په سمه توگه تعقیب شي، بله پایله نه شي درلودلای؛ خو پرته له سند نه تر آمو پورې د برتانیې د بلامنازعې کلك او لوړ، له استقرار څخه... او دا د هغه دهېواد( کوگناري ) دنده ده، چې د هغه د مرگ غچ دې**

---

[30] - پخوانی یاد شوی راپور ،651مخ
[31] - ایضاً
[32] - رابرتس ته افغان مشران، در رابرتس به لایل، ۳۰ دسمبر 1879 ، م ض س س هـ ، ج 24 ، 624مخ .
[33]- د علی حسن خان قزلباش پخوانی یاده شوه وینا ، 720 مخ.
[34] - واتر فیلد، ۱۴ سپتمبر ۱۸۷۹ ، م ض س س هـ ، ۲۴توك، 721 مخ.
[35]- بالفور ، ص ۳۵۸ ــ ۳۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امیر او رابرتس ترمنځ اړیکې ( مراودت ) :

امیر د کوګناري د وژنې پر لومړۍ او دویمه ورځ د رابرتس په نامه دوه مکتوبونه کرم ته ولېږل او په دویم هغه کې یې د پېښې له شرحې وروسته څرګنده کړه، چې (( زه له خدای وروسته د حکومت د ساتنې لپاره ستا مرستې اوسلا ( مشورې ) ته په تمه یم . زما صمیمي دوسته زما پر موخه په ښه توګه ورسېږې . ما په دې بد چانس سره خپل صمیمي دوست، سفیر او خپل سلطنت له لاسه ورکړ . ))[37] له دې نه وروسته په یوه ځانګړي ګړني ( شفاهي ) پیغام کې چې د خپل یوه نوکر په واسطه یې رابرتس ته واستاوه د هند له حکومت نه مشوره وغوښتله .[38] په عین حال کې امیر د ځینو راپورنو له مخې د ځینو نظامي قطعو په لېږدولو لاس پورې کړ. زرمت، ګردېز،سپیګه یې په سوارو او پیاده قطعو پیاوړې کړې، څو د هغې سیمې غلجي او منګل د انګرېزانو د پرمختګ پر وړاندې چمتو کړي . ویل کېږي چې امیر په دې فُرصت کې خپل باور د انګرېزانو پر وړاندې له لاسه ورکړی و او په فعاله توګه یې د خپلو خلکو په جلب او ملاتړ لاس پورې کاوه[39] همدارنګه ویل کېږي امیر د مهمندو خلك، چې ماماخېل یې وو، د انګرېزانو پر وړاندې مقابلې ته راوبلل. له بله پلوه رابرتس د سپتمبر پر ۱۳ مه امیر ته د یوه لیك په ترڅ کې څرګنده کړه، چې حتا په مرکز کې یې هم قدرت بایللی دی (( دبرتانیې پوځ ستاسې جلالتماب د قدرت د ملاتړ په موخه افغانستان ته درځي او ستاسې جلالتماب څخه هیله کېږي، چې یو باصلاحیته استازی د لیدنې کتنې په موخه دلته راولېږئ . ))[40] رابرتس د سپتمبر پر ۱۶ مه په پارسي ژبه د یوې اعلامیې په ترڅ کې د افغانستان خلکو ته اعلام وکړ، څنګه چې د امیر واك او قدرت کمزوری شوی (( ... د برتانیې پوځ له وژونکیو ( قاتلانو ) څخه د غچ اخیستنې په موخه او همدارنګه د معاهدې د موادو د استحکام لپاره ګام پورته کوي . برتانوي پوځونه په دې موخه افغانستان ته ننوځي، چې د ولاحضرت شاهي واك ( قدرت ) ته قوت ورکړي، چې نوموړی ولاحضرت له

دغه قدرت څخه، د برتانیې له حکومت سره د دوستۍ د دوام لپاره ګټه واخلي . د برتانیې پوځ به پرته له هغو کسانو څخه چې د سفارت د غړیو په وژنه کې یې لاس درلود، نه چاته سزا ورکړي او نه به یې زخمي کړي . ))[41]

له هغه وروسته نور په افغانستان کې د نظامي لېږدونو خبره وا نه وربدل شوه او امیر یو پلاوی ( مستوفي حبیب الله وردګ او د بهرنیو چارو وزیر شاه محمد ) له رابرتس سره د کتنې _ لیدنې په موخه ولېږه، چې د دسمبر پر ۱۳ مه د کرم علي خېلو ته ورسېد . مستوفي له رابرتس نه وغوښتل، چې خپل وړاندې تګ ( پرمختګ ) د یو څه وخت لپاره وځنډوي او امیر ته اجازه ورکړي، چې د پېښې مرتکبینو ته سزا ورکړي او خپل واك ( قدرت ) دخپل پلار د وخت د پوځ په ترخیضولو او یوه نوي پوځ پر جوړولو د دویم ځل لپاره پر پښو ودروي . مستوفي وویل، څرنګه چې (( یاغي پوځ له ټول قومونو څخه جوړ دی؛ که د برتانیې پوځونه هغه له منځه وړي او د مقابلې په صورت کې همداسې وکړي، ښایي ټول هېواد یو موټی شي او د برتانیې او امیر پر وړاندې پاڅون وکړي .)) هغه زیاته کړه، چې یاغي پوځ (( په غالب احتمال سره دلته او هلته تیت شي او ښایي ټول هېوادوال پاڅون ته اړ باسي... او امیر په هر حال تیار دی، چې د برتانیې د حکومت پر خوښه کار وکړي. )) رابرتس په داسې حال کې، چې د امیر له دې توصیې نه منه وکړه، له مستوفي یې وغوښتل، چې که نور څه ویل غواړئ !؟ هغه یې په ځواب کې وویل (( خو که د برتانیې پوځ غواړي د کابل خواته مخه وکړي، یو څه باید ووایم، پرېږده چې دا پوځ په دومره قدرت سره وخوځېږي، چې د شرارت ټولې هیلې له منځه یوسي او په ټول

---

36 _ لیتن سیکیفیلد ته، ۴ سپتمبر ۱۸۷۹، بالفور کې، ۳۵۸ ــ ۳۶۰ مخونه.

37 - امیر رابرتس ته ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۴۸۴ مخ .

38 - لیتن کرین بروك ته، ۵ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳توك، ۴۴۴مخ.

39- ایضاً ، ۴۴۴ مخ.

40 - رابرتس امیر ته، ۱۲ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ټوك ، ۷۱۷مخ .

41 - له علي خیل څخه صادره شوې اعلامیه، ۱۶ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۶۸۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځنګه چې کابل ته د پرمختګ لپاره د رابرټس عزم پیاوړی شو ، په کابل کې د انګرېز د خپلولو او باور لپاره د امیر یعقوب خان او (( کوګناري زیو )) تر منځ یو ډول سیالي پیل شوه . لومړی سردار ولي محمد خان له سردار عبدالله خان او نورو سردارانو سره په زرغون ښار کې له رابرټس سره یوځای شول . ځنګه چې امیر له هغه نه خبر شو، د امیر دوست محمد خان غونډې، چې له دې نه ځلوېښت کاله وړاندې، په داسې حال کې چې د کابل ګاونډ ډېری خلك له دوښمن سره په جګړو کې ښکېل وو، په ناڅاپي توګه د مکناټن پر وړاندې راڅرګند شو (( په پټه توګه یې کابل پرېښود، په خوښۍ او بېړه سره لاړ، پرته له دې چې کومه خیمه یې له ځان سره وړې وي. ))[44] ځنګه چې امیر د سپتمبر پر ۲۵ مه د جنرال بیکر په کامپ کې ځای پر ځای شو، په واقعیت کې نور امیر نه و . سره له دې هم هغه غلجیان او د پوځ صاحب مصبان له یرغلګر پوځ سره د مقابلې له فکر څخه منع کړل، چې خلك هغه پر ځای راوړي او انګرېزانو ته یې د لېږد رالېږد وسایلو او اذوقه د مرستې ژمنه وکړه[45] له دې نه وروسته د عمومي پاڅون او مقاومت هیلې کمزورې شوې، سره له دې چې غلجیو او منګلو د دسمبر پر ۱۷ مه د شترګردن په لور دتګ پر مهال د رابرټس پر پوځونو یرغل وکړ، خو کومه ګټه یې ونه کړه.[46] د مهمندو خلك هم د دکه په شاوخوا کې تیت شول . امیر د رابرټس له راتګ وروسته په خوښۍ سره خپله پخوانۍ غوښتنه پخپله تکرار کړه، ویې ویل چې ښایي په بالاحصار کې ځای پرځای شوی پوځ د انګرېزانو د تېري له امله پاڅون وکړي او د هغه کورنۍ له منځه یوسي .[47] خو رابرټس و نه منله او هغه داسې فکر وکړ، چې پر دوباره ځنډ( معطل ) باندې د تېنګار موضوع ښایي یوه پلمه وي . د امیر اصلي موخه ښایي له انګېزانو سره د مخالفت د کوم پلان طرحه کول وي[48] د امیر دا هیله، چې غوښتل یې له (( کوګناري زیو )) روغه جوړه ( مصالحه ) وکړي، هم تر سره نه شوه او رابرټس (( د داسې روغې جوړې لپاره وخت او موقع ناموزون وبلل . ))[49] امیریعقوب خان په خپل هېواد کې په خپله خوښه د یرغلګر پوځ سردار ( مېلمه ) وګرځېد او انګرېزي ساتونکي د هغه د خیمې چارچاپېر دېره شول . رابرټس د لوګر له خوشي څخه یوه بله اعلامیه صادره کړه او په هغې کې یې خپل پخوانی مطلب په دې ټکو کې څرګند کړ، چې (( د هندوستان حکومت پرېکړه کړې ده، چې په کرم کې ځای پرځای شوی پوځ په پوره او ممکنه چټکتیا سره د امیر د غوښتې په ځواب کې د مرستې لپاره کابل ته ولېږل شي . ))[50] دا مطلب د احمدزیو او غلجیو سرلارې پاچاخان ته لا هم څرګند افاده شوی و، چې کابل ته د پوځ له لېږلو څخه مطلب دادی، چې (( له علا حضرت امیر سره د دوستۍ مرسته وشي او له هغو یاغیانو څخه غچ واخیستل شي، چې سفارت یې نړولی دی . ))[51] حقیقت داو، چې امیر اصلاً د یرغلګرو ځواکونو د ځنډ ( معطل ) غوښتنه کړې وه او رابرټس هغه شمېر افغانان، چې د لوګر په بېلابېلو برخو کې یې شبخون کاوه او د یرغلګرو ځواکونو لاسونو ته ورتلل، په دې نامه یې په نظامي نیاوتون ( محکمه ) کې په دار کول، چې (( د خپل پاچا پر وړاندې یې په ناقانونه بغاوت لاس پورې کړی دی . ))[52]**

## د چاراسیاب جګړه :

---

[42]- له مستوفي سره د رابرټس مرکه، ۲۳ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ټوك، ۷۹۷ مخ .

[43]- په علي خېلو کې له مستوفي سره د رابرټس مرکه، ۲۵ سپتمبر ۱۸۹۷، م ض س س هـ، ۲۳ټوك، ۸۰۳ مخ. هنا، ۳ ټوك، ۵۲مخ .

[44] - د رابرټس نقل قول له بالفور ، ۳۶۲ مخ.

[45] - لیتن کرین بروك ته ، ۱- ۱۲ اکتوبر ۱۸۷۹، م ض س س، ۲۴ ټوك ، ۶۸۸ مخ.

[46]- ایضاً

[47] - بالفور، ۳۶۱مخ

[48]- هانا ، ۳ټوك، ۵۸ مخ.

[49]- بالفور، ۳۶۲ مخ

[50]- نقل قول در هنسمین،۱۷ مخ

[51]- رابرټس پادشاه خان غلجي ته، ۱۹ سپتمبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ټوك، ۷۹۰ مخ .

[52]- هنسمین، ۲۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یرغلگر پوځونه په داسې حال کې، چې د افغان زړورو خلکو له خوا له چریکي ( گوریلایي ) بریدونو سره مخ وو، د اکتوبر پر ۲ مه سفیدسنگ ته ورسېدل او دهغو اعلامیو په لړ کې یوه ځانگړې اعلامیه د کابل د خلکو په نامه صادره کړه، چې هغه وخت یې نفوس ( ۷۰۰۰۰ ) و [53] په دې اعلامیه کې راغلي وو، چې (( برتانوي لښکر د کابل د نیولو په موخه پر هغه ښار تېرى کړى، که غواړئ دا کار په آرامۍ تر سره شي، ښه به وي او که نه، نو د پوځ په زور به ونیول شي ... د برتانیي حکومت غواړي له ټولو طبقو سره په عدالت وچلېږي. د هغوى مذهب، احساساتو، دودونو ته درناوى ولري، په داسې حال کې چې له یرغلگرو څخه به غچ واخیستل شي ... په دې اساس د دغې اعلامیې تر خپرېدو وروسته، هغه کسان چې په کابل ښار کې د وسلې سره ولیدل شي، د برتانوي حکومت د دوښمنانو په توگه به وپېژندل شي . )) [54] همدارنگه په دې اعلامیه کې راغلي وو، چې د جلالتماب امیریعقوب خان پر وړاندې مقاومت کوونکي به هم خپله سزا وویني . رابرتس لا هم په ظاهر کې د برتانیي حکومت د امیر دوست باله . د دغه څرگند منافقت موخه یواځې د خلکو د مقاومت د ځواك کمزوري کول وو، سره له دې هم د اکتوبر پر ۶ مه په چاراسیاب کې خلکو خپل ټینگ مقاومت وښود .

عجیبه ده، چې په چاراسیاب کې خلك د هغه امیر په نامه جنگېدل، چې ځان یې د هغوى دغوښتنې پر خلاف یرغلگرو پوځونو ته سپارلى و . د امیر دوست محمد خان زوى سردار نېك محمد خان د اکتوبر پر ۵ مه په چاراسیاب کې له امیر سره لیدنه _ کتنه وکړه او بېرته ژر ښار ته راستون شو او له ځنډ پرته یې (( کوتوال راوغوښت او امر یې ورته وکړ، چې په ښار کې اعلام وکړي چې دا د امیر امر دى ، چې هرڅوك باید له انگرېزانو سره جگړې ته تیار وي . بله ورځ خپله نېك محمد خان د انگرېزانو پر وړاندې د پوځ د سر په لیکه کې راڅرگند شو او د امیر ډېرو نژدې ملگرو او د باور کسانو د چاراسیاب په جگړه کې برخه واخیسته. )) [55] د کوتوال له قوله محمد اسلم خان (( هغوى په ښار کې گرځېدل او خلکو ته یې چیغې وهلې، چې امیر بندي دى او باید ټول مسلمانان لاړ شي او د هغه د راخوشې کېدلو لپاره وجنگېږي . دا اعلامیه د نېك محمد په امر ټولو خلکو ته ورسېدله او د ښار خلکو باور وکړ او داسې فکر یې وکړ، چې هغه اعلامیه اصلاً له کوم لوړ مقام څخه صادره شوې ده . )) [56] کوتوال د ښار دوړې پخوونکیو ( نانوایانو ) ته پیسې ورکړې، چې غازیانو ته ډوډۍ تیاره کړي او پولیس یې وگومارل، چې خلك د جگړې په لور راوکاږي . له جنگ نه یوه ورځ مخکې د پوځ جنرالانو ( جنرال غلام حیدرخان چرخي، جنرال سیف الدین خان، جنرال عبدالکریم خان...) او هغو سردارانو ( سردارنېك محمد خان او سردارخوشدل خان او نور ) چې د چاراسیاب په جگړه کې یې برخه اخیستې وه ، لومړى جرگه وکړه او وروسته یې چاراسیاب ته پوځ ولېږه، چې لوړ ځایونه ( مواضع ) ونیسي . پخپله ده هم په بله ورځ په جگړه کې گډون وکړ او په کابل کې یواځې جنرال سیف الدین خان پاتې شو او جنگیالیو ته یې د وسلو د توزیع کولو دنده پر غاړه واخیسته . [57] رابرتس حتا په دې فکر و، چې امیر محمد یعقوب مخکې له دې چې له کابل نه د یرغلگرو پوځونو په لور راوخوځېږي، خپل تره سردار نېك محمد خان ته لاربښوونه کړې وه، چې د ( رابرتس په وینا ) (( پوځ او خلك زموږ پر وړاندې مقاومت ته وهڅوي او د شېرمې ورځې جگړه مستقیماً د هغه د اطاعت او امر پایله وه . )) [58] رابتس د چاراسیاب تر جگړې وروسته له سردار ولي محمد خان سره له لیدنې _ کتنې څخه دې پایلې ته رسېدلى و، چې دچاراسیاب په جگړه کې (( امیر او دهغه ټول ورسره پلاوي، په دسیسه کې گډون درلود او له هغه څه نه چې تېرېدل، په بشپړه توگه خبر وو . )) [59] خو څرنگه چې د امیر په اړه د رابرتس ذهن د سردارولي محمد خان له خوا مغشوش شوى و، په جنگ کې د امیر په برخې اخیستې پوره ډاډه نه و او ښایي هغه له دې امله په جنگ کې د امیر دبرخې اخیستنې په فکر کې شوى وي، چې په چاراسیاب کې کلك خو لنډمهاله مقاومت سره مخ شو، خو په دې کې هېڅ شك نشته، چې سردار(( نېك محمدخان د ښار خلك او پوځ د امیر په نامه سپېڅلې جهاد ته راوبلل . )) [60] په هر حال څرنگه چې یرغلگرو ځواکونو غوره او پرمختللې وسلې په واك درلودلې ( په داسې حال کې له افغان توپونو څخه هېڅ کار وا نه خیستل شو ) په هغه جگړه کې چې د اکتوبر پر

---

[53]- هنسمین ، ۶۶ مخ .
[54]- هنا ، ج ۳ ، ص ۶۴ .
[55]- د برتانیې د سفارت د نړولو په اړوند، په کابل کې د وروستیو پېښو دلاملونو په اړه ځېرنیز راپور، ۱۵ نوامبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۶۷۹ مخ
[56]- ایضاً
[57]- د سردار خوشدل خان نقل قول ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۷۲۱ مخ.
[58]- رابرتس به لایل _ ۲۰ اکتوبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ټوك، ۱۲۵۵ مخ. هنا ، ۳ ټوك، ۸۸ مخ .
[59]- وایسرای کرین بروك ته _ ( تلگرم ) ۱۱ اکتوبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۹۰۹ مخ .
[60]- رابرتس لایل ته _ ۲۰ اکتوبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳ټوك، ۱۲۵۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم څپرکی
## په کابل کې د انګرېزانو نظامي حکومت

**سریزه :**

**په دې څپرکي کې د امیریعقوب خان استعفا، په کابل کې د انګرېزانو نظامي حکومت، د افغان جنګیالیو اعدامول، د پردي حکومت کړنې، چې بالاخره د دسمبر په میاشت کې په شیرپور کې په سختو جګړو او د یرغلګرو ځواکونو په محاصرې سره پای ته ورسېدې، تر بحث لاندې نیول کېږي .**

**د امیر استعفا :**

**د چاراسیاب تر جګړې وروسته افغان جنګیالیو د ( چل ستون ) د هندکی له لارې په شا تګ وکړ او ښاریانو د یرغلګرو له وېرې ښار پرېښود . جنرال محمدجان وردګ، چې د کوګناري له وژنې وروسته د سپاهیانو له خوا د ( غټ ) مشر په توګه ټاکل شوی و، ښار ته راوګرځېد او له خپل پوځ سره یې د اسمایي په غره کې موضع ونیوله او له انګرېزانو سره، چې د شیرپور دروازه یې نیولې وه، سنګر ونیو، خو نوموړي جنرال ځان د مقاومت جوګه ونه باله او د شپې له خوا یې د تېښتې لار غوره کړه، خو د قرق غره ته نژدې د یرغلګرو ځواکو یوه ټولي، چې د هغه په تعقیب پسې روان وو نتچزم وکړ او خپله د غزني او وردګو خواته لاړ .** [62]

**یرغلګرو ځواکونو د مرنجان پر غونډۍ خیمه ووهله او امیر ته یې هم یوه ځانګړې خیمه، چې په دقت سره یې څارنه کېده، ورکړل شوه . د اکتوبر د ۱۱ مي پر ماښام څرګنده شوه، چې جنرال فریدرك رابرتس، چې اوس د انګرېزانو تر منځ (( د شمالي افغانستان د پوځ قوماندان )) بلل کېده، سبا د کابل بالاحصار ته ننوځي او هغه حصار، چې له ۱۷۶۷ نه تر هغې ورځې د افغانستان د پاچاهانو ځای و او د لوړو او ښکلیو ودانیو په درلودلو سره یې پر ښار باندې یوه حاکمه منظره جوړوله، د ختیځو واکمنانو د یوه دربار په توګه لاس ته راوړي او د برتانیې توغ پرې پورته کېږي، ټاکل شوې وه، چې د ښار لویان او د محمدزیو سرداران د امیر په ګډون په هغه کې ګډون وکړي .**

**له هغه مخکې یو شمېر انګرېزپلوو په چاراسیاب کې د رابرتس هرکلي ته را دانګلي وو . امیر پخپله په هغه غونډه کې ګډون نه درلود . د اکتوبر پر ۱۲ مه د سهار په شپږو بجو د رابرتس خیمې ته ورننوت او هغه ته خپله استعفا وړاندې کړه او څرګنده یې کړه، چې (( دا غوره بولم، چې ژرترژره د انګرېزانو په یوه کمپ کې باغوان شم، نه دا چې په کابل کې د امیر په توګه پاتې شم . ))** [63] **د رابرتس په وینا امیر غوښتل د لوګر په خوشي کې خپله استعفا وړاندې کړي، خو هغه وخت د خپلو وزیرانو په غوښتنه له هغه کار نه راوګرځېد. امیر د خپلې استعفا لامل داسې بیانوي : (( برتانوي کمپ ته زما د راتګ له امله، ټول خلك ما کافر بولي او زما خپل ملازمان هره ورځ له ما تېښتي، هېڅوك زما امر نه مني او نور ماته د امیر په سترګه نه ګوري . ))** [64] **باید وویل شي، چې د دې خبر سرچینه یواځې او یواځې پخپله رابرتس دی . دا هم ویل کېږي، چې امیر له دې امله نه غوښتل، په دربار کې شتون ولري، چې ښایي د رقیبانو ( کوګناري زیو ) پر وړاندې سپك شي . په داسې حال کې چې وروسته یعقوب خان په هند کې څرګنده کړه،چې دا استعغا د ظالمانه او ناعدالانه فشار له امله ورڅخه واخیستل شوه . او د برتانیا حکومت دا حق نه درلود، چې هغه یې دې کار ته اړ ایستلی وای .** [65] **لکه پخوا چې ذکر شول**

---

[61]- سراج التواریخ ـ۳۵۳ مخ.
[62]- سراج التواریخ ـ۳۵۴مخ .
[63]- هنسمین ـ۱۰۵ مخ.
[64]- ۳۹ نمبر ضمیمه ـ م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۱۸۱ مخ.
[65]- هنا ـ۳ ټوك ـ۹۲ مخ. بالفور ـ۳۹۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**رابرتس امير ته وويل، چې د وايسراى له خوا د استعفا د منلو تر وخته په تمه شي .**

## (( رايت كل )) په بالاحصار كې :

**رابرتس داكتوبر پر ۱۲ مه د سردار موسى جان او انګرېز منصبدارانو او د پوځ د يوې قطعې په ملتيا د ځانګړو تشريفاتي مراسمو په ترڅ كې بالاحصار ته ننوت، خو ( كوګناري زيو ) پرته دېښار نور مهم خلك حاضر نه وو، مستوفي حبيب الله، سرار يحي خان او دبهرنيو چارو وزير، سره له دې چې رابلل شوي وو، پخپله رانغلل، تر ځو چې احضار شول . له ښار څخه ځيني نندارچيان هم راغلي وو. هغوى چې د يرغلګرو پوځونو د قوماندان لنډه ونه ( قد) لغړ سر ، ګڼ اوږده برېتونه وليدل، له هماغې شېبې نه يې هغه ( راپت كل ) وباله . د همدغه ( راپت كل ) دا اعلاميه په دري ژبه ولوستل شوه (( زه جنرال رابرتس د برتانيې دحكومت له خوا په دې توګه اعلام كوم، چې امير پخپله خوښه استعفا وركړې ده او افغانستان يې پرته له يوه حكومت څخه پرې اېښى دى .**

**د برتانيې حكومت اوس امر كوي، چې ټول افغان ملت مقامات سرلاري او سرداران دې د امنيت د ساتنې په برخه كې خپلو دندو ته ادامه وركړي او د اړتيا په صورت كې دې ماته مراجعه وكړي . د برتانيې حكومت هيله لري، له خلكو سره په عدالت چلند وشي . د خلكو مذهبي دودونو او احساساتو ته درناوى وشي . د هغو سردارانو او سرلارو خدمتونه، چې د امنيت په ساتنه كې مرسته كوي، بالاستحقاق وګڼل شي، خو هغه كسان چې امنيت ګډوډي او هغه چې پر برتانوي مقاماتو باندې بريدونه كوي، سخته سزا وركړل شي . د برتانيې حكومت به خپله اراده د راتلونكي دتل پاتې ترتيباتو په اړه، چې د خلكو د غوره حكومت لپاره به ونيول شي، دعمده قومونو له مشرانو او سردارانو او هغه چې د ښارونو او ولايتونو ګټې او هيلې تمثيلوي تر مشورې وروسته اعلام كړي .** [66] **د مستعفا امير د ستر حكومت تر ختمېدو وروسته ، څنګه چې مستوفي حبيب الله ، سرداريحي خان، وزير شاه محمد او سردار زكريا خان بندي شول او لامل يې څرګند شو، چې هغوى د حكومت مقتدر خلك او د رابرتس په وينا هغوى له خپل دريځ څخه د انګليس پر ضد ګټه پورته كړې ده .** [67] **په عين حال كې نظامي حكومت د لس كيلو مترۍ په واټن سره له بالاحصار څخه اعلان شو او ميجر جيمز هلتر د نظامي ګورنر په توګه وټاكل شو او نواب غلام حسن خان يې نايب وبلل شو . خلكو ته دا ابلاغ شوه، چې هغو كسانو، چې د كوګناري او د هغه د ملګرو په وژنه كې يې برخه اخيستې وه، سزا به وركړل شي او له يوې اونۍ وروسته كه له هر چاسره وسله وموندل شوه ، پر اعدام به محكوم شي . همدارنګه په اعلاميه كې راغلي وو، هر هغه چاته به ۵۰ روپۍ انعام وركړل شي، چې د هغه چا په باره كې معلومات وركړي ، چې پر سفارت يې يرغل كړي وي او د هغه معلومات د هغه شخص پر نيولو منجر شي .** [68] **خو خلك په ټوليزه توګه بې تفاوته پاتې شول .داسې فكر كېده چې دغه غچ اخيستونكى پوځ به هم لكه د ۱۸۴۲ كال غوندې تېردونكى او لنډمهاله وي، خو په څنګه چې په ښار كې په دې وخت كې د خوراك اساسي توكو په كافي اندازه بسنه نه كوله او كوم به چې وو، هغه به د زياتو پيسو په مقابل كې انګرېزانو مصرفول،بيې ډېرې لوړې شوې .**

---

[66]- بالفور –۳۶۸ مخ. هنسمين ۱۰۷۰ مخ. رابرتس ، يوځلوېښت كاله په هندوستان كې، لندن، ۱۹۷ ۴۲۲ مخ.
[67]- بالفور ، ۳۶۷ مخ.
[68]- رابرتس سكرتر خارجه ته، ( تيلګرام ) ، ۱۴ اكتوبر ۱۸۷۹، م ض س س هـ ، ۲۳توك، ۱۰۴۷ مخ. هنا ، ۳ توك ، ۹۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عين حال کي دوه کمېسيونه، يو نظامي او بل سياسي،چي هر يوه يي دري غړي دلودل، تشکيل شول . لومړی پر دې دنده گومارل شوی و، دهغو اشخاصو په اړه، چي د اعلاميي پر اساس ، د انگرېزانو په اصطلاح ( تورن ) گڼل کېږي، شواهد راټول کړي او دويم پر دې مامور شوی و، هغه کسان محاکمه کړي، چي د څېړني کميسيون د هغوی په اړه شواهد لاس ته راوړي وي .

سياسي کمېسيون له ( کولونل چارلز، کريگر، هنري بيليو او محمد حيات خان د هندي مسلمانو سياسي مرستيال، چي پر پښتو او دري ښه پوهېده ، تشکيل شوی و. په نظامي کمېسيون کي جنرال مسي او نور غړي وو. **له دې وروسته دغو دواړو کمېسيونونو داسي کړنې، چي د رابرټس د تاييد وړ وې ترسره کولې او همدارنگه په کابل کي يې د نظامي حکومت له کړنو سره سره يوه د انسان وژنې، ترور او وېرې ډکه دوره منځ ته راوړه . خو مخکي له دې چي هغوی په کار پيل وکړي؛ د اکتوبر پر ۱۶ او ۱۷ مه دبالاحصار په جبه خانه کي دوې چاودنې وشوې، عاملين يې ونه نيول شول، خو په پايله کي يې څو تنه يرغلگر پوځونه هلاك شول او گڼ شمېر جنگي توکي له منځه لاړل، چي له هغو څخه د افغانانو پر وړاندې کار اخيستل کېده . دغو چاودنو په بالاحصار کي د يرغلگرو پوځونو استوگنه له گواښ سره مخ کړه . رابرټس د نومبر پر نهمه ځان او خپل پوځونه شيرپور ( شيرآباد) ته ولېږدول، چي د بي بي مهرو د غونډۍ جنوب او لوېديځ په دوه ميلۍ کي پرته سيمه ده .**

**رابرټس د دغه پراخ نظامي استحکام د نابشپړو ودانيو د بشپړولو لپاره ډېر مواد او لرگي د بالاحصار له ودانيو څخه لاس ته راوړل او بالاحصار يې په ډېره چټکتيا سره له اساسي موادو نه تش او په ويرانه بدل کړ .**

## <u>په کابل کي د انگرېزانو بلواگرۍ او انسان وژنه :</u>

**د اعدام او ترور دوره، چي د نظامي حکومت له اعلام وروسته په کابل کي پيل شوه، د ليتن او لندن له لارښوونو څخه يې سرچينه اخيستې وه او د رابرټس د ځناورۍ او انسان ضد څېرې نښانه پکي ښکارېده . ليتن د سپتمبر پر ۲۹ مه رابرټس ته لارښوونه کړې وه، چي (( د دغه ډول جرم لپاره ( کوگناري وژنه ) له امله بايد ټول افغان ملت ته سزا ورکړل شي . )) او د دغه عمل سزا بايد هم افغان ملت ته او هم هغو کسانو ته، چي په دغه پېښه کي يې برخه اخيستې وه، ورکړل شي . عمومي مجازات د افغانستان پر تجزيې تجويز شول، چي وروسته به بحث پرې وشي او خلکو ته د سزا دورکولو په برخه کي د ليتن لارښوونه داسې وه، چي سزا بايد (( تېزه، سخته او اغېزناکه وي، پرته له دې چي افراط اوتفريط پکي وشي . )) او (( په ډېره چټکتيا سره پلې شي؛ ځکه ښايي ستاسي نامعيني کړنې د تمديد پر اساس په بهر کي د خطر زنگ وکړنگېږي . ))** [69]

**په دې اساس لکه څنگه چي هنا وايي، د ليتن د لارښوونو روحيه پر دې فريضه ولاړه وه، چي (( ښايي هر افغان د برتانيي د سفارت په نړولو کي مسوول وگڼل شي . ))** [70]

**په کابل کي د ښکېلاك دعاملينو لپاره يوه لويه معضله دا وه، چي څه ډول د قانوني کار بڼه او روحيه، معولاً په برتانيه کي له هغو وحشيانه اعمالو سره موافقه کړي، چي هغوی يې په کابل کي د ترور په دوره کي د غچ اخيستنې د حيواني حس د تسکين لپاره په قصدي توگه مرتکب کېدل او له امله يې بې گناه او بې دفاع انسان په دار ځړېدل . حتا ځينو نظامي منصب لرونکيو لکه مسي ( massy ) په ډاگه ويل (( څرنگه چي موږ يو غچ اخيستونکی پوځ يو، بايد د قوانينو دقيق رعايت ته پام ونه کړو . ))** [71] **په عين حال کي د څېړني د کمېسيون په کار کي اساسي نيمگړتيا ليدل کېده، هغوی چي د څېړني په ماموريت گومارل شوي وو، ونه توانېدل ( تورن کسان ) په مستقيم ډول تر څېړني لاندې ونيسي. هغوی يواځې پر هغو شواهدو عمل کاوه، چي حيات خان د هغوی په اړه له جاسوسانو څخه لاس ته راوړل . دا کړنه د دې لامل کېدله، چي (( تورن له هغه چانه، چي تور يې پرې لگولی وي ،بې خبره وبولي او دايي نه شوای کولای د ردولو لپاره خپل شواهد وړاندې کړي . ))**[72] **يواځې ځينې وختونه چارلزمك گريگريك د سياسي کمېسيون غړي د مستقيمې مداخلې له امله، هغه تورن کسان چي د دسمبر د**

---

[69]- نقل قول له بالفورنه ، ۳۷۲ ـ ۳۷۴ مخونه.
[70]- هنا ، ۳ ټوك، ۱۴۰ مخ.
[71]- هنا ، ۳ ټوك، ۱۴۰.مخ
[72]- هنا ، ۳ ټوك، ۱۳۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نظامي کمېسیون د اکتوبر پر ۱۶ مه پر کار پیل وکړ او د نومبر تر ۱۲ مې یې د ۲۶ ورځو لپاره په ډېره چټکۍ سره خپل کار ته ادامه ورکړه او په همغه ورځ منحل شو . رسمي اعلان داو، چې د اعدام سزا په دوو صورتونو ورکول کېږي، د سفارت د غړیو په وژنه او خیانت سره، د امیر پر وړاندې په بغاوت سره . )) [75] د امیر په برخه کې باید ووایم، چې هغه د دسمبر له ۲۷ مې وروسته د رابرتس په کمپ کې د بندي په توګه ژوند کاوه او د اکتوبر پر ۱۲ مه یې استعفا ورکړه او په دې وخت کې د هغه پر وړاندې بغاوت په عملي او قانوني توګه بې مفهومه و . خلك په بېلا بېلو نومونو اعدام شول. د بېلګې په توګه یو سړی یواځې په دې نامه، چې په دار وځړول شو، چې یوه چاقو وسره و موندل شوه چې په کالیوکې یې پټه کړې وه . [76] نور خلك په دې غرغره شول، چې یا د سفارت مالونه ورسره وموندل شول او یا یې د یرغلګرو پر ضد خلك هڅول . [77] یو شمېر هغه خلك چې یاغي بلل شوي وو او په دار وځړول شول، هغه څوك وو، چې د چاراسیاب په جګړه کې یې ګډون کړی و او یا یې نور خلك له انګرېزانو سره جګړې ته هڅولي وو، د هغوی په منځ کې کوتوال، محمد اسلم خان، خواجه محمد نظر او یو روحاني سړی، چې صاحب زاده فرح نومېده، شامل وو . [78] هغوی په حقیقت کې د یوه بهرني یرغلګر پوځ پر ضد د انساني ژوند له عزیزو ارزښتونو، لکه هېواد، خپلواکي او دین څخه دفاع کوله . د خلکو ممثلینو او استازو د هغوی په هڅونه خپلې دندې په ښه توګه تر سره کړې، په داسې حال کې چې له یوه دولت سره په جګړه کې هېچاته حق نه ورکول کېږي، چې د ملي مقاومت مشران په دار وځړوي . افغان عسکر چې په چاراسیاب کې جنګېدل او امیر یې د یرغلګرو پوځونو په نزد چې د یوه بندي په توګه یې قرار درلود اوهغه د رابرتس په باور هغوی ( افغاني عسکر ) له انګرېزانو سره مقابلې ته مامور کړي وو او یرغلګرو پوځونو د هغوی دوه واکمن بې وسلې کړي وو او دوو قانوني حکومتونو ته یې سقوط ورکړی و .[79] هنا بنایي د همدې کسانو په پام کې نیولو سره وایي، چې یو شمېر افغانان له کوم دلیل پرته نه؛ بلکې د دې لپاره غرغره شول، چې پر خپل هېواد باندې د تېري پر ضد یې مقاومت ته لاسونه بډوهلي وو . [80]**

**رابرتس د ټول اعدام شویو شمېره له هغې ورځې چې له علي خېلو یې حرکت کړی و، په کابل کې د دسمبر تر ۲۶ مې پورې ټول ۹۷ کسه ښیي [81] په داسې حال کې د فرېدرك هري سن د احصایې له مخې چې په یوه جامع مقاله ( په کابل کې نظامي حکومت ) کې دا شمېره، پرته له هغو کسانو، چې له انګرېزانو سره په جګړه کې وژل کېدل د ۱۸۸۰ د جنورۍ تر ۲ مې پورې ۱۲۲ کسه ښیي .[82] رابرتس په خپل راپوټ کې اعدام شوي کسان تر بېلابېلو سرلیکونو لاندې ذکر کړي دي او په یو بل ځای کې یې داسې خلاصه کوي : (( هغه کسان**

---

[73]- نقل قول له هنا، ۳ ټوك، ۱۴۱ مخ.
[74]-هنسمین، ۸۸ مخ .
[75] - هنسمین، ۸۳ مخ .
[76] - رابرتس لایل ته، ۱۸۷۹ د اکتوبر۹ مه ، م ض س س هـ، ټ ۲۳ ، ۱۵۸۹ مخ .
[77] - هري مس، ( په کابل کې نظامي حکومت دویمه برخه ) پنځه لس ورځنۍ مجله ، د ۱۸۷۹ د سپتمبر لومړۍ ، ۴۴۵ مخ .
[78]- ستیاو غبار له جنرال خسرو خان او سردار سلطان عزیزخان بن نواب، زمان خان هم ورکې شامل بلل کېږي خو په پټو او رسمي راپورنو او نوروناچاپوانکلیسي اثارو کې یې نومونه نه دي لیدل شوي .
[79] د هري سن مخکینۍ یاده شوه مقاله، لومړۍ برخه ، ۷۷۴ مخ .
[80] - هنا ، ۳ ټوك ، ۱۴۳ مخ .
[81] - رابرتس خارجه سکرتر ته، تیلګرام، ۱۸۸۰ د جنوري ۲۳ مه، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۳۸۳ مخ .
[82] د هري سن یاده شوې مقاله، دویمه برخه، ۴۵۷ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## <u>د افغانستان د وېشلو طرحه</u> :

**تر دې ځایه د وګړو په اړه د انګرېزانو له وحشیانه کړنو څخه بحث وشو. اوس د افغانستان په اړه د هغوی د غچ اخیستنې طرحه څېړو. لیتن لکه څنګه چې مخکې ورته نغوته شوې ده، د کوګناري له وژنې څخه تر خبرېدو وروسته د نورو اقداماتو له جملې څخه، چې لاس یې پرې پورې کاوه، یو هم د افغانستان وېشلو طرحې ته اشاره ده . دا طرحه د ده او نورو انګرېزانو په اند دامیر تر استعفا وروسته جدي تره او عملي کېدونکې و برېښېده، په ځانګړې توګه هغه وخت، چې د کابل د شاوخوا سیمو اوضاع څه ناڅه د ترور په دوره کې آرامه وه . رابرتس د اکتوبر پر ۲۲ مه خبر ورکړ (( اوس دلته بل څوك سیاسي نفوذ نه لري. زه د مرکزي حکومت د تاسیس لپاره کومه څېره او شخص نه وینم، پرته له هغو کسانو، چې د برتانیې د پوځ ملاتړ ورسره دی. دا څرګندېږي چې هر څه د وېشل کېدو په لور اشاره کوي . ))[89] لیتن البته مخکې له دې دا فغانستان د وېشلو فکر په سر کې درلود او له تفصیل څخه یې د اکتوبر پر ۱۹ مه کرین بروك ته، چې د هند چارو وزیر و، خبر ورکړ(( د خصوصي کرښو د امیر دفوري لرې کولو پرېکړه راتلونکی سیاست اساسي کوي . دغه اټکل چې د هغه جرم به ثابت شي دومره پیاوړی او په هر حال د ده په لاس راتلونکې واکمني تر دې حده ناشونې برېښېده، چې اټکل کېده د غه استعفا به د یو لړ وروستیو ترتیباتو نیول اسانه کړي . هر تردد او کمزوري په زموږ له خوا اوسمهال خطرناکه ثابته شي . موږ باید هرو مرو د افغانستان خلك ژرترژره قانع کړو، چې موږ مطلق صاحبان یو، مخالفت به تحمل نه کړو او زموږ پر وړاندې مقاومت به تباهي رامنځ ته کړي او اطاعت او معاضدت به یقیناً جایزه له ځان سره ولري .))**

**(( کندهار او شاوخوا سیمې یې باید ژرترژره په تل پاتې توګه د برتانیې په امپراتورۍ پورې وتړل شي، موږ دا سیمه په اسانۍ سره ساتلای شو . ))**

---

[83]- د رابرتس یادښت، ۱۸۸۰ د جنوري ۲۷ مه ، م ض س س هــ ۲۴ ټوك ، ۸۵۲ مخ .
[84]- هنا ، ۳ ټوك ، ۱۴۴ مخ .
[85]-هنسمین ، ۸۷ مخ .
[86]- د هري سن مخکینی یاده سوې مقاله ، لومړۍ برخه، ۷۷۹ مخ .
[87]- هنسمین، ۸۶ مخ .
[88]- د هري سن مقاله ، لومړۍ برخه ، ۷۸۳ مخ .
[89]- رابرتس خارجه سکرتر ته، تیلګرام، ۱۸۷۹ د اکتوبر ۲۲ مه، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۱۶۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(( تر هندکوشه پورې دسمیو مستقیم پیوستون ( الحاق ) غیر مطلوب دی ، خو لازمه ده په کابل او نورو مهمو عسکري نقطو کې نظامي پوستونه تاسیس شي، چې خپل لګښتونه پخپله تهیه کړي . تر هندوکش اخوا په یقین سره موږ کوم حکومتي قدرت نشو درلودلای . موږ یواځې سیاسي علویت ټینګولای شو . ))** [90]

**سراربوټ ناټ ( sir arbut nat ) د هند دولتي شورا غړی پر دې تجویز سخت اعتراض وکړ او په ضمن کې یې یو مفصل یادښت داسې استدلال کړ، چې د دغه تجویز مانا داسې کیږي چې امیر ګویا په خپلې استعفا سره، خپل هیواد برتانیې ته لیږدولی دی ، په داسې حال کې (( هیڅ واکمن واك نه لري، په خپله خوښه او عمل خپل خلك د یوه بهرني قدرت قلمرو ته ولیږدوي . )) اربوټ ناټ د خپل یادښت په پای کې هغو اصلاحي او خیرخواهي نقطو ته چې ټاکل شوې وه رابرتس د لیټن دتجویز له مخې د افغانستان خلکو ته وښیې او په هغه کې له هغه ظلم او زیږبناك څخه، چې بارکزایي واکمنو پخوا پر خلکو باندې رواه باله ، ژمنه وکړي، په سمه توګه وړاندوینه وکړه، چې آیا دا ډول د عدالت او خیرخواهۍ څرګندونه (( د قدرت د واکمن عمل پر وړاندې د پوچو او تشو تمرینونو په توګه محکوم نشي ؟ ایا د خلکو هغه غوسه، چې مخکې له هغه زموږ سره مخالفت لري او د هند نیول یې زموږ له خوا په عبوسیت سره مشاهده کړي دي، راتلونکو نسلونو ته ، پرته له دې کتلو څخه به په بل نظر وګوري ، چې موږ د یوه غیر نژاد داسې منفور فاتحان یو، چې د ملك نیولو شهرت موږ اړ کړي یو د هغوی بې حاصله او بې سرپناه هیواد ونیسو؟ ))** [91] **ممکن د اربوټ ناټ د همدې مستدلل اعتراض له امله وي، چې لیټن لندن ته په خپلو څو وروستیو یادښتونو کې د خپل لومړني تجویز قاطعیت کې تعدیل راوست او خپل تجفاویز یې د هغه څه په اړه، چې د شمالي افغانستان په نامه ورندې کړ، لنډ مهاله وباله، خو دا یې څرګنده کړه، د امیر مقام چې د استعفا له امله تش شوی و، د انګریزانو له خوا سره له دې چې موقتي هم دي باید ډك او اشغال شي او هغوی د قدرت په کړنو ( اعمالو ) کې (( څرګند، چټك او ډېر باثباته وي . )) یواځې د کندهار په نامه چې لوېدیځ افغانستان بلل کېده، لیټن صراحت کاوه چې باید یو د (( خراج ورکوونکیو هیوادونو او د هندوستان د امپراتورۍ تابع )) په توګه د افغانستان د ټولې ادارې په آیده کې د یوه واحد واکمن تر واك لاندې ناممکن وبلل شو .**

**لیټن په خپل دغه یادښت کې حتا د افغانستان له تخلیې څخه، وروسته له هغه ،پخپل لاس راوستلي چاواکي تابع واکمنان په بېلابېلو سیمو کې وټاکل شول، خبرې وکړي، خو د پوځونو وتل یې د راتلونکي کال تر مني پورې وځنډول، چې تر هغه وخته د پرلپسې لښکر کشیو په واسطه دبرتانیې زور او قدرت، د هغه په عقیده، د افغانستان خلکو ته مسلم شوی وي .** [92] **دبرتانیا حکومت د لیټن له نظریاتو سره همغږي وښووه او د دسمبر پر ۱۱ مه یې لیټن ته خبر ورکړ، چې (۹ د افغانستان د ټول پخواني سلطنت لپاره نور دیوه واحد حکومت تاسیسول ناشوني دي او دپایښت هیله ترې نه کیږي .** [93]

## د امیر تبعید:

**عجیبه ده ، یا لېرترلږه افغانانو ته دا معلومه وه، چې امیر یعقوب خان د افغانستان حکمران و ، خو هغه خپله استعفا د پردیو پوځونو یوه قوماندان ته وسپارله . امیر وروسته تر هغه پوځ او د کابل خلك د برتانیې د سفارت په نړولو، د انګلیس حکومت د خان دښمن وګرځاوه . د خلکو د غوښتنې پر خلاف یې له هغوی سره اړیکې ټینګې کړې او د خان د ساتنې او احیاناً د قدرت ساتنې په هیله یې پر یرغلګرو پوځو تکیه وکړه . داکار د هغه د واکمنۍ په اعادې ( راګرځېدو ) سره ګټور ثابت نه شو، خو د هغه د شخصي ژوندانه تضمین یې وکړ. لیټن نه غوښتل د امیر شیرعلي خان د کورنۍ هیڅ غړی هم نور د افغانستان او یا یې د یوې برخې واکمن شي او هغه وروسته له دې، چې د څېړنې کمېټې خپلې پایلې اعلان کړې، د تاج او تخت بېرته ورکول یې امیرته ناممکن وبلل . د څېړنې د کمېټې پایله دا وه چې (( امیر او د هغه نژدې مشاورین ) په دې سره چې پر سفارت باندې په تېري کې د خان سپیناوی وکړي، هغوی هغه وخت چې برید پیل شو او لایې دوام درلود، موقع کې درلودله، چې د سفارت د نجات او ساتنې لپاره په اغېزمنه توګه کار وکړي او هغوی لږترلږه د سفیر او د هغه د ملګرو په برخلیك کې بې پروا پاتې شول .** [94] **بې وسلې شوی امیر په خپل آریایي هیواد کې تر یوې میاشتې زیات نور هم د رابرتس ( مېلمه )**

---

[90]- لیټن کرین بروك ته ، تلګرام، ۱۸۷۹ د اکتوبر ۱۹ مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۱۸۷ مخ .
[91] - د سراربوټ ناټ یادښت، ۱۸۷۹ د اکتوبر ۲۲مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۱۸۹ مخ .
[92]- په بالفور کې نقل قول ، ۳۷۶- ۳۸۱ مخونه .
[93]- په بالفور کې نقل قول ، ۳۸۷ مخ .
[94] - په کابل کې د برتانیې پر سفارت دبرید راپور ، ۱۸۷۹ نومبر، م ض س س هـ، ۲۴ ټوك ، ۲۵ مخ . بالفور ، ۳۷۶ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**<u>د انګرېزانو د واکمنۍ د ټینګښت لپاره ناکامي هڅې</u> :**

**د رابرټس له راتګ سره سم د کابل ښار واقعي واکمني د هغه په لاس کې وه؛ خو د امیر د استعفا تر منلو ( د اکتوبر تر ۲۸ مې ) پورې لا هم د امیر محمد یعقوب خان د واکمنۍ تمه کېدله او د افغانستان خلکو لا هم ځانونه د یوه اسلام پال واکمن تر سیوري لاندې بلل او داسې فکر یې کاوه، چې دا استیلا به د ۱۸۴۲ د غچ اخیستنې د لښکر کشۍ غوندې لنډ مهاله او تېرېدونکې وي .**

**رابرټس د کابل د ادارې د امارت په برخه کې د یرغلګرو پوځونو د ستر قوماندان په توګه د یوه پرېکنده او وروستي تصمیم تر نیولو پورې د امارت واګې په خپل لاس کې واخیستې او وپتېیل شوه، چې د محمد زايي سردارانو ، د ښار د امامیانو او میرزایانو په مرسته به، چې ځان یې د ټولو انګرېزي چارواکو واکمن باله، اداره شي او د ځمکې د عوایدو او مالیاتو لاس ته راوړنې او د عامه شتمنیو لګښت به د هغه له خوا تنظیمېږي او هغه کسان به سزا ویني، چې د مالیاتو په ورکړه او په هغو پورې له اړوندو موضوع ګانو سرغړاوی وکړي او یا یې خنډ راولي . په عین حال کې لکه څنګه چې ژمی راتلونکی و، د خوراکي توکیو د رانیولو او حتا د سون د توکیو لپاره د نغدو پیسو لپاره ډېرې هڅې کېدلې .**

**د دغه پروګرام د پلي کولو لپاره دوې لارې په کار واچول شوې ، د کابل په ګاونډ سیمو کې د انګرېز پلویو واکمنو ګومارل او د هغوی د ساتنې او د خلکو د کرارولو او تابع لپاره د ډېرو چټکو سورو قطعو لېږل . البته د دغه پروګرام بریالیتوب په نهایت کې د انګرېزانو د واکمنۍ پر ټینګښت او پاتېدوباندې تمامېده . د (( کوګناري زیو )) په منځ کې یو شمېر خلك له رابرټس سره مرستې کولو ته تیار وو . دا به بې ځایه نه وي، ووایو چې د دغو سردارانو لوی امتیاز دا و، چې واکمنې کورنۍ ( حاکم خاندان ) ته منسوب وو . هغوی چندان شخصي لیاقت نه درلود او په قومي او ولسي خلکو کې یې اعتبار له لاسه ورکړی و؛ په ځانګړې توګه وروسته له هغه چې د پردیو یرغلګرو، خو واکمنو پوځونو سره یې په ډاګه معاضدت پیل کړ. بدبختانه د دغو سردارانو په اړوند او د دوی د دریځ په اړه معلومات زموږ په لاس کې نشته او ښایي د دوی عمده محرك شخصي ګټې وبللای شو. خو په بشپړه توګه ثابته شوه چې هغوی د رسمي مقاماتو په لټه او د امتیاز مستحق وو او د نیل بان لپاره یې انګرېزي مقاماتو ته واسطې او شکایتونه کول او هغه وخت چې په کابل، غزني، وردګو، تګاو، لوګر او ننګرهار کې د پردیو د تسلط پر وړاندې د مقاومت طرحه جوړېدله، دغو سردارانو به له پردیو پوځونو سره مرسته کوله .**

**رابرټس د نومبر په میاشت کې د کوهدامن، میدان او لوګر لپاره واکمنان د نومونو په ترتیب سردار شهباز خان [95]، سردار محمد حسن خان [96] او سردار عبدالله خان [97] وټاکل . د امیر دوست محمد خان زوی سردار ولي محمدخان، چې په (( لاټي )) سره مشهور و، د ترکستان د ولایت د واکمن په توګه ونومول شو؛ خو هغه لاهم د سفیر سرشته نیوله، چې په کابل کې د (( سپتمبر توپان )) پېښ شو . رابرټس د سردارمحمد شریف**

[95] - سردار شهباز خان د سردار محمد اکرم زوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و . مور یې د پروان له سیدانو څخه وه . پر ۱۸۷۹ کال له سردار ولي محمد خان سره یوځای د رابرټس سره دلیدني کتنې په موخه زرغون ښار ته لاړ . د خبرو کلالت یې درلود . حتا د خبرو کولو دوام ورسره ناممکن و ( ش ز س س ، ۱۸۰ – ۱۸۲ مخونه .
[96] - سردار محمد حسن خان د امیر دوست محمد خان زوی و . د غه سرادر د دې لپاره، چې د امیر شیرعلي په خدمت کې داخل شي خپل ورور یې چې د امیر مخالف و، پر ۱۸۷۱ کال یې په زندان کې وواژه . د امیر شیرعلي خان په وینا (( د هغوی مور یوه کشمیرۍ فاحشه وه، چې له هغوی څخه داسې چارې تر سره کېدلې . )) سردار محمد حسن خان د یوه افغان لپاره له حد نه زیات غوښن و. ( افغانستان د مشرانو ، سر دارانو او نور مخکښانو د ژوندانه شرحه ) ( له دې وروسته ش ز س س ، دبرتانوي هند خپرونه ۱۸۸۸، ۹۵ – ۹۶ مخونه .
[97] - دا څرګنده نه ده ، چې دا میر کومې کورنۍ ته منسوب و . په دې نامه یو بل سردار د هرات د پخواني والي سردار سلطان جان زوی و؛ خو دا سردار د انګرېزنو ډېر سخت دوښمن و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې نوي حاکمان وټاکل شول، سربېره د ځمکې د مالیاتو له راټولو يې دا هم ومنله، چې اضافي خوراکي توکي او مهمات د پیسو په مقابل کې له خلکو څخه په لاس راوړي . د هغوی په تعقیب پسې نظامي قطعې ولېږل شوې ، لومړی یوه د سپرو قطعه د بېکر تر کوماندانۍ لاندې میدان ته ننوته، چې د هغه ځای خلکو د جنرال محمدجان خان وردګ او ملا مشك عالم د پیروانو د بهرني ضد فعالیت له امله د مخالفت لومړۍ نښې راښکاره شوې. بېکر د امنیت دکلي د مشرانو د نیولو ادعا وکړه ؛ خو بهادرخان امرخېل غلجي په نرخ کې د هغه مقابلې ته ودرېد او د بېکر قطعه د بسیارمتین خان موصوف له قلعې څخه د سختو توغوندیو تر برید لاندې راغله او بېرته ناکام راوګرځېدل .[98] بله ورځ په داسې حال کې چې فردریك پخپله میدان ته لاړ ، د سوارو یوه قطعه يې چې په ټانکونو سمبال وه، د بهادر خان مقابلې ته واستول ؛ خلکو خپل پټنځایونه ( مواضع ) تش کړل او د دوښمن پوځونو لس کلي ، چې خلك پکې نه وو، ونړول او خوراکي توکیو، لرګیو او هر څه یې ته اور ورته کړ او حیوانات یې ټول چور کړل .[99] د نومبر پر ۲۷ مه بېکر د وردګو بیني بادم ته ورسېد، د کلي خلکو مېلمستیا ورته وکړه؛ وروسته چې د ملا مشك عالم پیروان نوموړي کلي ته ننوتل، له یرغلګر پوځ سره ونښتل؛ خو په شاتګ ته اړ شول ، یرغلګرو پوځونو دغه لوی کلی ټول وسوځاوه .[100] بېکر د نومبر پر ۳۰ کابل ته راوګرځېد. له هغه وروسته د ملا مشك عالم پیروانو سردارمحمد حسن خان ته له یرغلګرو پوځونو سره د لاس لرلو په تور د مرګ سزا واوروله . سردار شهباز خان په پروان کې له ۲۰ تر ۳۰ نامهم ملکان وځول، چې له رابرتس سره کابل ته لاړ شي؛ خو نورو خلکو هغه (( فرنګی )) وباله او ويې ګواښه، چې له پروان نه ووځي او که نه نو ژوند به يې له خطر سره مخ شي [101] سردار عبدالله خان هم دسله والو پوځونو د تېریو له امله لوګر پرېښود او کابل ته يې پناه یوړه .**

**په عمومي توګه د دسمبر تر ۴ مې پورې د کابل ګاونډیو سیمو کې د انګرېزانو د واکمنۍ د پایښت او ټینګښت لپاره د رابرتس هڅې نه یواځې ناکامې شوې؛ بلکې له هغه وروسته یو عمومي پاڅون راپورته شو او پر کابل يې هجوم وکړ . هنسمین د دغه پروګرام ناکامی ته په دوو دلیلونو سره نسبت ورکوي (( لومړی دا چې په ټول هېواد کې یو افغان هم دا روحیه نه لري، چې موږ دې دلته پاته شو او دویم له دې نه هم جدي تر دی، چې موږ ځانونه د یوه داسې واکمن ساتونکي بولو او هغه مو تر لاس لاندې دی او هېڅ واك او قدرت نه لري . ))[102] د هنسمین تشخیص سم دی؛ خو هغه یواځې پر کابل باندې د انګرېزانو د ولکې پر وړاندې د عمومي عکس العمل یو جز و، چې د راتلونکې څپرکي موضوع جوړوي .**

## پینځم څپرکی
## د دسمبر عمومي پاڅون

**سریزه : هغه خت چې د کابل ښار د انګرېزانو تر واکمنۍ لاندې آرام و او درباري خلکو او ځینو نورو ښارې اوبیوروکراتانو د پردیو واکمنۍ ته د تسلیم سرونه ایښې وو؛ د مقاومت زنګونه د کابل په شاوخوا سیمو کې د ولسي خلکو له خوا وکړنګول شول او د یرغلګرو نظامي قطعې يې د کابل په شاوخوا سیمو او خپله کابل کې تر سختو جګړو وروسته په شا وتمبولې او بلاخره په شېرپور کې محاصره شوې . په دغه څپرکي کې هم دا موضوع ګاني څېړل کېږي .**

---

[98] - هنا ، ۳ ټوك ، ۱۵۵ مخ .
[99] - هنا ، ۳ ټوك ، ۱۵۵ مخ .
[100]- هنا ، ۳ ټوك ، ۱۰۴ مخ .
[101] - هنسمین، ۳ ټوك ، ۱۸۲ ــ ۱۸۳ مخونه .
[102] - هنسمین ، ۹۹ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وسله والو خلکو د مقاومت لپاره هڅونې :

دا به ستونزمنه وي ووایو، چې د پردیو یرغلګرو پر وړاندې د مقاومت ولولې له کومې سیمې او د کوموخلکو په منځ کې راپورته شوې؛ خو په دې نهضت کې درې مرحلې ( پړاوونه ) لیدل کېږي . لومړۍ مرحله یې د دوښمن د پوځونو، له دویم یرغل څخه پیلېږي، دویمه هغه یې د امیر د استعفا په منلو او دریېمه یې د هغه په تعبید سره پیلېږي . د لومړۍ مرحلې ځانګړنې عمدتاً د بهرنیو پر ضد احساساتو څرګندونه او له هغه وروسته په عمومي پاڅون کې د همدغو احساساتو افاده کول وو . کله چې د انګرېزاو د دویمې لښکر کشۍ اوازه خپره شوه. د کابل پټوشویو استازو د ختیځ افغانستان په قومي سیمو کې خلك هڅول، چې وسله راواخلي او د بهرنیو پوځونو په مقابل کې مقاومت وکړي . حتا ویل کېږي چې امیر یعقوب خان د مهمندو، اپریدیو او شینواریو قومونو ته مکتوبونه ولېږل او ترې ویې غوښتل، چې سره راټول شي . رابرتس د سپتمبر پر ۱۷ مه د پکتیا له غلجیانو څخه واورېدل، چې امیر هغوی ته لارښوونه کړې، چې ټول هغه سرکونه پرې کړي، کوم چې د کرم له علي خېلو نه کابل ته غځېدلي دي . په کندهار کې د انګلیس سیاسي استازي سان جان خبر ورکړ، چې خلکو ته لارښوونه شوې وه، چې د انګرېزانو د پوځونو د پرمخیون خنډ ونه ګرځي؛ خو ځانونه د هغوی پر مواصلاتي کرښو د برید لپاره چمتو کړي .[103] دا هڅونې ښایي له هغه وروسته وي، چې ویل کېدل د کوګناري له وژنې وروسته د غلجیانو مشرانو او نورو (( په کابل کې غونډه وکړه او په هغې کې لوړه وشوه، چې د یرغلګرو پوځونو مقابلې ته به دربېږي . د محمد زیو د دو سردارانو په قول، چې نومونه یې معلوم نه دي، پخپله امیر په هغې غونډه کې شتون نه درلود او له موضوع څخه د مستوفي حبیب الله وردګ او سپه سلار داوود شاه په وسیله خبر شو . )) لکه څنګه چې ویل کېدل (( هغه موافقه وکړه، له هغوی سره د انګرېزانو پر وړاندې یو ځای شي؛ خو په کابل کې عمومي نظر داسې و، چې امیر په داسې یو حالت کې تر اغېز لاندې و، چې ممکن پر هر څه توافق وکړي . ))[104] په هر حال علي خېلو ته رابرتس ته د پلاوي په استولو سره او ورپسې د لوګر په خوشي کې د امیر په تسلیمېدلو سره له بهرنیو پوځونو سره مقاومت ظاهراً پای ته ورسېد او له هغه وروسته قومي مشرانو، مذهبي عالمانو، نظامي جنرالانو، ځینو دولتي چارواکیو او ( یعقوب زیو ) ته منسوبو سردارانو یا په وګړنیزه ( فردي ) او یا په ټولیزه توګه عملي هڅې پیل کړې او ډېر شمېر عامو خلکو یې ملاتړ وکړ .

رابرتس د اکتوبر پر ۱۶ مه څرګنده کړه چې له شك پرته د افغانستان د خلکو یوه برخه د انګرېزانو دوښمنان دي؛ خو هغه په دې ناسم فکر و، چې دا دانګلیس ضد احساسات به ښایي د وخت په تېردلو سره له منځه لاړ شي .[105] سان جان له کندهار نه خبر ورکړ، چې جنوبي غلجیان، یانې هغوی چې د کابل او کلات تر منځ پراته دي، ټول د انګرېزانو مخالف دي .[106] په عین حال کې (( ... ګڼ شمېر کسان چې ډېری یې د کابل د پخوانیو نظامي قطعو غړي وو، اوسمهال په غرونو او کلیو کې په کمین کې پټ دي . دا خلك یواځې یوه مشر ته اړتیا لري، چې جنجال راپورته کړي . ))[107] دا وضع البته د پردیو پر ضد د هڅونو پایله وه، چې مخکې پیل شوې وې . ویل کېدل چې (( افغان عسکرو، چې مخکې په کابل کې وو، د هېواد په ډېری برخو کې یې د پاڅون تخم شیندلی و .[108] منظمې هڅونې د ملامشك عالم اندړي له خوا کېدای شوای، چې خپل استازي یې د همدې موخې لپاره هر لور ته استولي وو. د زابل په کلات کې د هغه یو مخفي استازی، چې هغه پخپله هم ملا و، خلك یې د یرغلګرو پوځونو پروړاندې راپارول او د ملا مشك عالم په وینا د سواټ د اخوندصاحب زوی د خپلې سیمې خلك د انګرېزانو پر وړاندې پاڅون ته رابلل او ملا مشك عالم انګرېز پلوي مشران سرادار ولي محمد خان او د غزني واکمن سخت تقبیح کول .[109] خو د جهاد بیرغ مخکې له دې، چې یرغلګر پوځونه د لوګر خوشي ته ورسېږي، د درو پیاده قطعو او په غزني کې د یوه توپچي غونډ له خوا د لومړي ځل لپاره پورته شو او هغوی د غزني له حاکم څخه وغوښتل، چې مشري یې پر غاړه واخلي .[110] ورپسې ملا مشك عالم او د سیمې نورو

---

[103] ـ لیتن کرین بروك ته ، ۱۸۷۹ د سپتمبر ۲۵ مه ، م ض س س هـ ، ۳ ټوك ، ۵۹۸ مخ .
[104] ـ سان جان لایل ته، د هند خارجه سکرتر، ۱۸۷۹ د نومبر ۲ مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۴۲۷ مخ .
[105] ـ رابرتس لایل ته ، ( تیلګرام )، ۱۸۷۹ د اکتوبر ۱۶ مه ، م ض س س هـ، ۲۳ ټوك، ۱۱۷۹ مخ .
[106]ـسان جان لایل ته ، ( تیلګرام )، ۱۸۷۹ د اکتوبر ۲۸ مه ، م ض س س هـ، ۲۳ ټوك، ۱۱۷۱ مخ .
[107] ـ رابرتس لایل ته ، ۱۸۷۹ د نومبر ۴ مه ، م ض س س هـ، ۲۳ ټوك، ۱۴۲۳ مخ .
[108]ـ رابرتس لایل ته ، ۱۸۷۹ د نومبر ۴ مه ، م ض س س هـ، ۲۳ ټوك، ۱۴۲۴ مخ .
[109]ـ سان جان خارجه سکرتر ته ، ۱۸۷۹ د نومبر ۱۷ مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۴۲۱ مخ .
[110] ـ د غزني حاکم رابرتس ته، ۱۸۹۷ د نومبر لومړۍ ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۶۵۴ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د امیر په تبعید او د یوه پردي او نامسلمان شخص په واسطه د امارت د مقام په نیولو سره ، چې رابرتس نومېده، قومي مشرانو او اسلامي علمانو د جهاد اعلان خپله دنده وګرځوله او جنرال محمد جان خان وردګ چې مخکې (( د الوسي لښکر د برابرولو په موخه د وردګو قوم ته داخل شوی و، د خلکو په زړونو کې یې د جهاد او غزا مینه ورواچوله او غزني ته ننوت او هلته د ملا دین محمد چې په محمد مشکین مشك عالم اندړ سره مشهور و ، ملا عبداغفور لنګري او نورو سپین ږیرو، مشرانو، عالمانو، د وردګو، اندړو، ترکي، سلیمان خېلو، وزیرو، ځدرانېو، خواجه ګانو، تاجیکو او نورو قبیلو سره غونډې وکړې ... له غزني نه یې د جهاد احرامونه وتړل .[113]**

**هغه چا چې د دغې موضوع په اړوند د افغانستان د مسلمانو خلك احساسات ښه درك کړي وو او د هغه نظر موږ ته رارسېدلی دی، هغه د فراه حاکم سردار میر افضل خان و. نوموړي په یوه مفصل لیك کې خپل د تره زوی سردار شیرعلي خان ته، چې په کندهار کې انګلیس پلوی والي و، لیکلي وو چې (( ... د مذهب ساتنه پر هر مسلمان وګړي فرض ده ... او د دین ساتنه په یوه حکومت پورې تړلې ده، خو کله چې حکومت له منځه ځي، په هغه صورت کې له شك پرته به زموږ دین باقي پاتې نه شي، لکه همدا اوس چې د اختر د لمانځه اداکول بند شوي دي . ))[114] ( یعقوب زیو ) سردارانو، دکابل ښار سوداګرو او د کابل د قزلباشانو مشرانو او نورو درابرتس په نامه په یوه مفصل لیك کې، له هغه وروسته چې د امیر په استعفا ورکولو کې یې شك درلود، څرګنده کړه چې (( حتا که چېرې هغه استعفاورکړې وي، ولې د هغه زوی، چې د ټولو افغان مشرانو له خوا د هغه د ځای ناستي په توګه منل شوی و، له امارت نه محروم شي . ))[115]**

**د دغه اعتراض یوه مانا دا کېدای شوای، چې د یوه مسلمان امیر په نه شتون سره د یوه مسلمان هېواد خپلواکي له منځه تللې او دا حالت دخلکو لپاره د منلو وړ نه دی . په هر حال د عمومي جهاد تر اعلان پورې د غزني، وردګو ، لوګر، کوهستان، تګاو نجراب د سیمو خلك د یرغلګرو پروړاندې سره یو موټی شوي وو، حتا د نومبر په منځنیو ورځو کې ملامشك عالم دېری خلك د دغې موخې لپاره راټول کړي وو .[116] هغه د نومبر تر وروستیو پورې په وردګو کې و او استازو یې په کوهستان کې د خلکو په هڅولو لاس پورې کړی و، چې له امله یې د کوهستان ، کوهدامن او تګاو خلك چمتو او عملیاتو ته تیارشوي وو[117] . د کوهستان او کوهدامن خلك د میر بچه او سرورخان پرواني په مشرۍ د نومبر پر ۲۹ مه په شیرپور کې پر یرغلګرو پوځونو باندې تېري ته تیار وو او محمد عثمان خان صافي تګاو له خپلو پیروانو سره په ځان پسې کړی و.[118]**

**په عین حال کې د وردګو خلکو د لوګر خلك جهاد ته راوبلل او ویې هڅول .[119] حتا کله چې د ږوب د سیمې کاکړ د غلجیانو له پاڅون نه خبر شول، له کفارو سره د مقابلې لپاره یې د کندهار له والي سره د ۶۰۰۰ جنګیالیو د لېږلو ژمنه وکړه .[120] البته د کندهار انګلیس پلوي والي هغوی د هڅونې پرځای زړه توري کړل . د نومبر په پای کې د غزني د سیمو ۷۰۰۰ جنګیالیو د احمدخان، امین خان او عبدالقادر تر مشرۍ لاندې د غزني انګلیس پلوی حاکم حاجي محمد سعید له محاصرې وروسته له هغه ښار نه تېښتې ته اړ کړ .[121] په دې ډول هندوستان**

[111] ـ د غزني حاکم محمد سعید اغاز رابرتس ته، ۱۸۷۹ د نومبر ۳۰ مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۶۵۱ مخ .
[112] ـ سراج التواریخ، ۳۵۳ مخ .
[113] ـ سراج التواریخ، ۳۵۵ مخ .
[114] ـ سردار میرافضل شیرعلي خان ته، ۱۸۷۹ د نومبر ۲ مه ، ی ك ۱۸۷۹ د دسمبر ۸ مه ، م ض س س هـ ، ۳ ټوك، ۱۷۹۹ مخ .
[115] ـ افغان مشران رابرتس ته ، لایل ته درابرتس په راپورکې، ۱۸۷۹ د دسمبر ۳۰ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۶۴۲ مخ .
[116] ـ ی ك ، ۱۸۷۹د نومبر ۱۵ – ۱۹ ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۵۹۹ مخ .
[117] ـ رابرتس لایل ته ، ۱۸۷۹ د نومبر ۲۹ مه، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۶۳۱ مخ
[118] ـ ی ك ، ۱۸۷۹ د نومبر ۲۹ مه ،م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۶۰۷ مخ
[119] ـ رابرتس لایل ته ، ۱۸۷۹ د سپټمبر لومړۍ ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۶۳۱ مخ
[120] ـ رابرتس لایل ته ، ۱۸۷۹ د سپټمبر ۳ مه ،م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۶۳۲ مخ
[121] ـ د غزني حاکم رابرتس ته ، ۱۸۷۹ د نومبر ۳۰ مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۶۵۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د انګرېزانو دفاعي لشکر کشي :

**د نومبر پر ۲۵ مه له میدان څخه د رابرتس تر راګرځېدلو وروسته اوضاع په کابل کې ظاهراً ارامه، خو کړکېچنه شوه . له هر چا اورېدل کېدل، چې له یرغلګرو سره د مقابلې وخت رارسېدلی دی او د شیرپور مستحکمه چهاوني به د شپې له خوا د افغان جنګیالیو تر ګوریلایي بریدونو لاندې راشي . د کابل ښار صرافانو چې ډېری یې اهل هنود وو،ویل چې د تګاو او کوهستان خلک چې په سرای خواجه کې راټول شوي وو، ښایي هره شېبه د شیرپور په مقابل کې راڅرګند شي . جنرال داوودشاه چې په دې وخت کې د انګرېزانو په خدمت کې و، رابرتس یې وېراوه، چې عمومي پاڅون نژدې او دا پاڅون د هغه څه پر خلاف چې ویل کېدل افغانستان له مشرانو څخه محروم شوی، د یو شمېر مشرانو له خوا رهبري کېده .** [122]

**رابرتس د دفاعي ترتیباتو نیول حتمي وبلل. هغه ته څرګنده وه، چې ځلوېښت کاله وړاندې د برتانیې یو قوي پوځ په همدغه غرني هېواد کې له منځه تللی و. په دې اساس یې هڅه وکړه چې د ځلوېښت کاله پخوا د یرغلګرو پوځونو قوماندان جنرال الفستن پر خلاف ځان په دې بحراني ورځو کې اغېزناك ثابت کړي . رابرتس لومړی د یوه ستر حکمران په توګه په شیر پور کې دربار تشکیل کړ او له هغه مخکې یې وړاندیز کړی و، چې خلك خپلواك دي، چې خپل غوښتنلیکونه هغه ته وړاندې کړي ، خو داسې یې هېڅ هم ونه کړل .** [123]

**رابرتس چې څنګه د دسمبر پر ۴ مه خبر تر لاسه کړ، چې کوهستانیانو د هجوم اراده کړې ده او ملا مشك عالم له خپلو جنګیالیو سره له بیني بادام څخه ارغندی ته راغلی دی د دفاعي عملیاتو د نیولو په اړه یې تصمیم ونیو او له خپلو همکارانو سره یې په یوه علمي شورا کې دې پایلې ته ورسېد، چې د افغانستان جنګیالي مخکې له دې، چې کابل او شیرپور له خطر سره مخ کړي ، باید د توپخانې اوسوارو په اغېزمنو او چټکو عملیاتو سره مغلوب شي . په دې اساس د میکفیرسن تر قوماندانی لاندې یوه نظامي قطعه د ناناچي ( د باغ بالا د غاړې ) د کوتل له لارې د چهاردهي د وادي په لور او بله قطعه یې د جنرال بېکر تر قوماندانی لاندې د سنګ نوشتې د تنګي او د لوګر د چهل دختران له لارې د میدان په لوري ولېږله .چې افغانان په ارغندی کې له اړخه او د شا له لوري تر برید لاندې ونیسي، په عین حال کې یوې قطعې ته، چې په جګدلك کې وه، لارښوونه وشوه، چې په بېړه کابل ته راشي .**

**خو میکفیرسن ته هماغه وخت، چې له افشارو یې حرکت پیل کړ، لارښوونه وشوه، چې خپله موخه ( تګ لاره ) بدله کړي او د سره کوتل ( خیرخانې د کوتل ) له لارې پر کارزمیر او کوهستان هجوم وروړي او د هغه ځای جنګیالي مخکې له دې چې د میدان له جنګیالیو سره یو ځای شي ، تیت و پرك کړي . میکفیرسن هغه کوهستانیان چې په کارزمیر کې راټول شوي وو، د لنډ وخت لپاره تیت و پرك کړل، خو له هغه وروسته متصل په بېلابېلو محاذونو کې مجاهدینو په ځانګړې توګه په ارغندی کې کلك مقاومت پیل کړ، چې د رابرتس ټول جنګي پلانونه یې له ماتې او ناکامی سره مخ کړل .**

**دا ممکنه نه ده، هغه وړې او لویې جګړې چې د دسمبر له ۱۱ – ۱۵ پورې په کابل او شاوخوا نژدې سیمو کې د افغانانو او انګرېزانو ترمنځ پېښې شوې، په دقیقه او مفصله توګه بیان کړو ، خو د دغو جګړو عمومي شرحه حتمي ده . د همدې جنګونو له امله وه، چې وروسته د افغانستان په اړه د برتانیې په تګلاره کې بدلون راغی، چې وروسته به بحث پرې وشي . د دغو جګړو د دقیق بیان د ناممکنوالي عمده لامل د افغاني سرچینو محدود والی او برعکس له حده زیات د انګرېزي سرچینو مفصل والی بلل کېدای شي . د دغو پېښو شرحه له سراج**

---

[122]- هنا ، ۳ ټوك ، ۱۶۱ مخ .
[123] - هنا ، ۳ ټوك ، ۱۶۲ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پر کابل د تېري پلان:

د ۱۸۷۹ کال د دسمبر په دويمه اونۍ کې، کابل د جنوب، لوېديځ او شمال له لوري د افغان جنګياليو تر بريدونو لاندې راغلی، چې پردي يرغلګرو وباسي او يا يې د مقابلې په صورت کې له منځه يوسي. د لوګر، زرمت، منګل او ځدرانو خلك د جنوب له لوري د لوګر له خوا، د کوهدامن، کوهستان، تګاو او نجراب خلك د شمال له لوري او دميدان وردګو او غزني خلك د لويديځ له لوري پر يو وخت په کابل ور وخوځېدل[124] په لنډه توګه د ميدان جنګيالي د جنرال محمدجان خان وردګ په قوماندانۍ د ارغندی د چوك له لارې قاضي کلا ( قلعه قاضي) ته ننوتل، وروسته له هغه چې يرغلګرو پوځونو ته يې ماتې ورکړه، ځانونه يې په چټکۍ سره دهمزنګ او کابل ته ورسول. د شمالي قواوو د ميربچه خان بابه قشقار او محمد سرور خان پرواني په مشرۍ د کاريزمېر او اسمايي غره له لارې او جنوبي قوواوې د غلام حيدرخان چرخي تر مشرۍ لاندې د هندکي، ويسل آباد، د همزنګ او د بني حصار د يوې برخې له لارې کابل ته راننوتلې.

## د قاضي کلا جګړه:

هغه پېښې چې د دغه عمومي هجوم په پايله کې د افغان جنګياليو او بهرنيو يرغلګرو تر منځ پېښې شوې ډېرې زياتې دي. د انګليس نظامي ليکوال هنا، هغه پېښې چې د سمبر پر ۱۱ مه په قاضي کلا کې رامنځ ته شوي، راسې بيانوي:

(( ډېره موده لا نه وه تېره شوې، چې ټول افغان پوځونه چې صف جلوي يې نژدې دوو ميلوته رسېدله او په داسې حال کې، چې سره سپين او آبي بيرغونه يې په لاسونو کې وو او هغوی يې سواره، په ستايلي ډول رهبري کول، يوځل بيا يې د يوه قوس په بڼه په پرمختګ پيل وکړ او موخه يې ظاهرا دا وه چې د برتانيې پوځونه احاطه کړي او له شيرپور نه وباسي. مسي (massy ) په دې هيله چې د توپونو اور او غرزهار افغان جنګيالي ووېروي وي، خپل ټانکونه يې نور هم قاضي کلا ته نژدې کړل او هغوی يې جګړې ( عمل ) ته راوبلل، لومړۍ د دو نيمو زرو او وروسته د دوو زرو ګزو په واټن سره؛ خو دا کار اغېزناك تمام نه شو په هغو ځايونو کې به چې دټانګ ګولۍ لګېدلې، افغانان به د يوې شېبې لپاره تيتېدل؛ خو احاطه کوونکی خوځښت په ښه توګه پر مخ تللو. مسي د دې لپاره له هغه خطر څخه چې هره شېبه يې دوی ګواښل، نجات ومومي؛ ځان يې اړ وباله، چې په بېړه په شاتګ وکړي او د کابل سيند له يوه مرستيال سره، چې د افغانانو له لومړۍ ليکې څخه ۱۷۰۰ ګزه لرې و، د څلورم ځل لپاره ځای پر ځای شي، په دې وخت کې د افغانانو د ټوپکونو ګولۍ د هغوی د ټانکونو شا و خوا لګېدلې. ګو ( Gougu ) چې له خپل لانسرز ( Lancers ) پوځ سره د دښمن کيڼ اړخ ته د خوځون په حال کې و، په همدې موقع کې يې پر سورو جلويانو هجوم ور وړ؛ سره له دې چې له هغوی نه يې يو شمېر ووژل او يو بېرغ يې لاس ته راوړ؛ په دې ونه توانېدل چې د عمده لښکر پر مخيون ودروي. ټانکونه څو څو ځله شاته و تمبول شول او په لنډ واټن کې به يې پر دښمن ( افغانانو ) ګوزارونه کول، هغوی چې په لوړو اوازونو سره الله، او بسم الله ويل، په وېرووونکيو نارو سره پر مخ تلل او په هره ناره سره به وړاندې تلل.

مسي د وروستۍ مايوسۍ چاره په دې کې وليده چې د نهم لانسرز ۳۰ سواره پياده کړي او د ټانګونو په شاتګ مصئون وساتي، خو څنګه چې له هغوی سره د کارابين ټوپکونه وو پر شاوخوا ګڼو ډلو يې اغېزه ونه کړه او

---

[124]- د افغان دويم جنګ رسمي شرحه، ۲۴۹ مخز رابرتس، ۴۲۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی په مخکې افغان پوځ قرار درلود چې د جنګي کتارونو په شکل وړاندې تللو، ببرغونه يې خوځول او د برياليتوب نارې وهلې. په داسې حال کې داسې انګېرل کېدل، چې د بې خبرۍ په حال کې به په ارغندۍ کې له منځه لاړ شي. د دغه لښکر په څنګ کې ټانکونه او سورې او کچرې توپخانې د تېښتې په حال کې وې. او هغوی سره له دې چې په خپل حال نه وو، پاتې، له دې نه عاجز شوي وو، چې د هغو زرګونو کسانو مخه ونيسي، چې د ناناجې د کوتل په لور د پرمختګ په حال کې وو، دا هغه هدف و، چې بايد پرېښي يې نه وای؛ ځکه چې تر شا يې شيرپور واقع و او هلته د غلو دانو، علوفه اوسون توکيو زياتې ذخېرې پرتې وې.

رابرتس په ډېره چټکۍ سره هيوګو ( hagh gough ) ته چې هغه يې د چهاوني د آمر په توګه پرېښې و، يو ليکنې امر ولېږه او هغه ته يې لارښوونه وکړه، چې له ياد شوي کوتل څخه ساتنه وکړي. په عين حال کې يې مسې ته يو ګړنی امر وکړ او له هغه يې وغوښتل، چې پر دوښمن بريد وکړي. که چېرې د هغوی پرمختګ درولای نه شي، لړ لړ خو يې وځنډوي.... عموما داسې انګېرل کېدله چې، ( شيرپور) له لاسه وتل، د رابرتس د ټولو پوځونو د نابودۍ په مانا دي. چې نه به ورته د راټولېدو کوم ځای او نه به هم ورته خوراکي توکي پاته شي... د نهم لانسرز يوه قطعه په داسې حال کې چې کلي ليند( Cleland ) هغه په ځانګړي ډول رهبري کوله او د بنګال څوارلسمو لانسرونو هغه حمايه کوله مستقيما د جنګياليو په لور وروخوځېدله چې هغوی يې تر اور لاندې نيولې وو، او دګو په رهبرۍ قطعه د دې په لټه شوه چې د دښمن يو وزر په يوه هجوم سره مغشوش کړی. د وېرونکيو ټوپکونو تر بريد لاندې راغلل او ډېری سرتېري په چټکۍ سره د ليدونکيو له سترګو په دواړو او غبار کې ورك شول. وروسته له دغو څپو( موجونو) څخه آسونه راڅرګند شول، چې په ټوپونو ټوپونو ببرته راغلل، پر ځېنو څوك سواره هم نه وو او پر نورو هم خلك داسې سواره وو، چې ځانونه يې د اس له زين سره سم کړي وو.... دغه بريد عمومي وضع هېڅ د ښه والي لورته يونه وړله.))

(( رابرتس په داسې حال کې چې دتوپچيانو بد حالت يې وليد او اميد يې د هغه اميد پر بنسټ چې بايد ټانکونه نجات ومومي؛ کفتان سيستوارت – ميکنزي چې د نهمو لانسرونو قومانده يې پر غاړه وه، د دويم مارش امر وکړ امريې ومنل شو؛ خو هغو عسکرو چې جرئت يې له لاسه ورکړی و او پر اسونو ستړي سواره وو او دهغه څو تنه منصب لرونکي پاتې وو، چې رهبري يې کوله دا ورته په ډاګه شوه چې پر افغانانو يې هېڅ اغېزونه شوای شيندلای.[125]

او د سمايت ونډهم (smith wind ham) مرسته د دې لپاره چې ټانکونه له خندق نه تېر کړي، په دې منجر شوه چې په هغه کې ولوېږي.... بل کار پاتې نه شو، پرته له دې چې دغه ټانکونه، په کوم ځای کې چې لويدلي وو، مبخ کړي او هغو په خپله ځان ته د امکان په صورت کې نجات ورکړي. له دې وروسته يوه وېرونکې صحنه واقع شوه ځېنې سواره باغونوته ننوتل او ځېنو د رابرتس لاره غوره کړه او ورسره څو تنو منصب لرونکيو د جنوبي ديوال

---

[125]- هنسمين دا پېښه داسې بيانوي: (( کله چې دوړې له منځه لاړې. وليدل شول، چې سواره ټولې پر دښمن هېڅ اغېز نه دی شيندلی او هغوی لا هم په مېړانه سره د کشتلت زار په لور په داسې حال کې چې تورې او چاړې يې اړولې را اړولې او خپل توغونه يې په ډېر غرور سره له ځان سره وړل، خپل پرمختګ ته ادامه ورکوله، سواو خلکو يې له يوه کتار نه بل ته ټوپونه وهل، حرکتونه يې رهبري کول او هغوی يې منظمول.)) هنسمين، ۱۹۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د همزنګ ته انګرېزي پوځونو تېښته:

(( د غه عملیات په دې اواره برخه کې سره له دې چې پر ماتې پیل شوي وو، تر هغه ځایه چې فاتحانو ته اړوند وو، یوازې یوه ضمني پېښه بلل کېده، یوازې له هغوی څخه په هغه کې ( شهم*) نیولې وو. او عمومي لښکر د ناناجي د کوتل په لور د پرمختګ په حال کې و. څنګه چې د هغه ۱۰۰۰ ګزي واټن ته ورسېد، پرمختګ یې ناڅاپه ودرېد او تر لږ ځنډ وروسته کیڼ اړخ ته راوګرځېد او له ټول لښکر سره د دهمزنګ د تنګي په لور وخوځېد. محمد جان د کوم دلیل له مخې چې مشوشو لیدونکو ته څرګند نه شو، له لومړي پلان ( شیرپور باندې له هجوم) څخه راوګرځېد او تصمیم یې ونیو چې د کابل د ښېردروازې لوړې ونیسي. انګرېزانو د څو شېبو لپاره په آرامۍ سره ساه وایستله؛ خو رابرټس پوهېده، چې شیرپورته مهلت ورکړل شوی دی، نجات یې نه دی موندلی؛ ځکه چې د ځواکونو د وېشلو په حالت کې یې د ښار له لارې پر شیرپور برید باید د یو مستقیمې او توندې حملې په پرتله له خطرو کم ونه ګڼل شي؛ هغه د دې موضوع پر پوهېدو، تصمیم لاره، چې په بهر کې د هغوی د مېړانې، مهارتونو او احساساتو په ساتلو سره وکولای شي، له ښار څخه د هغوی له داخلېدو مخنیوی وکړي.([126])

ماتې خوړلي رابرټس، چې خپل پلانونه ناکام ولیدل، لومړی پر خپلو هغو افغان متحدینو چې په دهمزنګ کې ورسره وو، او د سدار ولي محمد خان په مشرۍ ( د کوګناري زو) ته منسوب له یوې ډلې سردارانو څخه جوړ وو، غوسه وکړه. هغوی له داوود شاه سره (( د خپل هېواد له دښمنانو سره مرسته کړې وه او اوس یې ځانونه د خاینینو د محکومیت په خطر کې لیدل.)) [127]رابرټس (( دغه بدبختان د ناسمو اطلاعاتو په ورکولو سره سخت وځپل.)) [128] هغوی د ځان د سپیناوي لپاره همدومره وویل، چې دوی ته ناسم اطلاعات رسېدلي وو، سره له هغه هم رابرټس قانع نه شو او (( هغوی یې تر بل هر وخت نه زیات نګران او متاثر پرېښوول؛ ځکه داسې ښکارېده چې که هر لوری په دغه جګړه کې بریالی شو، هغوی به د خپل خیانت سزا ووینې.)) ([129]) خو رابرټس په هغه فرصت کې له سختې ستونزې سره مه و، چې هغه د افغان جنګیالیوپه شا تمبول وو او هغوی انګرېزان په خپله د ښار د ننه ګوابښول او دغه کار له دې امله اړین وبلل شو، چې د جنرال مسي د قطعې تښتېدونکیو، چې ځانونه یې شیرپورته رسولي وو د افغانانو د قوت او ]ټکتیا وېروونکې خبرونه یې ورکړي وو، په دې اندازه چې (( چهاوني پوځ په یوه داسې خطرناك حالت کې قرار لري، چې که هیو بې تجربې سړی وای هغو تیت پرك کېدل. )) [130] په دې اساس د های لندرز ( High Landers ) په نامه قطعې په شمول ځینې قطعې دځان د تقویې لپاره د همزنګ ته احضار کړې. په عین حال کې یې هغې قطعې ته چې دلته بند په سه باباي کې د کولونل جینکنز په قوماندانۍ مستقره شوې وه، لارښوونه وکړه، په چټکۍ سره د هغه مرستې ته ورودانګي.

د د همونګ د وخت پر سر د مرستندویه پوځونو وتل په ځانګړې توګه د براون لو ( Brown low ) په قوماندانۍ د قطعې وتل، د دې لامل شو چې افغان عمده لښکر د جنرال محمد جان خان وردګ په مشرۍ وروسته له

---

[126]- هنا، ج ۳، ۱۷۶ ــ ۱۸۲ مخونه.
[127]- هنا ، ج ۳ ، ۱۸۲ مخ.
[128]- هنا ، ج ۳ ، ۱۸۲ مخ.
[129]- هنا ، ج ۳ ، ۱۸۲ مخ.
[130]- هنا ، ج ۳ ، ۱۸۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شاه د تخت د نیولو لپاره راخ و ډب

د شاه تخت تر دې مهاله د انګریزانو د یوې قطعې د قوماندان رابرتس په لاس کې و او هغه له دغه لوړ تخت څخه د خپل لښکر او افغانانو حرکتونه، چې په قاضي کلا او چهاردهي حوزه کې واقع شوي وو؛ د برېښنايي هنداري په واسطه خپلو مراجعو ته مخابره کوله.[131] د افغانانو د پرمختګ د شېبې په راتګ سره د بالاحصار په لور ودرېد او بل اړخ ته، وحشت ځپليو انګریزانو، د رابرتس په ګډون په شیرپور کې پناه واخیستله. په دې ترتیب د دسمبر یوولسمه د انګریزانو په ماتې او د افغانانو په چټك پرمختګ او بې شانه بریالیتوبه سره پای ته ورسېدله. یرغلګرو پوځونو ۷۱ تنه مړي او ۵۲ تنه ټپیان پر ځای پرېښوول او د افغانانو تلفات حتما ښايي ډېر وي، ځکه چې ډېری یې بې وسلې، نامنظم او شمېر یې ډېر و.

د دسمبر ۱۲ مه د شادتخت د جګړې ورځ وه. د دغې ورځې په پای کې به وورسته له هغه چې انګریزانو ته زیاته مرستندویه قوه ورسېدله او توپونو یې له حاکمه نقطه څخه پر افغان سنګرونو د شیردروازې لاندنی برخې په پر له پسې توګه تر برید لاندې ونیولې . افغان جنګیالي پر شا وتمبېدل خو د په شاتګ دوام یې ستونزمن، بلکې ناممکن و، او ډېره ژر له لوګر او کوهستان څخه ملاتړي پوځونه ورسره یو ځای شول او له سنګ نوشتې نه تر بیني حصار پورې یې موقع ګانې ونیولې، په داسې حال کې چې د محمدجانخان ملګري ( معیتي ) جنګیالي د شیردروازې د جنوبي لوړو په اوږدو کې، چې چهاردهي له کابل څخه بېلوي، سنګرونه نیولي وو، [132] په مقابل اړخ کې یوه مرستندویه قوي قطعه چې جنرال بیکر یې قومانداني پر غاړه درلودله او د تېرې ورځې په ماښام له میدان نه شیرپور ته رارسېدلې وه، بالاحصار ته ننوتله، څو نورې قطعې د ګایډز ( Guides ) په نامه او د ګورګه یانو قطعې یې تقویه کړې. د سپتمبر پر ۱۳ مه له هر لورې د شاه د تخت د نیولو هڅې پیل شوې.

د ټوپکونو متنوعو ډزو، د توپونو غرزهار او د الله اکبر تورو نارو فضا کې انګازې خورې کړې وې، او غرونو کې هلکانو ترانې ویلې. په داسې حال کې چې د یرغلګرو پوځونو هر قدم د هغې لوړې سطحې په لور شاته اخیسته او د افغان جنګیالیو له زړور او بې شانه مقاومت سره مخ وو، هغوی بالاخره د همغې ورځې په نیمایي کې هغې سطحې ته ورسېدل. خو د انګلیس د عسکرو د ا پر مخیون یوازې سیمه ییز اهمیت درلود او ګڼ شمېر مجاهدین له هر لورې ډلې ډلې په ډېره مېړانه سره د شیرپور او ښار تر منځ په هوارو سیمو کې راڅرګند شول، یو له بل سره یې د سیاه سنګ د غونډیو لورته پرمختګ پیل کړ او هم یې د شمال ختیځ له لورې شیرپور له ګواښ سره مخ کړ، د انګلیس سوارو او توپچي قواوو د بالاحصار له محاذ او د شا له تخت نه هغوی چې غالبا د بیني حصار له لورې د سیاه سنګ خواته د پرمختګ په حال کې وو، تر بریدونو لاندې ونیول. هنا لیکي (( په دې مقابله کې قومي خلکو بې شانه مېړانه، عزم او زړورتیا وښووله، سره له دې چې درانه تلفات ور واوښتل.)) د هغوی یو شمېر لا هم په هر تنګي او ژوره کې ځانونه ټینګ کړي دي او څنګه چې دلته ډېر له تعقیب څخه په امن کې پاته شول. پر لنډ مهاله فاتحانو یې ژوندی او تودې ګولی وورولې . )) [133]

## د اسمایي غره اخ و ډب:

رابرتس په دې فکر و، چې د نن ورځې ( د سپتمبر ۱۳ ) عملیاتو د افغان قومونو یووالی له منځه یوړ او ګڼ کسان بېرته خپلو کورونو ته وګرځېدل، د های لیندرز (Highlanders) غبنتلي قطعې یې شیرپور ته

[131]- هنا ، ج ۳ ، ۱۸۶ مخ.
[132]- هنا ، ج ۳ ، ۲۰۲ مخ.
[133]- هنا ، ټوک ۳ ،۲۰۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سهار يې ( د دسمبر ۱۴ ) له بېلابېلو قطعو څخه يوې سورې اشغالي قوې د جنرال بېکر تر قوامادانی لاندې د هغوی پر وړاندې په د همزنګ کې پر سختو عملياتو پيل وکړ. په لومړي سر کې غلبه د هغوی په نصيب شوه؛ خو د ورځې يوې بجې ته نژدې له هندکي او چهاردهي څخه د ډېر زياتو مجاهدينو په راتګ او له کوه بچه مخروطي څخه د کوهستانيانو خوځښت انګريزي پوځونه په شا و تمبول؛ خو محمدعثمان تګاوي په همدغه ورځ ووژل شو. مجاهدينو له شمال، لوېديځ او جنوب له لارې برياوې لاس ته راوړې او انګليسي پوځونو له څرګند تفوق، توپخانې، وسلو، نظامي توکيو او دسپلين سره سره لکه د سل اوبو پر وړاندې د خسو او خاشاکو غوندې تېښته وکړه او د رابرټس په خپله وينا د دې لپاره چې (( لويه چهاوني وساتل شي او له بې ځايه وژنو څخه مخنيوی شوی وي.)) [134] ټولو قطعو ته لارښوونه وکړ، چې د شيرپور چهاونۍ ته پناه يوسي.

د هغه استدلال داسې و، (( د سپتمبر د ۱۴ مې تر غرمې پورې زه هېڅ په دې فکر نه وم، چې هغوی دې وکولای شي، دومره ډېر خلك راټول کړای شي. او دليل راسره نه و، چې د هغوی لپاره ممکنه وای، د بادسپلينه پوځونو مقابلې ته درېدلې وای؛ خو هغوی له داسې لارې چې مخروطي ډوله غونډۍ يې بېرته ونيوله. د خپل قوي عزم او ارادې اندازه يې وښودله او زما باور يې د خپل واړه پوځ له قابليت سره، زموږ د ډېر پوځ د شمېر په برابر ولړزاوه...) [135] د همغې ورځې په دوو بجو يې د تيلګرام په واسطه ليتن ته خبر ورکړ(( موږ ټوله ورځ له سهار نه جنګ پيل کړی: په پيل کې مو ستر برياليتوبونه لاس ته راوړل خو دوښمن په داسې شمېر سره پر مخ راتلو، چې ما تصميم ونيو، خپل پوځ د شيرپور په چهاونۍ کې راټول کړم او د ښار او بالاحصار لوړې له لاسه ورکړم او زما لپاره ممکنه نه ده، داسې يو پراخه دريځ په لاس کې ولرم، په داسې حال کې چې دوښمن دومره زيات دی، ښاغلی جلالتماب تاسې پر هغه څه چې زما لپاره ممکن دي ډاډه کېدای شئ ، خو زه تاسې ته وړاندوينه کوم، چې زما لپاره به ممکنه نه وي، هغه څه چې بايد ويې ښيم، ترسه يې کړای شم؛ مګر په دې چې نور پوځونه مې ملاوتړي او ژرترژره راولېږل شي. ما مخکې د اربوټ ناټ قطعې ته لارښوونه کړې وه، چې ژر تر ژره له جلال آباد نه د کابل په لور راوخوځېږي [136] د همغې ورځې په ماښام يې د يوه تيلګرام په واسطه له وايسرای نه مرسته وغوښتله او په هغه کې يې څرګنده کړه (( زما په فکر ټولې هغه مرستې چې تاسې يې رالېږلی شئ، زه ورته اړتيا لرم. جګړې د ورځې له لسو بجو نه تر ماښامه دوام وکړ، د دښمن شمېر زيات و او ښايي د ۳۰۰۰۰ کسانو په شاو خوا کې به و او ډېر مصمم وو. )) [137]

## شپږم څپرکی

<u>په کابل کې افغان جنګيالي او په شيرپور کې محاصره شوي انګريزان</u>

سريزه:

په دې څپرکي کې په شيرپور کې د يرغلګرو پوځونو په محاصرو کېدو او په ښار کې د مجاهدينو د کړنو هپ اړه بحث کېږي، د عمومي پاڅون مشران معرفي کېږي، په جګړه کې د ښځو ونډه، د عمومي پاڅون لاملونه، له شيرپور څخه د يرغلګرو پوځونو وتل او پر کابل باندې د هغوی مجدد مسلط والی او د افغان جنګياليو په شاتګ تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

[134]- هنا ، ټوك ۳ ،۲۱۴ مخ.
[135]- له هنا نه نقل قول، ۳ ټوك، ۲۱۳ مخ.
[136]-د ليتن په تيلګرام کرين بروك ته د رابرټس نقل قول، ۱۸۷۹ د دسمبر ۲۸ مه، م ض س س ه، ۲۴ ټوك، ۵۷ مخ.
[137]- هنا ، ټوك ۳ ،۲۳۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د د سمبر د عمومي پاڅون لاملونه:

په تاريخ کې يوه مهمه موضوع په تېر مهال کې د انسانانو د تولیزو کړنو د لاملونو موندل دي، په ځانګړي توګه د هغو انګېزو درك کول، چې انسان د هغو له امله د ژوند با ارزښته نعمت، ياني خپل خوږ په قصدي توګه له ګواښ سره مخ کوي او له خپلو عزيزو ارزښتونو څخه د دفاع په پار، ځاربېدنې ( قرباني) ته حاضرېږي. لکه څنګه چې په مخکيني څپرکي کې وليدل شول، د ۳۰۰۰۰ په شاو اخوا کې افغان جنګيالي، چې لکونه نور انسانان يې تر شا ولاړ و، د کابل د شاوخوا سيمو او کليو څخه، يا له چاړو سره، يا له چاقو، ټوپك او يا هم خالي لاس او يا له رنګه بيرغونو سره، خو په هر حال له عزم او جزم سره ه کابل په لور وخوځېدل، تر څو هغه انسانان، چې د هغوی په فکر ناموس ته ( په عمومي مفهوم) لاس اچولی و، او په مساوي اندازه د هغوی د ورکولو تصميم ورسره و، له خپل هېواده وباسي او د مقابلې او مقاومت په صورت کې د ژوندانه له نعمت نه محروم کړي؛ ولې؟

د دې پوښتنې ځواب په لنډه توګه په هغه ليك کې نغښتی، چې د يو شمېر افغان مشرانو ( ملايانو، نظامي منصب لرونکيو او خانانو) له خوا رابرتس ته لېږل شوی و. په هغه کې راغلي وو، چې د کوګناري له وژنې وروسته (( امير له خپل زوی او مشرانو سره په خوشي کې برتانوي کمپ ته لاړ، څو دوستي پياوړې شي او اختلاف او دوښمني له منځه لاړه شي. هغه ټول پوځ، په هر ځای کې چې و، او ټولې سيمه بيزې قواوې، په هر ځای کې چې راټولې شوې وې رخصت کړې. کله چې د برتانيې پوځونه راننوتل، امير بندي شو، مالونه يې غصب شول او کورنی ته يې سپکاوی وشو. ))

(( سربېره پر دې برتانويانو پر دې پيل وکړ، چې ګنهکار او بې ګناه کسان ټول يو شان ووژني او هره ورځ شل يا دېرش کسه غرغره کړي، هغوی په دې کيسه کې نه وو، چې ويني دې توی کړي، ملکيتونه چور کړي او کورونه وران کړي. په دې اساس خلك ووېرېدل او پاڅون يې وکړ او تصميم يې ونيو، چې له انګريزانو سره وجنګېږي. ))

(( جګړه د دواړه لوريو له ويني توېيدنې پرته بله ګټه نه لري. په دې موضوع کې مسلمانان دومره کلك هوډ لري، چې دې ته حاضر دي، خپل ځانونه ځار کړي.))138

له دغه ليك نه جوتېږي، چې اميرمحمد يعقوب خان د افغانستان د مسلمانو خلکو د امير په توګه له يرغلګرو پوځونو سره په تړاو د پېښو او تاريخ عمده محرك و. لکه څرنګه چې له مخکينيو پاڼو څخه سړی پوهېږي، يعقوب خان د ګندمك تر تړون پورې د افغانانو په نزد، د هغه د شهزاده ګی پر مهال د مېړانې د سابقې له امله د يوه قانوني امير په توګه دروند ګڼل کېده.

هغه هم په دومره کچه چې (( د زمري زوی )) به يې هم ورته ويل؛ خو د خپلو مشاورينو د مصلحت پر خلاف د معاهدې د تړون او د لوګر په خوشي کې د انګرېزانو کمپ ته په ورتګ سره خلك ورنه زړه توري شول او حتا مخ يې ورنه واړاوه، لکه څنګه يې چې رابرس د غه مطلب پخپله په دې ټکو کې څرګند کړی : (( تر هغه وخته چې زه په يوه ځای او بل ځای کې جنګېدلم، هغوی زه ښه ليدلم، څنګه چې زه امير شوم او د هغوی خير مې له تاسې سره په پام کې ونيو، زما پر ضد شول . )) 139 دا ضديت تر دومره کچې پورې و، چې حتا هغه ته يې لکه په تېر څپرکي کې وويل شول (( کافر )) ويل . عامه ذهنيت داسې و، چې اميريعقوب خان له انګرېزي عسکرو سره په يوځای کېدلو سره، چې د افغانستان ځينې برخې يې نيولې وې او د دغه هېواد مسلمان وګړي يې په بېلا بېلو نومونو او حتا د امير پر وړاندې د بغاوت په نامه وژل، نوريې د امارت واك او وړتيا له لاسه ورکړې وه؛ خو دهغه په استعفا او تبعيد سره د خلکو ذهنيت د هغه په اړه په اساسي توګه بدلون وموند او د امير عبدالرحمن خان تر واك ناستې پورې يې د هغه پر امارت ټينګار کاوه او قرباني يې ورکړې .

---

138- لايل ته د رابرتس په راپور کې د افغان مشرانو ليك، ۱۸۷۹ د دسمبر ۳۰ مه، م ض.س س هه. ۲۴ ټوك، ۶۲۴ مخ.
139- له رابرتس نه نقل قول، ۴۱۴ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه سلوك د بدلون لپاره دوي دليله شته . خلكو ته په ډاګه شوه، چې امير يعقوب خان د بهرنيو يرغلګرو له غوسې سره مخ شو او د هغوى په خپله وينا د ده مرستې ته راغلي وو او په پايله کې يې له خپل پلرني ټاټوبي وشاړه د افغانانو انساني عواطف سره له دې، چې د جګړې پر مهال لکه د نورو خلکو غوندې؛ بلکې له هغوى نه ډېر بې رحمه او سخت زړي وو؛ د امير د دغه مظلوميت پر وړاندې په جوش راغلل او دغو احساساتو د هغوى په کړنو کې انعکاس وموند؛ خو له دې مهم د افغانستان د خلکو د مسلمانو خلکو په توګه د امير دريځ، ياني د هغه سياسي شخصيت و . په افغانستان کې هم د هر اسلامي هېواد غوندې اميرالمومنين، چې د مومنانو د واکمن لقب دی، د (( خدای د سيوري )) او د (( روسول نايب )) بلل کېده.[140]

او د هغه شتون د لوړو سياسي چارو د تنظيم لپاره، د ديني فرايضو اداکولو او له اسلامي ټولنې او حقوقو څخه دفاع ؛ د ټولو هغو وسايلو او لوازمو چې په لرلو سره، چې د اسلامي شريعت د خورولو ( تنفيذ ) لپاره اړين بلل کېدل او په نه شتون او يا په کوم بل بهرنې او نامسلمان شخص باندې د هغه تعويض ته حضار نه وو؛ خو دا چې د هغه منلو ته اړ شي . هنسمين ليکي : (( هر ډول مستبد چې په افغانستان کې واکمني کړي، رعيت يې هر وخت دا غوره ګڼلي، چې د هغه تر واکمنۍ لاندې مصيبتونه وګاللي او بهرنۍ لاس وهنې ته تسليم نشي . ))[141]

نو دا عجيبه نه وه، چې افغانان د ا مير استعفا اجباري بلله او په دې اند وو چې (( پاچاه له دراني خاندان څخه اړيکې شلولې . ))[142] هغوى داسې استدلال کاوه، چې که د امير استعفا د هغه په خپله خوښه وای، بايد د هغه ځای ناستی ټاکل شوی وای او د تخت پر ګدی ناست وای . په دې اساس هغوى د انګرېزي لاسپوڅو ( عمالو ) پر دغو ژمنو باور نه کاوه، چې د کابل او د کابل او پېښور تر منځ پرتو سيمو نظامي اشغال د لنډ وخت لپاره دی.[143] په بل عبارت افغانانو د امير تر تبعيده پورې هم خپل هېواد نيول شوی او بې اميره باله، خو د هغه په تبعيد سره اغېزمن شول، لکه څنګه چې هنسمين ليکي (( د دغه تبعيد خبر ډېر ژر په کابل کې خپور شو او مسلمان خلك ډېر زيات ناارام او اغېزمن دي . ))[144] د دغې اغېزې شدت دومره زيات و، چې په پايله کې يې د دسمبر عمومي پاڅون د وردګو، تاجيکو، اندړو او نورو قومونو د مشرانو په قول، د ملامشك عالم، محمدجان خان، غلام حيدرخان چرخي او سردار محمد طاهرخان په ګډون، چې ټولو ځانونه د (( مسلمانانو سرلاري او مشران )) بلل،ترسره او امير مستقيماً تبعيد او د اسلامي عقيدې جوش په خلکو کې راپيدا او د انګرېزانو د بدنيتی پر وړاندې راپورته شي .

هغوى د ۱۸۷۹ په جنورۍ کې رابرتس ته وليکل : (( کله چې ستاسې د بدنيتی خبر خپور شو، امير ته د وفادارۍ او اسلامي عقيدې احساس پر موږ غلبه وکړه او ستاسې پر وړاندې مو پاڅون وکړ . اوس ښايي برتانيې ته د اسلام زور څرګند شوی وي . ))[145] شاه غاسي محمد يوسف خان دا ټولې ستونزې او جنجالونه يوه (( د کفر او اسلام )) موضوع بللې ده . پخپله رابرتس هم په دې اند دی چې (( دا خوځښت ( نهضت ) د يوه مذهبي احساس پر اساس ولاړ دی . ))[146]

رابرتس په يوه مفصل يادښت کې چې د عمومي پاڅون په اړه يې برابر کړی، د امارت د موضوع په برخه کې يو شمېر نورو موضوع ګانو ته هم اشاره کړې او د هغه له دې ليکنو جوتېږي، چې د يرغلګرو پورځونو له خوا د افغانستان اسلامي هېواد داشغال او په افغانستان کې د همدې قواوو د شتون موضوع د ټولو موضوعاتو په سر کې راځي، سره له دې، چې هغه په دې نامه هغه نه يادوي . هغه ليکي : (( د تېر سپتمبر له پېښې او زموږ د استازي له وژنې وروسته د برتانوي پوځ پرمختګ دوني چټك و، چې افغانانو يې پر وړندې د مخالفت فُرصت په ځان کې ونه ليد. په چاراسياب کې هغو عسکرو چې د وژنې په پېښه کې يې لاس درلود او د ښار ناخوښه خلکو يې ملاتړ کاوه، په څرګنده توګه د جګړې په اوار ميدان کې مغلوب شول ، تنظيم او ترتيب يې د يوه وسله وال پلاوي په توګه له منځه لاړ او مشرانو يې د ځان د ساتنې په پار تېښته غوره کړه. همدارنګه په غالب ګومان سره څرګندېږي، چې په

---

[140]- کاکړ محمد حسن، د امير عبدالرحمن خان د امارت په دوره کې د افغانستان حکومت او ټولنه، د تکساس د پوهنتون خپرونه، ۱۸۷۹، ۷- ۱۱ مخونه .
[141]- هنسمين، ۹۹ مخ .
[142]- شاه غاسي ، محمد يوسف د زميندارو اليزايي صاحب خان ته، ۱۸۸۰ د جنوري ۲۷ مه، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۱۴۷۱ مخ .
[143] - هنسمين، ۲۸۴ مخ .
[144] - هنسمين ، ۱۷۵ مخ .
[145]- رابرتس خارجه سرکتر ته ( تيلګرام ) ، ۱۸۸۰ د جنورۍ ۲۳ مه، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۳۸۴ مخ .
[146]- شاه غاسي د زميندارو اليزايي صاحب جان ته، ۱۸۸۰ د جنورۍ ۲۷ مه، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۱۴۷۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( له دې وروسته داسې پېښه شوه، چې د چاراسیاب تر عملیاتو وروسته یوه د شك او توقع مرحله رامنځ ته شوه، افغانان د پېښو ( وقایعو ) په تمه شول او هغه وخت، چې په هغه کې کوم ملي نهضت ممکن وای، لا نه و رارسېدلی . خو څو پېښو دې ځنډ ته دا ځانګړتیا وروبښله، چې له شك پرت یې ملي غرور اغېزمن کړ او له هغه څخه د برتانیې د حکومت مخالفینو د دیني احساساتو د پارونې او شدید تعصب په هڅونه کې په څرګنده توګه ګټنه وکړه، چې د افغان کرکټر یوه قوه ځانګړنه یې د تل لپاره تشکیل کړه . ))

(( د یوه پردي پوځ له خوا د شیرپورد قوي حصار شبیح اشغال، چې امیر شیرعلي خان د خپل پوځ لپاره جوړ کړی و؛ د قوي توپخونو، زیاتو جنګي مهماتو په خپل واك کې راوستل ( تصرف )، چې د افغانانو نظامي قدرت یې په د اسیایي ملتونو په منځ کې په یوه نامساوي کچه لوړ کړی و؛ په هغو اقدامونو سره، چې د دغه ملت د بالاحصار د تاریخي مانۍ او د پاچاهانواو اشرافو د قصر د نړولو لپاره یې کړي وو ؛ او بلاخره د امیر یعقوب خان او د هغه د مهمو وزیرانو بندي کېدل او هند ته د هغوی په تبعید سره، ټولو یو بل ته لاسونه ورکړل، هغه کرکه چې هغوی یې د یوه یرغلګر په وړاندې لرله، په کلکه توګه تحریك کړه .

**او ځنګه چې د خلکو طبیعیت او مزاج دا ډول و، څرګنده وه، چې یواځې متقابل حسادت او بې باوري، چې د مشرانو ترمنځ یې لیدل کېده، د دې مانع کېدله، چې زموږ پر ضد ګډه داعیه تشکیل کړي . دا هم څرګنده وه، چې که داسې احساس د هغوی په منځ کې پیدا شي، [redacted] ممکن هغوی په خپل منځ کې داسې یو قوي خوځښت رامنځ ته کړي ، چې موخه یې له هېواد څخه زموږ ( انګېزانو ) ایستل وي . دا ډول محرك په دې عواملو سره برابر شو : دملا مشك عالم ... پر مذهبي احساسانو ولاړو ویناوو، د هر کلي او ښار په مسجدونو کې د انګرېزانو عمومي تقبیح،له عامه احساساتو سره د یقوب خان د کورنۍ د ښځو التماس ، د پټو خزانو توضع چې په لاس کې یې وې ، او بلاخره د برانوي کمپ په چور کې د برخې اخیستنې توقع، لنډه دا چې ملایانو پر اوضاع د غلبې لاسونه پورته کړل او ځنګه چې پر دغه کار بریالي شول ، چې شخصي دوښمنۍ یې له بهرنیو دوښمنانود حسن تنفر تابع وګرځولې . دغه نهضت ډېر ژر له مذهبي مرحلې واوښت او دانګېرېزي یرغلګرو پر وړاندې د یوه ملي نهضت په توګه بدل شو . د ۱۸۴۲ – ۱۸۴۱ د میصیبب خاطرو ته یو ځل بیا رجوع وشوه . پر دې ټکي ډېر ټینګار وشو، هغه څه چې یو ځل پېښ شوي وي، د دویم ځل لپاره بیا تکرارېږي او خلکو ته ډاډ ورکړل شو، چې هغوی یواځې فوراً او په عین وخت کې پاڅون وکړي ، ممکن د انګرېزانو وړوکی لښکر، چې په شیرپور کې پروت دی ، راوو‌ځي او د تېر په شان د صعب المرور کوتلونو په لور چې افغانستان اوهندوستان سره بېلوي په شاتګ وکړي او له منځه لاړ شي . ))** [147]

**خو رابرټس ښایي د یوه بل عمده پاڅون موضوع یا یو محرك قصداً له پامه غورځولی وي او هغه د افغانانو له اعدام څخه عبارت و، چې په تېروپاڼو کې شرحه شوي دي . یو څو اضافي تبصرې دلته ضروري دي، ځنګه چې انګرېزي چارواکي د نظامي حکومت په جریان کې د هغو اشخاصو نیولو لپاره، چې د کوګناري په وژنه کې یې برخه درلودله،پیسې ورکولې . له دې امله ډېری خلك د شخصي دوښمنیو په اساس یې خپل رقیبان په خطر کې واچول[148] او د کار د نویو مخالفتونو او دوښمنیو لامل شو، چې اصلي عاملان یې پخپله انګرېزان و . او د افغانانو د کرکې لوری واقع شول . په عین حال کې د هغو اشخاصو پر سر جایزه چې، له یرغلګرو پوځونو سره جنګېدلي وو، له خپله انده اود خلکو له انده د تحسین وړ وګڼل شول . په دې توګه دغه اعدامونه په واقعیت کې د افغانانو پر خوی تر ګردو غوره ضربه ګڼل کېدل چې له (( وطن او خپلواکۍ سره د مینې )) نه عبارت دي [149] او ښایي له همدې امله وي، هغه افغانان چې په دار ځړول کېدل، هغه به یې پرته کش و پش څخه منل او ځان به یې د وطن، خپلواکۍ او دین دلارې شهید باله . البته دا د افغانانو د هغو خویونو ښکارندوی وو، کله به چې مظلوم واقع کېدل او ملګري او هېوادوال به یې د پردیو له خوا وژل کېدل، چوپ وو، او ځنګه به یې چې**

---

[147] - د فغان _ انګلیس دویمې جګړې له رسمي شرحې نقل قول ، ۲۴۹-۲۴۷ پورې .
[148] - عین الوقایع ، ۱۸۸ مخ .
[149] - هنا ، ۳ ټوك ، ۱۰۴ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دسمبر د پاڅون مخکښان :**

**دا پاڅون له مخکي چې وویل شول د دوامدارو تحریکاتو یوه نتیجه وه،چې د یرغلگرو پوځونو په رانئوتلو او بلکې تر هغو وړاندې د بهرني خطر د احساس کېدلو پر مهال د امیر شیرعلي خان د واکمنی په وروستیو کلونو کې پیل شوي وو .د دوښمنو پوځونو له یرغل سره سم مسلمانانو په جوماتونو او نورو مواضعو کې خلك له یرغلگرو سره جگړې ته رابلل کېدل او د قران کریم هغه ایتونه به لوستل کېدل، چې مسلمانانو ته به یې ښوول چې د بې دینو پر ضد وجنگېږي ، دیني عالمانو به افغانانو ته (( وعده ورکوله، چې که هغوی په پوره ایمان او منظمه روحیه پر کفارو باندې تېری وکړي، مرمی به هېڅ اغېزه پرې ونه کړي، نېزې به هغوی غوڅ نه شي کړای او چیني به یې چې د توپونو مخې ته وغورځول شي، له فیر او گوزار څخه به مخنیوی وکړي . ))[151] د دغه ډول وعظونو له امله وه، چې دد انگرېزانو پر وړاندې دمقابلې احساسات را تاوده کړل او خلك را پورته شول او د جگړې د لومړیو لیکو مخکښان شول .[152]**

**د چاردهي په عملیاتو کې داسلام بیرغچیانو ، حتا هغه مهال چې د دوښمن سوارکارانو پر هغوی ډزې کولې هم پر مخ تلل او سره له هغه چې ډېر مړه هم شول ، نور پر خپلو ارادو او عزم کلك پاته شول . هغه مهال د انگرېزانو د نهمې قطعې یوه عسکر د یوه افغان مخکښ په لور نېزه ورسیخه کړه، خو هغه افغان له د کب په څېر په ډېره چټکۍ سره لول وخوړ، نېزه یې ترې واخیستله او د چاړې په وهلو سره یې هم د نېزه باز گوتې پرې کړې او هم یې میله پرې کړه، تابه ویل چې له کومې نرمې مادې څخه جوړه شوې وه .[153] د دسمبر پر ۱۳ مه کله چې د های لینددرز ۹۲ قطعې د شاه پر تخت سخت تېری وکړ ، د افغان مخکښانو ډلې په خپلو مواضعو کې ټینگې او پرځای پاتې شوې، په داسې حال کې چې ډېری ملگرو یې تېښته وکړه ، تر هغه چې د دوښمن د نېزو او ټوپکونو ترسختو گوزارونو لاندې راغلل او له پښو وغورځېدل .[154] په بله ورځ د محمد جان خان وردگ ټولې بریاوې د افغان مخکښانو د مېړانې د زعامت مرهون و ، سره له دې چې ډېری دغه سفیدجامکان مخکې له دې چې بریالي شي ، له منځه لاړل . کله چې انگرېزان د ورځې په نیمایي کې د اسمایي د غره پرېښوولو ته اړ شول ، دغه سفیدجامکان لومړني کسان وو، چې د تېرو پر سرونو راځرگند شول او (( هغوی په داسې حال کې چې د لیندرز او گایدز قطعې د تېښتې په حال کې وې، خپل بیرغونه یې پر اسمایي غره پورته کړل، له هره پلوه د ستاینې وړ وو . ))[155]**

**په دې ډول سرتېرو سره باید ډارن هم پر مخ تللای او هغه وخت چې دغو سرتېرو د اسمایي غره څوکه نیوله او له هغه ځایه یې لیدل، چې د نړۍ د یوه لوی قدرت پوځونو د شیرپور په لور تېښته کوله . دغه شېبې باید ارومرو د هغوی لپاره د ویاړ او خوښۍ وړ وای .[156] هنسمین زیاتوي (( یو داسې پوځ چې زموږ پر وړاندې له دې ډول اشخاصو څخه جوړ وي؛ حتا زموږ لوړې وسلې او قوي دسپلین هم ښایي بسنه ونه کړي .[157]**

---

[150]- هنا ، ۳ ټوك ، ۱۴۹ مخ .
[151]- هنسمین ، ۳۳۵ مخ .
[152]- هنسمین ، ۳۳۶ مخ .
[153] - هنسمین ، ۳۳۷ مخ .
[154]- هنسمین ، ۳۳۷ مخ .
[155]- هنسمین ، ۳۳۷ مخ .
[156]- هنسمین، ۳۳۷ مخ .
[157]- هنسمین ، ۳۳۸ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **په جګړه کې د افغانو ښځو رول :**

**په عمومي توګه ښځې د جګړې په ورځو کې د نارینه وو مرستیالانې وي او په جګړه هغوی ته اوبه او خوراکي توکي د جګړې ډګر ته رسوي او په دې توګه هغوی ته د جګړې ورتیا ورکوي. ښځې چې پخوا په عمومي توګه په ستر او پرده کې وې؛ د جګړې پرمهال یې موقتاً چادرې ګانې لرې کولې او په ازاده توګه به یې خپله دنده ترسره کوله (( ډېری هغوی د ( دسمبر ) په جګړه کې برخه واخیستله . ))** [158] **د ریاضي په وینا د دسمبر پر ۱۴ مه د اسمایي غره په اخ و ډب کې (( نژدې ۴۰۰ ښځو غازیانو ته اوبه ورکولې او ۸۳ کسه وژلې شوې هم وې . ))** [159] **ښځو د دسمبر پر ۱۱ مه د باغبان په اونچي کې او وروسته د چهلستون او چاراسیاب په کلیو کې به چې انګرېزي پوځونه تېرېدل، هغوی پرې د کوزیو او ګړیو ګوزارونه کول .** [160]

**هغه ځایونه د (( غازي ادې )) په نامه مشهور شول. ښځو په جګړه کې نارینه سخت هڅول ، لکه څرنګه چې مهیج عبدالله او د کابل د عاشقانو و عارفانو د زهری له کیسې څرګندېږي .** [161] **ویل کېږي چې افغانې ښځې له انګرېزانو سره د جګړو پر مهال د شپې له خوا د جګړې ډګر ته تللې، د وژل شویو یرغلګرو نه به یې سرونه پرې کول، ټپیان او هغوی چې د جګړې په حالت کې به وو، هغوی به یې وژل .** [162]

**د امیر یقوب خان مور او مېرمن، چې په ترتیب سره د سعادت خان مومند او سردار یحیٰ خان لونې وې، وروسته له هغه چې امیر د یرغلګرو پوځونو لاس ته کېښوت، پر ټینګو فعالیتونو یې لاس پورې کړ؛ افغان مشران یې تر خپل نفوذ لاندې راوستل او په دې لار کې یې ډېرې پیسې ولګولې او د انګرېزانو پر وړاندې یې د هغوی په هڅولو کې ډېر منډې ترړې وکړې .** [163] **هغوی او د سردار یحیٰ خان مېرمن چې د وزیر محمد اکبر خان د لور په نامه مشهوره وه (( تر هغه ځایه چې په وس او توان یې پوره وه، شور او ځوړ ژوندی او لوړ وساته . )) چې وروسته رابرټس ورته د تبعید سزا واوروله .** [164]

**د امیر یقوب خان د مور په اړه ویل کېدل چې یوه ډېره فعاله مېرمن وه او خپله شتمني یې د یرغلګرو پوځونو پر وړاندې د افغانانو هڅولو ته وقف کړې وه او د محمد جان خا وردګ په وسیله او (( ملامشك عالم او د هغه د عالمانو، د مذهبي احساساتو څپه، چې د جهاد په اعلان سره په جوش راغلې وه، هغه لور ته سوق کړه، چې لمسې یا زوی ته یې د سلطنت دبېرته اعادې ته خدمت وکړي .** [165]

**افغانان په ځانګړې توګه دیني پوهانو د بهرني ګواښ پر مهال خلك هڅول، چې پردي د هغوی دین او ښځو ته سپکاوی کوي . دا ډول هڅونې د افغان – انګلیس په دویمه جګړه کې هم عامې وې .** [166] **خو د دغو هڅونو په یو علت قوي غبرګونونه راونه پارول، چې انګرېزي لاسپوڅو ( عمالو ) دا ځل د خپلې پاینې ( اقامې ) په لړ کې، افغانو ښځو ته له لاس اچولو ځانونه وساتل . هغوی دغه احتیاط د هغې ترخې تجربې له امله، چې د افغان _ انګلیس په لومړۍ جګړه کې، چې په لړ کې یې ښځو ته په لاس اچونې سره له شدید غبرګون سره مخ شوي وو، ته پاملرنه وکړه . په دویمه جګړه کې د ښځې په اړوند یواځېنۍ سیاسي مسئله، تر پاڅون وروسته له بالاحصار څخه شیرپور ته، چې د انګرېزي پوځونو نوې اډه وه او لوی شور ماشور یې راپورته کړ؛ د امیر یقوب خان د کورنۍ محترمانه لیږدونه وه . لکه څنګه چې ریاضي وایي : (( او د نامسلمانو دوښمنانو په لاس د**

---

[158]- هنسمین، ۲۲۷ مخ .
[159]- عین الوقایع ، ۱۹۰ مخ .
[160] - ربښتیا ، ۲۵۷ مخ .
[161]- غبار، ۶۲۹ مخ .
[162]- مارتین، فرانك، د مطلقق العنان امیر د واکمنۍ پر مهال ، لندن، ۱۹۰۷، ۲۲۷ مخ .
[163] - هنسمین ، ۳۱۳ مخ .
[164] - رابرتس خارجه سکرتر ته ، ۱۸۷۹ د دسمبر ۲۴ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۶۲۲ مخ .
[165]- هنسمین، ۲۵۶ مخ .
[166] - ۳۳۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاڅون مشران :**

**لومړی ټکی چې د دسمبر د پاڅون په برخه کې د يادونې دی، دادی څنګه چې پاڅون اصلاً د ولسي خلکو له خوا و، دا بديهي وه، چې بايد مشران پخپله رهبران هم واوسي . خانداني سرداران او هغه سرداران چې د دود اورواج له مخې منل شوي وو، تبعيد شوي وو او د کابل نور ډېری سرداران انګليس پلوي وو او د خلکو عمومي باور يې له لاسه ورکړی و . د نامشهورو سردارانو له جملې څخه ځو تنه د انګرېزاو سخت دوښمنان وو او د پاڅون له مشرانو څخه ګڼل کېدل . ددې واقعيت يوه مانا دا کېدله چې د مقاومت مشران لا هم د خلکو په منځ کې د مشر ( زعيم ) په توګه منلي او پېژندل شوي نه وو .**

**د دې لپاره چې په هغه عنعنوي ټولنه کې د لېدر په توګه د عوامو او خواصو له خوا دمنلو وړ وګرځي، وخت ته اړتيا وه** او دا د سردار عبدالرحمن خان تر ظهور پورې د مقاومت د نهضت د کمزورئ يو مهم ټکی ګڼل کېده. د دغه واقعيت بله مانا دا وه، چې د مقاومت د مشرانو شمېر ډېرو. په دې نهضت کې سربېره قومي او او ديني مشرانو، د امير شيرعلي خان د ټيت و پرك پوځ قوماندانان د جګړې د مشرانو د يوې مهمې سرچينې په توګه ثابت شول، چې د خپلو جنګي مهارتونو په کاراچولو سره يې د افغانانو جنګي وړتيا په ځانګړې توګه په نامنظمو جګړو کې وښووله.

هغه مشران چې د کابل په حوزه کې خلك د يرغلګرو پوځونو سره د جګړې په موخه د هغوی تر شا ودرېدل . دا لاندې کسان وو: ملا مشك عالم، جنرال محمد جانخان، جنرال غلام حيدرخان چرخي، ميربچه خان. محمدسرور خان پرواني، محمد عثمان خان صافي، سردار محمدحسن خان او سردار محمدطاهر خان. دلته د هغوی لنډې سوانح پر کابل د هغوی د بريالي هجوم او انګريزي پوځونو تر محاصره کېدلو پورې راوړل کېږي.

ملامشك عالم چې اصلي نوم يې دين محمد و، د غزني د شلګر د سيمې د غلجي اندړو قوم ته منسوب و. پر ۱۷۹۰ کال زېږېدلی و او د ژوند ډېره برخه يې د ديني علومو په زده کړه تېره کړې وه. لومړئ يې له ملامحمدواصل کاکړ څخه ديني زده کړې وکړې او وروسته لغمان ته لاړ او هلته د مياصاحب په کلا کې له ملا عبدالحکيم آخوندزاده څخه دوه درې کاله خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، وروسته پېښور ته لاړ او هلته يې د ۱۸۴۵ په شاوخواکې له عبدالمالك اخوندزاده څخه پوهه ترلاسه کړه. بيا ځو ځله ملاعبدالحکيم ته ورغی او د هغه له مړينې وروسته يې د ميا محمد اسلم خان لندر باغ شاګردي پيل کړه او د غه متنفذ عالم يې د خليفه په توګه غوره کړ. له هغه وروسته يې له حاجي تاج محمد خان سره، د پوشه ګار pushagar د کافرستانيانو سره په جګړه کې مرسته وکړه. له ملامشك عالم نه تر دې مهاله يو تکړه او جيد پوه جوړ شو او په غزني، وردګو، لوګر، کلات او جلال آباد کې ډېر شاګردان او مريدان موندلي وو، او د مولیانو لپاره يې مدرسه پرانيستې وه.

ملا مشك عالم له انډې او مهمندې ښځې څخه درې زامن درلودل، چې دوه تنه يې عالمان هم وو، چې له هغه سره يې د مذهبي تعليماتو په خپرولو کې مرسته کوله. ملامشك عالم د کابل له دربار سره هم تړاو درلود. او امير شيرعلي خان، سره له دې چې هغه ته په پټه (( سوداګر)) ويل، هغه ته يې پټ معاش هم ورکاوه. ملامشك عالم له خپلو پيروانو څخه نذرانه او ډېرې نغدې پيسې راټولولې. ويل کېدل هغه به کله چې خپل کوم مريد ليده، د نذرانې په توګه به يې يو څه ورنه اخيستل. (( له يوه نه يې چېنه ترلاسه کوله، له بل نه پيسې او له دريم نه پګړئ او همداسې نور. )) هغه په شلګر کې د ډېرو ځمکو خاوند و او پر ځمکو باندې د ماليې له ورکولو څخه معاف و.

ملا مشك سربېره پر دې له شاګردانو، مريدانو، ښو اړيکو، په ديني علومو کې بصيرت، شخصي تقوا او په کابلستان او ننګرهار کې عمومي صورت تمول له لارې په ځانګړې توګه، د غلجيو او مهمندو د قوم په منځ کې

---

[167]- عين الوقايع ، ۱۸۸ مخ .

[168]- د تفصيل لپاره ، په ۲۹ مه پېرئ کې په افغانستان کې د ښځې دريځ ته مراجعه وکړئ، زما کتاب (( د امير عبدالرحمن خان په دوره کې د افغانستان حکومت او ټولنه . ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال محمدجانخان وردګ د یرغلګرو پوځونو پر وړاندې په مبارزه کې د ملا مشك عالم ډېر نژدې ملګری و. له شخصي پلوه یې له هغه سره ډېر توپیر درلود. محمدجانخان اصلا یو عسکر او جنرال و او ښایي پوهه یې دومره نه وه؛ خو د جګړې په ډګر کې د پردیو پر ضد د لوړ احساس درلودونکی افغان و. په ځانګړې توګه د پوځ هغه برخه وه، چې د انګریزانو سخت مخالف و. هغه هم د ملامشك عالم په څېر زیات پلویان درلودل. او د جګړې په پای کې یې دومره محبوبیت ترلاسه کړ، چې د کابل عادي خلك هغه ته د یو پیر په توګه قایل شول. هر چېرې به چې تله، خلك به پرې راټولېدل او لاسونه به یې د احترام او کرامت په دود ښکلول. محمدجانخان په ننني عبارت د هېوادپالني او بهرنیانو ضد، سمبول و. محمدجان د سیدال خان وردګ زوی و او د قوم مشري همیشه د هغه پر غاړه وه؛ خو یعقوب خان تر خپل ناستي وروسته، د هغه کاکا خدای نظر خان چې د امیرشیرعلي خان په وخت کې د غزني حاکم و، د قوم د خان لقب یې ورکړ او هغه د ګندمك له تړون وروسته د کولرا ناروغۍ له امله مړ شو او د قوم مشري د محمد جانخان او د هغه د مشر ورور محمد افضل خان پر غاړه شوه هغوی د مور له خوا نایب امین الله خان لوګري ته منسوب وو.

محمد جانخان یو ډېر احساساتي سړی و، په دومره کچه چې امیر شیرعلي خان (( لېونی )) باله، خو همدغه ( لېونی) د پوځ قطعو په خپله خوښه د ګوګناري. له وژني وروسته هغه د غټ مشر (( جنرال)) په توګه وټاکه. او په دې ډول هغه د افغانستان لومړنی غوره شوی نظامي منصب لرونکی وي. جنرال فریدرك رابرتس چې د محمدجانخان د مخالف لوري همقطاری و، ښایي د هغه په اړه یې څرګند ( افاقي ) نظر درلوده، چې ویلي یې وو (( که څه هم هغه باید ځېني خویونه ولري او له ټولو هغو څه نه چې زه یې اورېدلای شم، هغه داسي یو څوك نه دی، چې خلك ورته تسلیم شي، یا احتمالا هغه پر هغوی باندې کوم واقعي قدرت پیدا کړای شي. هغه په تیرو څو میاشتو کې د قدرت د شرایطو په واسطه، نه د کوم لوی مغز با استعداد په درلودلو سره د مخالفینو یو ممثل شخص شوی دی. ))[171] خو واقعیت دا دی چې محمدجان د ټاکلو له وخت نه تر مړینې پورې یې له امیر عبدالرحمن خان سره د ۱۸۸۱ په دسمبر کې د ابدیه کوتل کې چې په بلخ کې شتون لري، نه یواځې په جګړو کې او انساني سرچینو په تجهیز کې لویې بریاوې لاس ته راوړې، بلکې د همدغو جګړو په لړ کې، له افغانستان څخه د یرغلګرو پوځونو تر وتلو پورې د غزني، کوهستان او وزیرستان دسیمو ترمنځ د خلکو په یووالي او اتحاد کې د افغانستان په تاریخ کې بې شانه مرستې کړې دي او خپل شخصیت یې په یوه بحراني حالت کې دیوه جنرال او لیډر په توګه ثابت کړ.

جنرال غلام حیدرخان چرخي دعصمت الله زوی و . د یوسفزیو ته اړوند د څرخ له لویو ملکانو څخه و. د هغه د ځوانۍ د وخت په اړه معلومات نشته ، یو څه باسواده و او د جګړې په پیل کې په علي مسجد کې د افغان پوځونو کوماندان و . امیر یعقوب خان له ګندمك څخه تر راګرځېدو وروسته د هغه رتبه راکښته کړه . نوموړي د چاراسیاب په جګړه کې برخه واخیسته او په عمومي پاڅون کې د څرخ، منګلو، ځدرانو او نورو قومونو رهبري پر غاړه درلودله او د انګلیس له سرسختو دوښمنانو څخه و .[172]

---

[169]- مشك عالم لیپل ګریفن، ۱۸۸۰ د جون ۱۹ مه، سروو، ۲۶ ټوك، ۲ جز، ۲ مخ.

[170]- د مشرانو د ژوندانه شرح، د افغانستان سرداران او نور، ( له در وروسته ش زس س ا) د برتانوي هند د حکومت خیرونه، ۱۸۸۸، ۱۴۳ ــ ۱۴۵ مخونه.

[171]- رابرتس خارجه سکرتر ته ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ ۱۹ مه، م و س س ه، ۲۸ ټوك ، ۱۴۷ مخ.

[172]- پر ۱۸۸۰ کال په اوړي کې له سردار عبدالرحمن خان سره یو ځای شو او د هغه د امارت په دوره کې یې په جګړو کې د خپلو بریالتوبونو په پایله کې لوړو پوړیو او مرتبو ته ارتقا وکړه او لومړی سپه سالار وبلل شو . له ۱۸۸۲ نه تر مړینې پورې یې په ۱۸۷۹ کې په ننګرهار کې د امیر وایسرای او استازي په توګه په پراخو ملکي او نظامي اختیارونو سره، په ځانګړې توګه د بغاوت د غلي کولو او د کافرستان په فتح کولو وخت تېر کړ . غلام حیدرخان د مرکزي حکومت د ټینګښت او پراختیا لپاره په ننګرهار کې لومړی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

میربچه د صوفي خان زوی د کوهدامن له قشقارو څخه او د انګریزانو ډېر مخالف و. د دسمبر تر عمومي پاڅون پورې د هغه ژوندانه په هکله خبر په لاس کې نشته او په هغه پاڅون کې یې د انساني پوځونو په سمبالتیا کې فعال رول لوبولی دی لکه څرنګه چې د خلکو له دغې ترانې څخه څرګندېږي:

محمدجانخان مرد میدان است = ایوب خان شیر غران است
میربچه خان رس رســـــان است = ازري فــخر افـــغان اســـت
رایت کل لات کـــلان اســــــت = بیا بیا در انـــــــــګور بخو.[173]

د محمد زیو سردارانو له جملې سردار محمد طاهر خان د سردار محمد شریف خان زوی او سردارمحمد حسن خان د سردار محمد قلیخان زوی د بهرنیو ضد فعالیتونو کې فعاله ونډه درلودله. د سردار محمد طاهر خان په اړه ډېر معلومات په لاس کې نشته او سردار محمد حسن خان چې د مور له خوا د وزیر فتح خان په لمسي مشهور و او د خپلې تورې ځېرې له امله ( تور سردار ) بلل کېده، ښایي یوانځینی سردار وي، چې د یعقوب خان ډېر جدي او باثباته پلوی و، د انګریزانو له دویم تیري وروسته یې جلال آباد چې حاکم یې و، پرېښود او د یرغلګرو پوځونو تر وتلو پورې یې د هغوی پر وړاندې ډېر فعالیتونه ترسره کړل.

سرور خان پرواني په ۱۸۴۵ کال زوکړی د قاضي خان په مستقیم احفاد څخه و، قاضي خان اصلا د بخارا و، د مغلي شاه جهان په مهال یې د دیني موضوعاتو کتاب لیکلی و، چې د فتاوه قاضي خان په نوم یادیده، سرور خان چې مور یې صوفي وه، د کوهستان له میراثي خانانو څخه و. خو د امیر دوست محمد په وخت کې دهغه د کاکا د زوی نادرخان تر منځ یې د خانی پر سر لانجه پېښه شوه. دا لانجه امیر په داسې ترتیب فیصله کړه، چې شمالي کوهستان لوری یې د ( حصار ) په نامه نادرخان ته او جنوبي برخه یې د (( شازوت)) په نامه سرور خان ته ورکړه. د شیرعلي خان په وخت کې د تول پروان خاني سرورخان ته ورکړل شوه، سربېره پر دې نوموړی د همغه حاکم هم وټاکل شو. سرور خان د انګلیس پلوي شهبار خان د واکمنی په مهال د رابرټس د سلام لپاره کابل ته هم راغی، خو د دسمبر د پاڅون په اوریدلو سره له خپلو ۳۰۰۰ پیروانو سره د ملا مشك علام او محمد جان مرستې ته د کابل په لور وخوځېد او د دسمبر پر ۲۳ مه یې له خپل پوځ سره د شیرپور پر شمال منځ برخې تېرې وکړ.[174]

## په کابل کې د موسی خان پاچاهي:

په همدې قول چې افغان جنګیالیو د دوښمن پوځونه په شیرپور کې محاصره کړل، د هغوی څو تنه چې نومونه یې معلوم نه دي، دانګریزانو په هڅونه یې، د څو ورځو لپاره د متارکې وړاندیز وکړ، او ومنل شو.[175] دا روایت قانع کوونکی نه دی، خو په هر حال یرغلګر پوځونه له هغې ورځې ( دسمبر ۱۴ ) نه تر ۲۳ پورې په شیرپور کې محاصره وو، او په دې موده کې د ۳۰۰۰۰ په شاوخوا کې افغانان پرته له ځینو ډزو ډوزو په ټولیزه توګه پر عملیاتو لاس پورې نه کړ، پس هغوی په داسې حال کې چې دوښمن یواځې محاصره؛ خو په هماغه قدرت سره د شیرپور د یوالو په منځ کې شتون درلود، په ښارکې څه کول او ولې یې عمومي یرغل نه کاوه. سره له دې چې محاصره شوي خلك د دفاعي ترتیباتو د نه بشپړتیا له امله د دسمبر په ۱۵ مه له حملې نه معروض وو او افغان جنګیالیو کولای شواي، د شیرپور تر زړه پورې ځانونه ورسوي[176] لکه د دسمبر له ۱۱ – ۱۴ د هغوی لپاره ممکن

---

[173]- میربچه د ۱۸۸۰ په اوړي کې له سردار عبدالرحمن خان سره یو ځای شو او تر یوه وخته د هغه مشاور و، خو کله چې په ۱۸۸۱ کې یې ورور بندي شو، له کابل نه وتښتېد او د څه وخت لپاره په تیرا، باجوړ، سوات او شینوارو کې پاته شو. او پر ۱۸۸۳ سردارمحمد ایوب خان ته مشهد ته ورغی او له هغه سره یې په ۱۸۸۸ کال هندوستان ته پناه یوړه. په ۱۹۰۲ کال هېواد ته راغی او امیر حبیب الله خان د هغه د غصب شویو ځمکو په بدل کې د لوګر په برکي ډېرې ځمکې ورکړې. ( ش ز س ا ) ، ۳۴ مخ.
[174]- ش ز س س ۱، ۱۷۳ مخ.
[175]- عین الوقایع، ۱۹۰ مخ.
[176]- هن، ۳ ټوك، ۲۴۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې رابرتس په وینا (( محمدجانخان وردګ )) د افغان جنګیالیو عملي زعیم ګڼل کېده. ))[178] دا هم باید وویل شي، انګریزي پوځونو سره له دې چې دمحمد جانخان په وینا له قاضي کلا نه وروسته ۷ ځلې ماتې خوړلې وه، [179] او درانه تلفات وراوښتي وو جنګي قدرت یې نه و بایللی، او کله یې چې ټولې تیت و پرک قطعې په شیرپور کې یو ځای شوې د مرګ او ژوند په یوه سیاسي مسئله کې راګیر شول او قدرت یې نادیده نشوای نیول کېدای. هره یوه افغان مشر له ځان سره له ۵۰۰ ته ۱۰۰۰ پورې یا ډېر وسله وال پیروان درلودل [180] او هغوی یوه هم او یا ټولو د هغوی د کنټرول قدرت نه درلود. هنسمین وایي (( د صفونو له خوا پر مشرانو چندان باور نه کېده.)) [181] محمد جان خان د هغه لامل داسې بیانوي چې د مسلمانانو د پوځونو شمېر (( له شمېر وتلی و، او کنترول کېدای نه شوای. او هغوی د کابل ښار مسلمان خلك چور کړل)) او د مشرانو هڅې ګټورې نشوای کېدای. [182] خو دغو مشرانو د دې لپاره چې خپلو عملیاتوته یې قانوني او حقوقي بڼه ورکړې وي، د دسمبر پر ۱۵ مه یې په کابل کې حکومت تشکیل کړ. او د بې وسلې شوي امیر زوی موسی جان یې د (( پاچا )) په توګه اعلان کړ. سردار محمد طاهر خان د سردار محمد شریف زوی او د دوست محمد خان لمسی یې وزیر وباله او غلام حیدر خان چرخي د بالاحصار د والي په توګه غوره کړ. [183] دا کار د رابرتس په وینا د جنرال محمد جان خان په نوښت ترسره شو او په خپله یې د ځان لپاره کوم مقام غوره نه کړ. ملامشك عالم دغه اقدام نېکمرغه وباله او موسی جان یې (( پر تخت کښېناوه، چې د پلار حق یې و، چې د هغه په وینا په ظالمانه ډول د انګریزانو له خوا تبعید شوی دی. )) [184] موسی جان کوټوالي خپل مقر وټاکه او مجاهدین د سیمې په اساس په ښار کې، احتمالا په مسجدونو کې او میربچه د سردار یحیی خان په کور کې او قلعو د کابل سیند کیڼ اړخ ته اقامت غوره کړ؛ خو دغو مشرانو سره له دې چې حکومت یې تشکیل کړ، و نه توانېدل امنیت تامین کړي او (( ...... د برتانیې د معلومو دوستانو کورونه چور او ویجاړ شول. )) [185] او د ځینو امامیانو او هندوانو کورونه او دوکانونه هم چور شول. [186] تر هغه چې محمد جان خان دې تطاول ته د پای ټکی کېښود. البته د دغه عمل اغېزې ناګواره ثابتې شوې. هغه پام چې د مبذلو دوښمنانو لور ته شوی وای، د مسلمانو په کمزورۍ ولګیده.

**سربېره پر دې د محمد یوسف ریاضي په وینا(( په پنځوشپږو هغو ورځو کې، چې غازیانو تاراجي مال لاس ته راوړی و، د غازي محمد جان خان شاوخوایې پرېښوول .)) ([187]) او (( له دغه امر څخه انګریزي پوځونوته د اسودګۍ فرصت په لاس ورغی .)) ([188]) په عین حال کې د دغې موضوع پر سر مخالفت راپیداشو. او ویل کېدل، چې ملامشك عالم له موسی جان سره شخړه وکړه، چې هغه پاڅون کوونکي یې پرېښې دي، چې((د ښار د مسلمانانو اوسیدونکیوکورونه چورکړي او په دې ترتیب د پاڅون مذهبي ځانګړنې ته صدمه ورسوي او د ناکامۍ لامل یې شي )) ([189])**

---

[177]- هنا، ۳ ټوك، ۲۱۸ مخ.
[178]- رابرتس وایسرای ته، ۱۸۷۹ ، د دسمبر ۲۲ مه، م ض س س ه، ۳ ۲ ټوك، ۱۷۸۴
[179]- محمد جانخان غلام حیدر وردګ ته، ۱۸۸۰ د فبروري ۲ مه، م ض س س ه، ۲۵ ټوك، ۲۱۶.
[180]- هنسمین، ۲۶۴ مخ.
[181] - هنسمین، ۲۴۶ مخ.
[182] - غلام حیدر وردګ ته د محمد جانخان لیك، له ګریفن نه لاي ته، ۱۸۸۰ د مارچ ۵مه. م ض س س ه، ۲۵ ټوك، ۲۱۶ مخ.
[183] - ي ك ، ۱۸۷۹ د سمبر ۱۴ – ۲۰، م ض س س ه، ۲۴ ټوك، ۱۴۵ مخ.
[184]- هنسمین، ۲۲۲ مخ.
[185] -عین الوقایع، ۱۹۰ – ۱۹۲ مخونه.
[186] - هنسمین، ۲۵۹- ۲۷۲ مخونه.
[187]- عین الوقایع / ۱۹۰ مخ
[188]- سراج التواریخ/ ۳۸۵ مخ.
[189]- ش ز س س ا، ۱۴۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي د همدغو پېښوله امله وي، چې افغان مشرانو د دوليکونو په ترځ کې، وروسته له هغه چې د انګليسن له بعيدالتي ګانو نه، چې نسبت (( افغانستان او امير)) ته خبرې وکړې، محاصره شويو انګريزانو ته يې د سولې شرايط وړاندې کړل . [190]

د وړانديزونو يوه ماده داسي وه، چې انګريزان بايد کابل تخليه کړي او هندوستان ته لاړشي [191] جنرال غلام حيدرخان د يوه ځانګړي ليك په ترځ کې، سردار محمد ابراهيم خان ته چې له محاصره شويو سره و وړانديزکړی و، چې غلام حسن خان او محمدحيات خان دې د برتانيې د استازو په توګه پاتې شي او دوه تنه برتانوي منصب لرونکي دې دبې وسلې اميرتربلنې پورې د مشرانو په توګه ورکړي شي .[192] په عين حال کې غلام حيدر خان د يوه بل ځانګړي ليك په ترځ کې سردارولي محمدخان ته څرګنده کړه، چې ټولو مشرانو د ملامشك عالم او محمدجان په ګډون توافق کړی، چې امارت ومنې . [193]د کوهستان خلکوهم د يوه ځانګړي او بېل ليك په ترځ کې کټ مټ همدغه مطلب د يرغلګرو پوځونو له خوا د افغانستان د تخليه کولو وړانديز وکړ. [194]جنرال محمد جان، چې په دغه وخت کې يې د غازي محمداکبرخان غوندې عمل کاوه،له عصمت الله خان جبار خيل نه وغوښتل، چې د کابل او جلال اباد ترمنځ د انګرېزانو مواصلاتي او مخابراتي کرښې پرې او په خپل کنټرول کې راولي. [195]ترڅو د مرستندوی پوخ له راننوتلو څخه مخنيوی وشي او هم د يرغلګرو پوځونو د مراجعت په صورت کې د خوردکابل ځوبېنت کاله وړاندې داستان تکرارشي، خومحاصره شويو انګريزانو د هغه پرخلاف، چې په سراج التواريخ کې راغلي دي، چې ((جنرال محمدجان ته يې د دوستی ورونه پرانستل)) [196]پورتنيو وړانديزونو ته يې هېڅ ځواب ورنه کړ او په بدل کې يې د دفاعي ترتيباتو په بشپړولو پيل وکړ .

## پرشيرپور ناکام يريد:

رابرټس له هماغې د محاصرې له لومړۍ مرحلې څخه د خپلو پوځونو پام د فاعي ترتيباتو ته راواړاوه. لکه څنګه چې مخکې وويل شول، په شيرپورکې خوراکي توکي هم د عسکرو او هم د حيواناتو لپاره او د سون مواد ډېر راټول شوي وو او اوبه په دننه کې موجودې وې .

رابرټس له څو ناحيو نه زړه بدی شوی و، يوشمېر محمد زيو سردارانو، سره له دې چې د هغه په لاس کې هم وو، له محمد جان او ملامشك عالم سره يې اړيکې درلودلې او له دې پلوه له هغوی نه داود شاه په ګډون يو شمېر بندي شول. را برټس داسې فکر وکړ، چې دا جنرال چې د ميربچه له نژدې خپلوانو څخه و، سره له دې چې هغه انګليس ته ډېر خدمتونه کړي وو. ممکن خطرناك ثابت شي . ([197]) په انګرېزي پوځونو کې يو شمېر سرحدي پښتانه هم وو او افغان جنګيالو هغوی د انګرېوانوپر ضد هڅول او هغوی ته يې پېغور( فحش) ورکاوه، چې ولې يې د کفارو د غلامۍ کړی غاړو ته اچولې دي. [198]

سربيره پردې د پنجاب په نامه قطعه کې د پنجاب مسلمانوهم ګډون درلود او دا وېره موجوده وه، چې هغوی ښايي د مذهبي اړيکو له امله له افغان مسلمانو سره مرسته وکړي، ډېرکارګران او باروړونکي، چې ترهغه مهاله يې په شيرپورکې کارکاوه، له شير پور نه ووتل [199] خو د رابرټس اساسي وېره د شيرپور د دفاعي ترتيباتو د ناحيې له نيمګړتياوو څخه وه .

---

[190]- ی ك/ ۱۸۷۹ د دسمبر ۲۱-۲۷ م ض س س هــ ) ۲۴ ټوك، ۳۲۷ مخ .
[191]- هنسمين ۲۴۴ مخ
[192]- ی، ك ، ۱۸۷۹، د سمبر ۱۴-۲۰، م ض س س هـ، ۲۴ ټوك، ۱۵۴ مخ
[193]- ايضاً، ۱۴۶ مخ
[194]- هنسمين، ۲۱۵-۱۴۴ مخ
[195]- هنسمين، ۲۷۴ مخ .
[196]- سراج التواريخ ، ۳۵۸ مخ .

[197]- رابرټس، ۴۵۷ مخ .
[198] - رابرټس، ۴۵۷ مخ
[199] - همين، ۲۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شیرپور له درو خوا، ختیځ، لویدیځ او جنوب څخه دپلنو او لوړو دیوالونو په درلودلو سره او د محفوظو مرچلونو د برجونو درلودونکی و. یواځې هغه برخه یې چې له بي بي مهرو سره نښتې وه ښه نشوای مدافعه کیدلای او دایې دحصار یو کمزوری ټکی تشکیلاوه او ختیځ لوری د شیرپور او د قلعوښار ترمنځ پروت و، چې یرغلګروپوځونو وران کړ. د نورو مهمو دفاعي ترتیباتوله جملې نه، د بي بي مهرو مقابل د ځینو برجونو جوړول، د خندقونوکندل، په بېلابېلو برخو کې د توپونو ځای پرځای کول ، د اغزنو سیمونو اچول، او دسنګرونو (مورچلو) جوړول هم شامل وو. په عمومي توګه د فاعي ترتیبات، د لومړیو ۴۸ ساعتونو په لړکې د برتانیې د پوځونو محدودیت کافي و، چې رابرتس په ډاګه څرګنده کړه، چې موږ اوس په شیرپورکې (( په ټولیزه توګه په امن کې یم)) [200]**

**د محاصرې پرمهال له رابرتس سره ۷۰۰۰ عسکرموجود وو . او هغه د دغه واقعیت په ملاحظې سره د محاصرې په هماغې لومړۍ ورځ د یوه تیلګرام په واسطه وایسرای ته خبر ورکړ، چې((جلالتماب، تاسې ډاډه اوسئ، هغه څه چې زما له لاسه کېږي، دریغ به یې نه کړم، خو زماوړاندوینه داده چې هرڅه وغواړم، ترسره بې کړای شم، خو په دې شرط چې هغه مرستندویه قوه پرته له ځنډ څخه راورسېږي .)) [201]د هماغې ورځې په وروستۍ ورځ رابرتس یوبل تلګرام په واسطه له وایسرانه وغوښتل چې ((موږ هرې هغې مرستې ته چې تاسې یې راولېږئ اړتیالرو)) خو هغه په عین حال کې لیتن ته چې د خپلې کابینې غړیوته یې، چې په کابل کې یې د برتاني پوځونو د نابودۍ څېره انځوروله، ډاډ ورکړ، چې (( زه د یوې دقیقې لپاره هم داسې فکرنه کوم، چې موږ نشوکولای خپل له لاس وتلی موقف بیرته لاس ته راړو. )) [202] دغه محاصره شوي جنرال په عین حال کې دوې قطعې پوځونه د چارلز او اربوت ناټ په قوماندانۍ ، چې په ترتیب سره په ګندمك او جلال اباد کې میشتې وې، په بیره کابل ته راوغوښتې او هم یې له هندوستان څخه د نظامي مهماتو بېړنۍ غوښتنه وکړه .**

**د ۹ ورځو په اوږدوکې محاصره شویو یرغلګرو پوځونو او مجاهدینو ترمنځ وړې ډزې ډوزې پېښې شوې، چې ټولې د افغان  جنګیالیو په نوښت سره ترسره شوې . افغان جنګیالیو د سمبر پر ۱۵ مه د کابل او پېښور تر منځ تلګرافي اړیکه پرې کړه او په سهار یې د اسمایي غره او سیاه سنګ پر غونډۍ د قدرت په مظاهره لاس پورې کړ؛ خو دوښمنانو د توپونو په فیرونو سره تیت و پرك شول او بله ورځ ( ۱۸ دسمبر ) هغوی ټولې غونډۍ بیا ونیولې او حتا ځینې د هغوی ۴۰۰ ګزه شیرپور ته نژدې شول او د دسمبر  ۱۹ مې او ۲۰ ورځو تر منځ د دواړو لوریو تر منځ لنډ اخ و ډبونه را منځ ته شول. د دسمبر پر ۱۲ مه افغان جنګیالیو د فعالیت نښاني وښوولې او داسې ښکارېده،  چې د عمومي عمل مقدمه وي ... د دسمبر پر ۲۲ مه د یادونې وړ پېښه رامنځ ته نه شوه؛ خو د دسمبر پر ۲۲ مه افغانانو د چارلز په کوماندانۍ د های لیندرز د ۴۰۰ عسکرو او ۴ توپونو د مرستندویې قطعې له نژدې کېدو څخه خبر تر لاسه کړ او په دې اساس مخکې له دې چې له محاصره شویو سره یو ځای شي، د عمومي تېري بنسټ یې کېښود . تر هغه وخته د ښار خلك له جنګیالیو سره یو ځای وو او په یوه شبنامه کې راغلي وو، چې (( افغانانو پخوا د شېرعلي خان له ظلم څخه د برتانیې حکومت ته  د امید سترګې نیولې وې، خو اوس ثابته شوه چې انګرېزان له نور واکمنانو سره په پرتلنې تر ګردو ظالمان دي . )) [203]   هنسمین د هغه پرجوشه او عمومي یرغل مشاهده، چې د دسمبر د ۲۳ مې  په سهار پېښ شو او رابرتس د خپلو جاسوسانو له خوا له هغه نه خبر و ، داسې کیسه کوي (( د کابل جنګي خلکو ته په بېلابېلو مواضعو کې  حملې ځایونه ټاکل شوي دي .**

**او د برید نښه به د اسمایي غره پر سر پر تېلو د لړل شویو باروتو لګول وي . ۴۵ دانې زینې هغو ۲۰۰۰ کسانو ته ، چې د شاهي باغ او محمد شریف خان کلا کې مېشت وو ، ورکړل شوې او په هغو سربېره به د جنوبي دېوال پر وړاندې د هغه لوېدیځ لور ته لاریون تر سره شي؛ خو دا یرغل به ګمراه کوونکی وي، اصلي یرغل به د بي بي مهرو پر قلعه او پر ختیځو خندقونو وي . ))**

[200] - رابرتس وایسرای ته، ۸۷۹، دسمبر ۲۲مه، م ض س س هـ / ۲۳ ټوك، ۱۶۳۶ مخ
[201] - رابرتس وایسرای ته،۸۷۹، د دسمبر ۱۴مه، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك، ۱۷۸۲ مخ
[202]- رابرتس لیتن ته ، ۱۸۷۹ ، د دسمبر ۱۴ مه ، م ض س س هـ ، ۲۳ ټوك ، ۱۶۳۶ مخ .
[203] - رابرتس خارجه سکرتر ته ، ۱۸۸۰ ، د جنوري ۲۵ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۳۸۸ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد جان خان ښايي له ۲۰۰۰۰ عسکرو سره پر شيرپور يرغل کړی وي . په اسمايي غره کې د سهار پر پينځه نيمو بجو، چې هوا لا تياره وه، د يرغل نښې راپورته شوې . [204] هنسمين اصلي يرغل داسې شرحه کوي :

(( د بي بي مهرو له اخوا غاړې او د ختيځو ديوالونو له خندقونو نه په دومره اندازه د غږونو ځوږ او شور راپورته شو، چې تهديدوونکی و . او داسې ښکارېده، چې کوم سوار ۵۰۰۰۰ کسيز لښکر د کمزرو خلکو پر کتارونو بريد کوي . د اصلي افغانانو ډلې، چې د شيرپور په ختيځو کليو او باندو کې پټې شوې وې او غازيانو يې رهبري کوله؛ په ټوليزه او منظمه توګه يې بريد پيل کړ او فضايي د الله اکبر په نارو سره ډکه کړه. څومره چې د جګړې کتارونو پرمختګ کاوه، نارې نورې هم لوړېدلې او هغه په داسې ټوپکونو سره بدرګه کېدلې، چې د يوې شېبې لپاره غلې شوې او وروسته په عمومي غږ سره راپورته شوې او موږ يې وپوهولو، چې زموږ خلکو د مارتيني او سنايدر ټوپکونو سره د دوښمن پر وړاندې هجوم راوړی او موضع ګانې يې ټينګې کړې دي . [205]

(( کله چې بريد پيل شو، فضا لا هم دومره تياره وه، چې يواځې د خندقونو غاړې لږ لږ ليدل کېدای شوای . امر داسې و، چې د فير ځواب بايد د يوڅه وخت لپاره وځنډېږي، چې د افغانانو ډلې په ځرګند ډول وليدل شي .)) (( بلاخره د مه غبار په منځ کې د خلکو يوه ډله راپورته شوه، چې چاړې او توري يې ښورولې او د جګړې نارې يې وهلې او هر څومره يې چې پرمختګ کاوه، نو پرله پسې ډزې به يې کولې . ))

(( له هغه وروسته بلاخره عسکرو ته د ډزو کولو امر وشو، افغانان په دې وخت کې دومره نژدې شوي وو، چې توغونديو پرې ښه ترا مرګوني اغېزه کولای شوای . )) [206]

(( افغانان د ورځې په ۱۱ بجو راغونډ شول او بريد يې پيل کړ؛ خو ډېر ژر پر شا وتمبېدل او څنګه چې په دې وخت کې جلوي قطعي خبر تر لاسه کړ، چې د دوښمن تازه نفسه قوه د چارلېزګو په قوماندانی د لوګر له سيند نه تېرېږي، د ورځې نژدې يوه بجه له جګړې راوګرځېدل او د ښار پلو يې تېښته وکړه او په سبا يې ښار هم پرېښود او محاصره شوي پوځونه د دويم ځل لپاره په بالاحصار او ښار کې را ځرګند شول او تر خپل کنترل لاندې يې راوستل .

ربښتيا([207]) او غبار ([208]) د بريد ناکامي د دوو کسانو ( نوروز پاچاخان او محمد شاخان سرخابي ) د خيانت پايله بولي، چې په خپله وينايي خپلې قطعي په يوه حساسه مرحله کې، چې له انګرېزانو يې رشوت اخيستی و، پر شا کړې. دا حکم بايد له سوچ او ډېر استدلال پرته رد شي . هغوی خپله منبع نه ښيي او په واقعيت کې په هيڅ داخلي او خارجي منبع کې يې نومونه په نظر نه راتلل . او سربېره پر دې څنګه ممکنه ده، چې د دغو دوو مجهول الهويه کسانو او ورسره پلويانو عمل د يوه جمعيت د ماتې لامل شي، چې له ۲۰۰۰۰ سوارو څخه جوړ و او په کلکه اراده او عزم جنګېدل . دا ماتې د محمد جان خان په وينا له دوښمن سره د مساوي وسلو، ياني توپونو د نه شتون له امله وه. ([209] ) د افغان جنګياليو په صفونو کې د توپونو د نه شتون د کمزورۍ احساس له بريد نه پخوا هم محسوسېده؛ خو دا احساس ملامشك عالم داسې رفع کړی و، چې هغه د خلکو پر وړاندې سوګند ياد کړچې (( هغه به په خپله دعا سره د برتانيې توپونه غلي کړي . )) ([210]) او څنګه چې هغسې ونه شول، وروسته شکايتونه راپورته شول ([211]) او د افغانانو په راتلونکو جګړو يې ناوړه اغېزې وشيندلې. په سراج التواريخ کې د ماتې نسبت حتا محمدجان خان ته ورکړ شوی دی . ([212]) چې ګويا هغه د ۶۰۰۰۰ کلدارو په بدل کې وروسته له سرسري هڅو څخه تېښته وکړه. د غه مازې تور هم پرته له سوچ او ډېر استدلال او په ځرګندو

[204] ـ هنسمين، ۲۵۱ مخ .
[205] ـ هنسمين، ۲۵۲ مخ .
[206] ـ هنسمين، ۲۵۳ مخ .
[207] ـ ربښتيا، ۲۶۲ مخ .
[208] ـ غبار ، ۶۳۰ مخ .
[209] ـ ی ك ، ۱۸۸۰ ، د جنوري له ۲۵ـ۳۱ ، م ض س س هـ، ۲۴ ټوك، ۹۶۷ مخ .
[210] ـ ی ك ، ۱۸۸۰ ، د فبروری ۱ـ۷ ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۱۱۷۵ مخ .
[211] ـ د کرم يادښت، ۱۸۸۰، ۱۰ـ۱۹ ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۴۸۹ مخ .
[212] ـ سراج التواريخ ، ۳۵۸ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه (( لوړ هېواد په هغه وخت کې ناکام معلومېده، خو د هغه اساسي اغېزې، د هر ډول دسته جمعي کوښښ د اغېزو په څېر په ظاهر کې په افغانستان، هند او برتانيه کې ډېرې ژر ناکامي محسوسې شوې، چې په پای کې له افغانستان څخه د يرغلگرو پوځو د وتلو عمده لامل شوې.

**اووم څپرکی**
**د اميرعبدالرحمن خان د جلوس او مبارزې دوام او پراختيا**

<u>په کابل کې نوې اقدامونه:</u>

رابرتس وروسته له بيا ځلي واکمنۍ څخه د خلکو د عامه توقع خلاف په کابل کې نسبتا معتدله وضع غوره کړه. البته له محاصرې وروسته متصل د هغه سلوك دا ډول نه و او د رياضي په وينا ((د غازيانو له تيت و پرك کېدو وروسته، انگريزي پوځو د کابل ښار په کوڅو او بازارونو کې گرځېدنې پيل کړې، هر ځای به يې چې کاکل لرونکی او تورزن ليده، په دې خيال چې غازي دی، هغه به يې نيوه او شيرپورته به يې وړه او هلته به يې اعداماوه.)) [216] همدارنگه انگريزانو د نظامي قطعو په زور د ميربچه کلي چې په بابه قشقارکې پروت و او د پاچاه خان احمدزی کلی چې په لوگر کې پروت و ، په گډون د مجاهدينو کلي ، چور کړل؛ حتا باغونه او ونې يې پرې کړې. [217] خو د دغو ورانيو دوره ډېره لنډه وه او د دسمبر پر ۲۶ مه نېټه عمومي عفوه اعلان شوه.

له امله يې ټول هغه افغانان چې د انگريزانو په مقابل کې جنگېدلي وو، پرته له محمدجان خان، ملا مشك عالم، سمندرخان ( د غلام حيدرخان ورور) ميربچه خان او سردار محمد طاهر خان څخه نور ټول وبښل شول. پخوانی نظامي حکومت له منځه لاړ او پرځای يې د سردارولي محمد په مشرۍ ملکي حکومت منځ ته راغی. خاص کابل، د ده سبز، چاراسياب، بتخاك ترمنځ سيمې او ميدان او پغمان د هغه ترواکمنی لاندې وګڼل شوې، او دا وټاکل شوه چې مستوفي حبيب الله ، د ښار قاضي او يو څو سرداران له هغه سره د چارو په پرمخ وړلو کې مرسته وکړي . هغه په خپله د رابرتس تر مستقيم کنترول لاندې و. دغه لنډ مهاله حکومت اعلان شو او والي ته هېڅ مهمه مسئله کې واك ور نه کړل شو، يوازې په ملکي او جزايي چارو کې ورته مقيد صلاحيت ورکړ شو.

[213] ـ هنسمين، ۲۶۱ مخ .
[214] ـ هنسمين ، ۲۷۸ مخ .
[215] ـ له باالفور نه نقل قول، ۳۹۳ مخ.
[216]ـ عين الوقايع، ۱۹۲ مخ.
[217]ـ هنسمين، ۲۷۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د تعجب ځای دا دی چې رابرتس هغه په داسې حال کې پر دغه مقام وګوماره، چې د هغه په خپله وینا(( دا سردار زما په نظر کوم قوي سړی نه دی او د هغه لیاقت په اړه زیات شك لرم، چې له دې وروسته دې له مرستې پرته هېواد اداره کړای شي.))

داسې ښکاریده، چې رابرتس د هغه له انتصاب پرته بله چاره نه درلود له دې امله چې د انګریزانو په مخالف لوري کې قوي خلك شته وو او په انګلیس پلوو افغانانوکې له هغه نه پرته بل کوم غوره مشخصو نه برېښېده، لکه څرنګه چې خپله رابرتس هم وایي (( زه له هغه پرته بل کوم مناسب سړی نه وینم.))[218] په ښار کې د وسلو ګرځول د پخوا په شان منع اعلان شول.[219] خو سردارولي محمد پر خپل ځان باور نه درلود او رابرتس ته یې څرګنده کړه، چې د هغه لپاره ممکنه نه ده، د برتانیې له پوځونو پرته پر دې کار بریا ومومي او که چېرې انګریزي پوځونه کابل پرېږدي، نو هغه به یوه ورځ مخکې کابل پرېږدي[220] سره له هغه هم چې هغه د یوه بهرني مقتدر حکومت اجباري تحمیل و، پر کار یې پیل وکړ. په دې حالت کې د قدرت عملونه ( کارونه) د هغه لپاره ممکن نه وو او هغه براتونه یې چې ((کوکناري زیو)) ته یې ډالۍ کړل، بېرته لاس ته نه شوای راتلای. څرنګه چې دغه سرداران د ژوندانه د وضعې د ښه والي په پار له انګریزانو سره یو ځای شوي وو، **د ناخوښۍ احساس یې وکړ .[221] نو د نوي والي قدرت یواځې په ښار پورې تړلی و، کوم چې بهرنۍ لښکرې هلته مېشتې وې .**

**د کابل ښار مالي وضعیت د هغه د واکمنۍ په دوره کې ښه شو . انګرېزانو له محاصرې وروسته د کابل ځینې سرتراتیژیکې سیمې ، لکه سیاسنګ او د هغې شاوخوا غونډۍ، شېردروازه ، بي بي مهرو، او نظامي استحکامات او د ښار په د ننه کې یې د سړکونو د جوړولو کارونه یې قرار داد کوونکیو او اجاره ورکونکیو ته وسپارل . په دې ترتیب هغوی او دښار اجیرانو کارونه پیدا کړل او پیسې یې په کار واچولې، تر دې چې په هندوستان کې به ویل کېدل، چې په کابل کې پیسې په پټه توګه ورکېږي .[222] څرنګه چې انګرېزانو خوراکي توکي او د څارویو خوراکه د نظامي قوې په زور په پیسو اخیستل، نو له دې اړخه هم خلکو نغدې پیسې په لاس راوړای شوای . څرنګه چې افغانانو خپله متاع دهندي کلدارو په بدل کې نه تبادله کوله ؛ نو د سردار ولي محمد خان حکومت په ضراب خانه کې سل کلدارې په ۱۲۶ کابلیو روپیو بدلولې . انګرېزانو د دغه اصل په پیروۍ، چې په اقتصادي برخه کې د آزاد عمل د اسعارو او نورو مالونو بیې ازادې پرېښووې، چې له دې امله ډېرې پیسې په دوران کې شوې او سوداګرۍ پرمختیا وکړه . هنسمین چې په کابل کې ګرځېدلی را ګرځېدلی و، لیکي (( شتمن شوی کابل، پرځان ویاړمن تجاران هېڅکله دومره غني شوي نه وو او عامو وګړو هم هېڅ وخت په بازارونو کې دپیسو دومره لوی دوران نه و لیدلی . تر دې بریده چې هندوان هم زموږ د بډاینې څخه خبر او حیران شوي دي . ))[223] او زیاتوي چې هندوان او د ښار امیان چې د کابل ښار د سوداګرۍ غوره برخه جوړوي .**

**(( زموږ د تېرې په وخت کې یې ډېره شمېر پیسې سپما کړې دي . ))[224] خو انګرېزانو چې د افغانستان لپاره هر ډول پالیسي غوره کوله، هغه یواځې په کابل پورې اړه نه درلودله، باید اطرافي سیمې هم که په هر شکل وې، تر نفوذ لاندې راولي . ددې موخې لپاره رابرتس داسې پرېکړه وکړه چې د کابل ولایت بېلابېلو سیمو ته د نایب تر نامه لاندې واکمنان اومرستیالان ولېږي . او هر یوه ته د دې جواز ورکړي، کومې پیسې چې دوی یې په واك لري، د هغې سیمې او ولایت د پراخوالي او اهمیت په تناسب سواره، پلي سپاهیان تهیه کړي او په هغو کړنو قدرت ورکړي ، مګر دا پروګرام هم د نورو تېرو پروګرامونو په شان له دې امله پلی نه شو، چې دا سیمې د انګرېزانو تر کنټرول بهر وې او د افغانانو تر ولکې لاندې وې . د بېلګې په توګه سردارمحمد هاشم خان ته ټاکل شوې وه، چې ۸۰۰ پلي او ۳۰۰ سواره کسان تنظیم کړي، څو په غزني کې حکومت وکړي ، په داسې حال کې چې دابښار د شېرپور له پېښې وروسته د ملي مقاومت د مرکز په توګه بدل شوی و، چې وروسته به بحث پرې وشي .[225]**

---

[218] - رابرتس به لابل، ۱۸۸۰ د جنوري ۷ مه، م ض س س هه، ۲۴ ټوك، ۷۷۵ مخ.
[219] - رابرتس به لابل، ۱۸۸۰ د جنوري ۷ مه، م ض س س هه، ۲۴ ټوك، ۳۴۳ مخ.
[220] - ي ك، ۱۸۸۰ د جنوري ۱۸ – ۲۴ -، م ض س س هه، ۲۴ ټوك، ۸۳۲ مخ.
[221] - ي، ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۱- ۷ پورې ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۱۱۷۵ مخ .
[222] - هنسمین ، ۴۰۷ مخ .
[223] - هنسمنین، ۴۰۷ مخ .
[224] - هنسمین ، ۴۱۳ مخ .
[225] - رابرتس به لایل ، ۱۸۸۰ د جنوري ۷ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۷۷۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د افغانستان د وېشلو پلان او پسرلني عمليات :**

**لیتن سربېره پردې او ښايي د دسمبر د توپان له امله د افغانستان د خلکو او هېواد څخه د غچ اخيستلو په باب تينګار کاوه . او حاضر نه و، چې په خپله تګلاره کې د دسمبر د پېښنو اغېزې منعکسي کړي او د جنوري پر ۷ مه يې د افغانستان د وېشلو پلان د کاغذ طرحه کړ، چې د هرات ولايت دې د ځينو شرطونو لاندې په موقتي توګه فارس ته تخصيص ورکړي او په کابل و کنداهار کې يو ځانګړى دولت منځ ته راشي او بې وسلې شوى امير په هېڅ صورت کې بيا د واك ګدى تر لاسه نه کړي . ليتن په دې برخه دومره ټينګار کاوه، چې ويل به يې كه چېرې لندن د بې وسلې امير په اړه بل فکر ولري، هغه حاضر دى، چې له خپلې دندى استعفا ورکړي او د هغه په وينا که چېرې د يعقوب خان پر ځاى يو له (( د مشهورو سردارانو له جملې چې د کورنيو اړيکو په درلودلو او د هغه شخصي سيمه ييز نفوذ له مخې د کابل د دولت حکمران وټاکل شي . )) ښايي د امينت په ټينګښت کې مرسته وکړي او دا طرحه يې (( په افغانستان کې د چارو نظم په نامه وبلله . ))** [226]

**د دې طرحې د پلي کولو لپاره د برتانيي د قدرت لاريون د يوې لښکر کشی په توګه په بېلابېلو سيمو کې په پام کې ونيول شو، چې بايد په راتلونکي پسرلي کې عملي شي او د (( پسرلني عملياتو)) په نامه وبلل شي او همداشان يو تکړه ديپلوماټ د ليپل ګريفن ( lepel Griffin) په نامه کابل ته ولېږل شو ، چې د غې طرحې په اړينو خبرو اترو په ځانګړې توګه د باانتصابه ټاکنو په اړه د کابل لپاره يوه نوى حکمران لپاره پر مخ يوسي. هغه د مارچ پر ۱۹ کابل ته ورسېد .**

**دا پسرلني عمليات د دانلدستيورات دلشکر کشی په ګډون له کندهار نه کابل او د رابرتس کوهستان ته تر باميانو پورې وو . جنرال برايت بايد له ننګرهار او يوه بله قطعه له شترګردن څخه کابل ته راوخوځېږي .** [227] **د دغو عملياتو له سرته رسولو څخه يوه موخه دا وه، چې افغانستان بايد تر راتلونکي مني پورې تر هغه اندازې ارام شي، چې خلك يې د ليتن نوې طرحه ومني . ستيورات وروسته له هغه چې د کندهار څخه کابل ته لاړ شي او د رابرتس پرځاى د (( شمالي افغانستان )) د نظامي او سياسي چارو عمومي امر شي . په کندهار کې امير شيرعلي خان په هغه ولايت کې د خپلې کورنى د واکمنۍ د ميراثي کېدلو په بدل کې د انګريزانو ته د تابع کېدلو ټول شرايط ومنل .سره له دې چې د کورنى ځينې نژدې غړي يې هم ورسره مخالف شول . خو هرات د انګرېزنو له ولکې وتی او د سردار محمد ايوب خان په لاس کې و او په دې توګه د ليتن د نوې طرحې تطبيق په هغه ځاى کې عملي نه ښکارېده . ليتن د شمالي سيمو په ځانګړې توګه د بدخشان په اړه بې پروا و .**

**د لښکر په اړه داسې پرېکړه وشوه، چې له ژمي مخکې او د مني په رارسېدو به لښکر کشيو په بشپړتيا سره دې هندوستان ته لاړ شي . ليتن په دې اړه قاطع درځ لاره ، لکه څنګه چې ګريفن ته د هغه له دې لارښوونې څرګندېږي چې (( وايسراى غواړي، په پام کې ولرئ، چې د افغانستان د تخليې سياست به په هېڅ وجه د يوه نوي دوست امير په ټاکلو او يا دکابل د حکمران سره د دوستانه اړيکو په ټينګښت پورې تړلى نه وي، يا داچې هغه به مطلوب وي . ))** [228] **تخليه د دې لپاره ضروري ګڼل کېدله، چې (( برتانيي د جګړې درانه لګښتونه د لږو يا هېڅ عايداتو په بدل کې ورکول، نو لندن د دوامداره اشغال په اړه ناخوښي او نارامي کوله او حاضر نه و، چې هغه دې تر دې زيات ومني او د برتانيې کابينه تر دې بريده تنګه شوې وه، كه څه هم په دې ښه پوهېدل، چې د افغانستان مسئله لاينحل باقي پاتېدله، نه دا چې د برتانيي لښکرو له خوا د دوامداره اشغال اجازه ورکړي ))** [229] **په داسې حال کې چې د افغانستان بحران دوام درلود.**

**د ۱۸۸۰ د اپريل پر ۲۸ مه د عمومي ټاکنو په اثر د يوه محافظه کار ( ياتوري ) حکومت پر ځاى د ګليدستن تر قوماندانى لاندې يو نوى حکومت منځ ته راغى . د افغان مسئله د برتانيي د ټاکنو عمده موضوع وه او د لبرال نوى حکومت د محافظه کارانو د حکومت پاليسي پيه ځانګړې توګه د افغانستان په اړه د ليتن پاليسي په کلکه تقبيح کړې وه . د دغه نوي حکومت په راتلو سره د افغانستان پر مسئله ډېر تاثيرات وارد شول . د ليتن**

---

[226]- لايل به رابرتس ، د ۱۸۸۰ د جنوري ۲۶ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۶۲۷ مخ .

[227] - رابرتس ، ۴۶۵ مخ .

[228]- خارجه سکرتر ګريفن ته ، ۱۸۸۰ د مى ۱۵ مه ، م ض س س هـ ، ۲۵ ټوك ، ۸۹۹ مخ .

[229] - سنکهل ، ۵۹ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پاڅون د مشرانو او رابرتس ترمنځ ناکامې خبرې اترې :**

**د پاڅون مشرانو له هغه وروسته چې کابل یې تخلیه کړ، هغه حکومت ته چې په کابل کې یې تاسیس کړی و، په غزني کې هم دوام ورکړ او هغه ښار یې د مقاومت په یوه غوره ښار بدل کړ، چې ژر به بحث پرې وشي . هغوی د جنرال محمد جان خان تر مشرۍ او فعالیت لاندې، چې موخه یې له افغانستان څخه د یرغلګرو پوځونو ایستل او د محمد یعقوب خان واك ته رسېدل وو، هم یې د انګرېزي چارواکو سره د خبرو اترو لار په پام کې ونیوه او هم یې د انساني قوتونو په مجهزولو کې د یرغلګرو پوځونو د مقابلې په موخه د راتلونکي پسرلي لپاره تیارې ونیو . او د تبعید شوي امیر د بیا غوښتني موضوع ته د لومړیتوب حق ورکړ شو او د پاڅون مشرانو د دوو هغو لیکنو په ترڅ کې چې د جنورۍ په نمایي کې یې رابرتس ته استولي وو، څرګنده کړه چې (( موږ مسلمانان د برتانیې له حکومت سره کومه دوښمني نه لرو، موږ یوازې د امیر د خوشې کېدو غوښتنه کوو .**

**موږ به وروسته له دې ستاسې د دوښمنانانو دوښمن او ستاسې د دوستانو دوستان واوسو . څو چې تاسې امیر له بند نه راخوشې نه کړئ، موږ به هېڅکله هم له خپلې غوښتنې تېر نه شواوتر هغه وخته چې څو مو په بدن کې ساه وي، زاړه او ځوانان به له تاسې سره وجنګېږو . ))** [230] **سربېره پر دې محمد جان خان هم د دوو بېلو بېلو لیکونو په ترڅ کې رابرتس او د هغه مرستیال او نواب غلام حسن خان ته هم د دغې مطب غوښتونکی شوی و، چې (( د هېواد د دغې برخې ټول مسلمانان چې د ولیعهد د درناوي لپاره راغلي دي، وایي تر هغې چې د برتانیې حکومت امیر له بند نه راخوشې کړی نه کړي او د ولیعد رتبه ونه پېژني، د ځان او سر په بیه به هم د جګړې لاې پرې نه ږدي او له خپل عزم نه به وانه وړي او په دې لپاره ټول مسلمانان سره یوه خوله او یو موټی شوي دي .))** [231] **محمدجان خان ته د رابرتس ځوابیه لیك منفي و او څرګنده کړې یې وه، چې (( که چېرې تاسې اوس خپل مخالفت ته د پای ټکی کېږدئ او کابل ته راشئ، ستاسې درناوی به وشي او که پخپله موجوده لار باندې ټینګار وکړئ تاسې او ستاسې سره بې فکره کسان به ټول برباد شئ . ))**

**خو رابرتس له دې فضا نه چې ممکن مذاکره یې جوړه کړې وه، ګټه واخیستله او یو پلاوی یې د مستوفي حبیب الله په مشرۍ په دې موخه غزني ته واستاوه، چې : (( امکان لري دا مشران دې ته وهڅوي، چې د هېواد د حکومت لپاره یو داسې نظر ورکړي، چې د عملي کېدو وړ وي . ))** [232] **د مقاومت مشران په لومړي سر کې غزني ته د مستوفي د راتلو لپاره د برتانوي مقاماتو سره خبرو اترو ته حاضر نه وو او سردار محمد طاهر خان او محمد جان خان په ځانګړې توګه ددې مخالفت کاوه، چې د امیر شیرعلي خان د کورنۍ له غړیو څخه پرته دې بل څوك د افغانستان امیر وي . خو مستوفي ورو ورو پر دوی باندې مسلط شو او داسې استدلال، څرنګه چې انګرېزانو ژمنه کړې، چې افغانستان به تخلیه کوي؛ نو له د هغوی له شر څخه د خلاصېدلو یواځېنۍ لار په خبرو اترو کې ده، نه په مقابله کې . او وسله واله مبارزه د افغانستان په تاوان ده . ملا مشك عالم چې تر ګردو د انګرېزانو د سطې مخالف و، یو څه مخالفت وکړ، خو وروسته مستوفي لومړۍ د وردګو او بیا د ټولو خلکو موافقه او ملاتړ ترلاسه کړ .** [233] **له هغوی سره د ۲۰۰ تنو په شاوخوا کې کابل ته راغلل؛ خو ټول نامهم کسان وو؛ خو په ورسره هغه لیك کې چې د ټولو مشرانو لاسلیك او مهر ورباندې شتون درلود، پخوانۍ غوښتنې په دې شرحه یکې تکرار شوې وې : (( ۱ – زموږ پاچا یا واکمن باید له بنده خلاس شي او بېرته دې پر خپل پخوني مقام پاته شي او زموږ قومي خلك د دې ضمانت کوي، چې ... هغه به د برتانیې له حکومت سره دوامداره او صمیمي دوستي ولري . ۲ – د برتانیې استازی هرڅوك چې وي، باید مسلمان وي او د برتانیې پوځونه دې زموږ له هېواد څخه ووځي . ۳ – د افغانستان هېواد او سیمې یې باید ټولې بېرته اعاده شي . ))** [234]

---

[230]- خارجه سکرتر ته د ۸۰ تنو افغان مشرانو لیك، درابرتس په تلګرام کې ، د ۱۸۸۰ د جنوري ۲۳ مه .

[231] - جنرال محمد جان خان غلام حسن خان ته ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ ۱۳ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۳۲۶ مخ .

[232]- رابرتس ، ۴۵۸ مخ .

[233]- هنسمین ، ۳۶۶-۳۶۵ مخ .

[234] - کاکړ، محمد حسن، افغانستان ، د کورني انکشاف سیاسي مطالعه ، ۱۸۹۶-۱۸۸۰ ، لاهور ۱۹۷۱ ، ۲۹ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مشرانو د اپرېل پر ۱۳ مه له رابرټس سره په يوه دربار کې خبرې اترې وکړې او ګريفن هم هلته جوته کړه، چې د يعقوب خان دويم ځلي راتګ ناممکن دی او بل هرڅوك چې د امارت لپاره د خلکو د منلو وړ وي، هغه به د غور لپاره وايسرای ته واستول شي . هغه زياته کړه چې د افغانستان د پيوستون عزم هم نشته او د هېواد هېڅ سيمه پرته له هغو سيمو، چې د هند د سرحدي سيمو د دفاع لپاره ضروري وي، تر ولکې لاندې را نه شي . کله چې هېواد ارام شو او د انګرېزانو د خوښې امير وټاکل شو؛ نو بيا به انګليس لښکرې له افغانستان څخه وځي؛ خو کندهار به بيا په کابل پورې و نه تړل شي . [235] د هغه دې ځواب د خبرو اترو چانس له منځه يوړ، ځکه ځواب پرېکنده ( قاطع ) و او د برتانيې د حکومت نظر افغاني مشرانو ته په ډاګه شو .

<u>د ملي مقاومت بڼې او مرکزونه :</u>

د کابل تر خالي کېدو وروسته د پاڅون مشرانو په غزني کې د سرادر موسی جان حکومت ته دوام ورکړ او د هغه په ټينګښت لګيا شول او د دغه حکومت د ټينګښت لپاره يې هر اړخيزې هلې ځلې وکړې، چې له جملې يې د ځمکو د ماليو لاس ته راوړل، د يوه منظم پوځ جوړول، له پنجشېر نه تر وزيرستانه پورې د بېلابېلو قومونو د مشرانو راغوښتل، څو په غزني کې له موسی جان سره وګوري او د قومي دوښمنيو له منځه وړل او د مشرانو ساتل او په هغوی کې د جهاد روحيه ژوندۍ ساتل .

وړوکی موسی جان او واقعي حکومت د سردار محمدطاهرخان او محمد جان خان په لاس کې و او دوی د هغه نايبانو په توګه عمل کاوه، چې البته دغه ډول حکومت په افغانستان کې سابقه درلوده . په خپله موسی جان د هغه د وزيرله قوله سردار محمد طاهر خان او د هغه مشر ورور محمد يوسف (( حافظ باله ، دربار يې کاوه، ساعت تېرې يې کوله او خلکو هغه پاچاه باله . )) [236] سره له دې څرنګه چې د هغه کورنۍ په کابل کې وه، هغې ته ډېر اندېښمن و . عمده مسئله د مالياتو لاس ته راوړل او د پوځ تنظيم و، چې د افغانانو برياليتوب په هغو پورې ډېر تړلی و او دې کار د لوګر، کوهستان او غزني د سيمو په بېلابېلو درجو دوام درلود . په کوهستان کې جنرال مير سيدجان استالفي او خواجه خان د موسی جان په نامه ماليات راټولول ، پخوني عسکر به يې تنظيمول .

د فبرورۍ تر پايه پورې د لوګر ملکانو هم ۱۲۰۰ عسکر تنظيم کړل او د نهو کليو ماليات يې د موسی جان په نامه راټول کړل [237] په لوګر کې د دغه کار په تر سره کولو سربېره د سردار محمد حسن خان او سردار محمد طاهر خان له خوا د پخوانيو وسلو راټولول پيل شوي وو؛ خو په هغه برخه کې (( ځينو ملکان د هغوی غوښتنې ته تيار وو او ځينو نورو دغه بار ته اوږه نه ورکوله . )) [238] او ټولو (( د لوګر ملکانو په قران کريم سوګند ياد کړ، چې د بې وسلې شوي امير پر موضوع پاڅون وکړي او ژمنه يې وکړه چې له عسکرو سره به د وسلو او پيسو مرسته وکړي . )) [239] جنرال مير سيدجان استالفي هغه کسان، چې د مالياتو دراټولو په پروګرام کې يې برخه نه اخيستله د کورونو په سوځولو به يې ګواښل . د هغه پلېوني ورځ په ورځ زياتېدل او په چاريکارو کې يو شمېر انګليس پلوي ملکان له ښار څخه وايستل شول . [240]

د کوهستان ملکانو دغلام قادر چاريکاري په لمسون پرېکړه وکړه، چې د هغه ځای حاکم سردار شهبازخان، چې د رابرټس له خوا ټاکل شوی و، و ايستل شي . [241] په همدې وخت کې سردارمحمد علم خان د غزني او ميدان تر منځ سيمو ماليات راټولول ، په داسې حال کې چې محمدجان او سردارمحمدطاهرخان، چې له ۸۰۰- ۱۰۰۰ کسانو پورې د موسی جان په نامه د مالياتو په راټولو بوخت وو او د توخي خلك ، اندړ او هوتك يې دې ته

---

[235]- رابرټس ، ۴۶۲ مخ .
[236]- د وليعهد مور ته د سردارمحمد طاهر خان ليك، ۱۸۸۰ د جنوري ۳۱ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۳۴۳ مخ .
[237] - رابرټس خارجه سکرتر ته ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ ۲۶ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۱۹۸ مخ .
[238]- ی ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۱۵- ۲۱ ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۴۷۵ مخ
[239] - ی ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۲۳-۲۸ پورې ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۵۳۱ مخ .
[240] - ی ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۱۵-۲۱ پورې ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۹۶۷ مخ
[241] - ی ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۲۵-۳۱ پورې ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۹۶۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زه په دې نژدې وخت کې وزيو ، کاکړو او سليمان خېلو ته لاړم ، له هغو خلکو سره مې وليدل او د هغوی ملکان مې د تره کي او علي خېلو له ملکانو سره يوځای غزني ته د وليعهد حضور ته راوستل . ما هغه دوښمنۍ چې له کلونو راهيسې د هغوی ترمنځ وې، له منځه يوړې او هغوی مې د خدای ( ج ) په لار کې تقويه کړل . ))** [248] **البته د دې ټولو هڅو موخه دا وه، چې څو بياېر کابل د پرديو پوځونو پر وړاندې مارش وکړي . پر کابل د دويم مارش اوازې، حتا د جنوري د مياشتې په وروستيو کې هم خورې شوې او ويل کېدل، چې سردار ايوب خان او جنرال غلام حيدرخان هم رابلل شوي دي، څو په مارش کې برخه واخلي، خو وروسته محمد جان خان د يورش او يرغل نېټه د مارچ ۲۱ و ټاکله .** [249] **خو دا يورش د مستوفي د پلاوي د پايلو تر معلومېدو او وروسته دسردارعبدالرحمن خان د ظهور او له هغه سره د خبرو اترو د زمينې تر برابرولو پورې و ځنډېد. او د هغه په برياليتوب سره هېڅکله هم عملي نه شو، که څه هم د هغو هنګامې او ترتيباتو د انګرېزانو تر وتلو پورې له د پخوا په شان دوام درلود .**

---

[242] - سان جان خارجه سکرتر ته ، ۱۸۸۰ د جنورۍ ۲۶ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۳۸۹ مخ
[243] - ی ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۸-۱۴ پورې ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۳۵۷ مخ
[244]- ی ك ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ له ۲۲-۸۲ پورې ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۵۳۱ مخ

[245]- جنرال واتسن خارجه سکرترته ، تيلګرام ، ۱۸۸۰ جنوري ۱۹ مه ، م ض س س هـ، ۲۴ ټوك ، ۳۷۴ مخ .
[246]- محمد جان او موسی جان دلاورخان دواب ته ، ۱۸۸۰ د فبرورۍ ۱۲ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۱۹۱ مخ .
[247]- ی ك ، ۱۸۸۰ د جنورۍ ۲۵-۲۶ ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك، ۹۶۷ مخ .
[248]- محمدجان خان غلام حيدروردك ته ، د ګريفن به لايل په راپور کې ، م ض س س هـ ، ۲۵ ټوك، ۲۱۶ مخ .
[249]- رابرتس خارجه سکرتر ته ، تلګرام، ۱۸۸۰ د مارچ ۵ مه ، م ض س س هـ ، ۲۴ ټوك ، ۱۳۵۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د امیر عبدالرحمن ناستی او د جګړې پای :**

**دا موضوع زما له اثارو څخه په یوه کې په بشپړه توګه څېړل شوې ده . [250] دلته یواځې یو څو مهم ټکي د وروستي بحث په توګه په دې اثر کې راوړم .**

**سردار عبدالرحمن خان پر ۱۸۸۰ کال د فبرورۍ په لومړیو کې په تاشکند کې له ( ۱۱ ) کلن اقامت وروسته له یوڅه پیسو او لږ شمېر وسله والو پیروانو سره د تزاري روسیې د چارواکو په اجازه، بدخشان ته ننوت . او هلته په قصدي توګه د هغه ځای دځینو امیرانو په مرسته او میر سلطان مراد قطغني ۱۲۹۷ ( مارچ ۲۱ ) له نوروز مخکې تالوقانو ته ننوت . په تالوقانو کې د سوارو یوه قطعه، چې د ترکستان د نایب الحکومه غلام حیدرخان له خوا چې د سلطان مراد میر قطغني د باخبرئ لپاره روانه شوې وه، له عبدالرحمن خان سره یوځای شوه . دې یوځ له هغه سره د واکمنی د عملي قدرت په جوړښت کې مرسته وکړه او د قطغن سیمې، تالوقان او بدخشان د هغه تر ولکې لاندې راغلل . په داسې حال کې چې لږ څه وروسته سردارمحمداسحق خان چې د هغه د تره زوی او پلوی و او له هغه سره یوځای ترکستان ته تللی و، په دې بریالی شو، چې جنرال غلام حیدرخان له هغه ځایه د بخارا په لوري وشړي او پرته له میمنې څخه د هغه ځای واکمنې په لاس کې واخلي . په دې ترتیب سردارعبدالرحمن خان پر ۱۲۹۷ کال د مارچ پر ۲۱ مه په نوروز کې په دې بریالی شو، چې د شمالي هندوکش د واکمن په توګه پرته له دې، چې کوم رسمي لقب یې ځان ته غوره کړی وي، د قدرت چارې تر سره کړي، له هغه وروسته کندوز ته لاړ .**

**دا هغه وخت و چې په کابل کې د لیپل ګریفن، چې د افغانستان لپاره یې د لیتن نوې پالیسي اعلان کړې وه . ځینو ځان غوښتونکو سردارانو لکه د سردارمحمد شریف خان زوی سردار محمد هاشم خان د امارت پلویان شوي وو، خو دا چې هیڅ یوه ونه شوای کولای، چې د غزني د ملي پارټی له ملاتړ پرته د قدرت او تخت واګې تر لاسه کړي، هي څوك پر ځان باوري کېدای نه شوای . په ځانګړې توګه ورسته له هغې ملي پارټی چې په سر کې یې ملا مشك عالم او محمد جان خان وو، د امارت لپاره د امیر شیرعلي خان د کورنی د یوه غړي پلویتوب کاوه . خو لویه ستونزه دا وه چې لیتن او د انګلیس کړنې په کابل کې د هغوی پر وړاندې په یوه مقابل او مخالف لوري کې واقع وې . سردار عبدالرحمن خان په داسې حال کې چې د قدرت د ټینګښت لپاره یې هڅې کولې له خپل مقر څخه یې د ملامشك عالم او محمد جان خان په ګډون د ملي نهضت له ډېرو مشرانو سره مکاتبه وکړه او د هغه د مکاتبو روحیه داسې وه، چې هغوی باید د جګړې لپاره تیار وي، خو پخپله دې اقدام نه کوي . دغو مکاتیبو ملي جهاد ته نوې او تازه ساه ورکړه او هر چا هیله څرګندوله چې د غه خانداني لایق مشر په راتګ او مشرتوب سره به د یرغلګروانګرېزانو مسئله یو اړخیزه شي .**

**دې وضعې په کابل کې انګرېزي چارواکي په اندېښنه کې واچول، خو لیتن د عامه هیلو خلاف په عمدي توګه، له دې امله چې سردار عبدالرحمن خان له ده غوندې د امیر شیرعلي خان د خاندان مخالف و او حتا کله چې نوموړی سردار په بدخشان کې و[251]، تصمیم یې درلود، چې د کابل د امارت په اړه د خبرو اترو درزازه خلاسه شي، لکه څنګه چې لیدل کېږي دغو خبرو اترو په اسانی سره پر مختګ ونه کړ . کله چې نوموړی سردار په کندوز کې و، د همدې موخې لپاره د انګرېزانو له خوا ورته ۳ استازي ورولېږل شول .**

**لیتن له سردار عبدالرحمن خان سره د خبرو اترو لپاره دومره میلان ښووهٔ، چې د سردار عبدالرحمن خان اقامت یې په روسیه کې نادیده وګاڼه او داسې فکر یې وکړ، چې نوموړی سردار به دومره مننډوی شي، چې د کابل امارت به د هغه له طرحې سره سم ومني . هنسمین ولیکل د (( د دغه سردار راتګ زموږ لپاره له شمال څخه د یوه روحاني شخص په توګه ګڼل کېږي . )) [252] یو استازی د محمد سرور غلجي په نامه د اپرېل پر لسمه کندوز ته ننوت، نوموړي د ګریفن شفاهي پیغام سردار ته واوراوه، چې انګلستان د کابل لپاره دا سې یو امیر غواړي چې د هغوی دوست وي . برتانوي لښکر له افغانستان څخه وځي او د برتانیې حکومت په روسیه کې د سردار د اقامت په وجه له هغه سره دوښمني نه لري او په دې به وتوانېږي چې د روسیې په تناسب له هغه سره**

---

[250]- افغانستان، د داخلي سیاسي انکشافاتو څېړنه ، ۱۸۸۰-۱۸۹۶ ، لاهور، ۱۹۷۱ .
[251]- هنا ، ۳ ټوك، ۳۶۵ مخ .
[252]- هنسمین، ۴۰۳ . مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردار عبدالرحمن خان په همدې وخت کې د افغانانو د بېلابېلو قومونو مشرانو ته لیکونه واستول . د دغو لیکونو موخه دا وه چې افغانان باید جګړې ته ځانونه تیار کړي او په دې مبارزه کې له چا سره هېڅ ډول معامله ونه کړي، مګر تر هغې پورې چې د خبرو اترو پایلې نه وي راوتلي، تر هغې په وسله وال اقدام نه کوي . په همدې وختونو کې جنرال غلام حیدرخان او او میربچه خان له هغه سره یوځای شول او د جهاد ولولې په هماغه پخواني شکل تودې وې . په کابل کې له سردار عبدالرحمن خان سره د خبرو اترو افشاکېدل د یوشمېر زیاتو بدلونو نو لامل شول . سردار ولي محمد خان او سردار محمد شریف خان د امارت امید له لاسه ورکړ؛ خو جنرال محمدجان خان نور هم د یعقوب خان په بېرته راتګ ټینګار کاوه. سردار طاهر خان ګریفن ته ولیکل، چې یعقوب خان یواځېنی سړی دی، چې په هېواد کې یې امن راوستی دی. خو هغه چا چې د خبرو اترو په ناکامۍ کې یې عملاً اقدام وکړ، هغه مستوفي حبیب الله خان وردګ و، چې ډېر ژر هندوستان ته تبعید شو .

د خبرو اترو په ځنډېدلو په برخه کې د امیر عبدالرحمن خان تکتیکونو، په کابل کې ګریفن او نور انګرېزي چارواکي اندېښمن کړل، هغوی په دې فکر کې شول، چې لکه چې سردار پوهېده،چې انګرېزان په راتلونکي مني کې له افغانستان څخه وځي، نو هغه غواړي د انګرېزانو په مرسته نه؛ بلکې په خپل زور سره واك تر لاسه کړي او سربېره پر دې هغوی نوي وایسرای رپن ته وړاندیز وکړ، چې له هغه سره دې له خبرو اترو نه تېر شي او بې وسلې شوي امیر ته دې اجازه ورکړل شي، چې بېرته خپل هېواد ته لاړ شي . رپن د هغوی دلیلونه ډاډ وړ ونه بلل او ویې نه منله او لارښوونه یې وکړه، چې یو ځل بیا له سردار سره خبرې اترې وکړي، هغوی همداسې وکړل؛ خو عبدالرحمن خان په خپلو ځانګړو وړاندیزونو سره بیا داسې یو ځواب ورولېږه، چې د انګلیس چارواکو ته د ډاډ او قناعت وړ نه و. او دا ځل یې ټینګار وکړ، چې د امیر دوست محمد خان د وخت افغانستان باید د هغه تر ولکې او قلمرو لاندې وي . ګریفن د دویم ځل لپاره له هغه سره د خبرو اترو د پرېکون او د سلطنت لپاره د یعقوب خان د راتګ وړاندیز وکړ. دا ځل د ویسرای رپن لارښوونه دا وه، چې د وروستي ځل لپاره نوموړی سردار په دې وپوهوي، چې کابل ته راشي او کندهار له کابل نه یوه بېله سیمه وبولي او د کابل د امیر په توګه ډېری هېوادونو سره مستقیم تړاو ونه لري او چېرې هغه په لږ وخت کې مثبت ځواب ورنه کړ؛ نو د شېرعلي خان له کورنۍ له یوه تن څخه به وغوښتل شي، چې د حکومت د جوړښت اقدام وکړي؛ خو دا ځل د لیك له رارسېدو سره سم سردارعبدالرحمن خان د برتانیې ټول شرطونه ومنل او بې له ځنډه یې د کابل په لور حرکت وکړ، چې د جولای پر ۱۴ مه د پروان تتمدرې سیمې ته ورسېد . د امیر دا بدلون چې هېڅ هیله یې نه کېده، په هرات کې د سردار ایوب خان د حرکتونو سره په تړاو کې شرحه کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردار ایوب خان د سردار عبدالرحمن خان په پرتله په درانیو، غلجیو او ملي پارټۍ کې ډېر محبوبیت درلوداو پخوا عبدالرحمن له انګرېزانو سره د مقابلې پر ضد د هغه غوښتنه نه وه منلې . سردار ایوب خان د جون پر ۹ مه ؛ یانې درې اونۍ مخکې له هغه، چې عبدالرحمن خان د کابل په لور روان شي، له خپلو پوځونو سره د کندهار په لور حرکت کړی و. عبدالرحمن خان باید ارومرو له هغه نه خبر شوی وي . ځکه هغه پوهېده چې کندهار ته د ایوب خان په ننوتلو سره به غلجیان او دراني د هغه تر مشرۍ لاندې سره یو موټی کېږي؛ ممکن د انګلیس چارواکو چې د افغانستان د پرېښوولو ژمنه یې کړې وه، له هغه سره د امارت په اړه جوړ جاړي ته ورسېږي. په دې اساس پخپله له هغه څخه مخکې هلته لاړ او د انګلیس شرطونه یې ومنل .

په هر حال د جولای پر ۲۰ مه سردار عبدالرحمن خان د قومي مشرانو او خلکو له خوا، چې ټولیز شمېر یې له ۲۰۰۰۰ زرو څخه زیات و، د امیر په توګه اعلان شو او ورپسې د جون پر ۲۲ مه په کابل کې د ګریفن او ستیورات د یوه دربار په ترڅ کې په رسمي توګه د هغه امارت ومنل شو . د ۱۸۸۰ کال د جولای پر ۲۷ مه افغانانو د سردار ایوب خان په مشرۍ د جنرال به رو ( Burrow ) په مشرۍ د انګرېزانو یو پوځ د کندهار په میوند کې سخت وځاپه او پخپله کندهار چې هلته د برتانیې نور پوځونه مېشت و، محاصره کړ. په کندهار کې د انګرېز لاسپوڅي سردار شېرعلي خان تر واکمنۍ لاندې د انګرېزانو واکمنۍ سقوط کړ او په کندهار کې د پاڅون ساحه دومره ارته شوه، چې ربښي یې ان تر کوټې پورې ورسېدلې .

په دې اساس سردار ایوب خان هم د انګلیس او هم د نوي امیر لپاره یو د ناڅاپه یو لوی ګواښ ( خطر ) رامنځ ته کړ. ګریفن او امیر د هغه د له منځه وړلو لپاره یو د بل مرستې ته اړ شول . په ډېره بېړه یې سرای خواجه ته نژدې د ذمه د غونډۍ په سیمه کې یې د جولای پر ۳۱ مه او د اګست پر لومړۍ نېټه د شېرو ساعتونو لپاره دوه ځلې غونډه وکړه او داسې پرېکړه یې وکړه، چې انګرېزي پوځونه دې له ځنډ پرته کابل ترک کړي او انګرېزي چارواکي دې نولس نیم لکه روپۍ،چې نمایي یې بخشش او نیمایي یې په افغان خزانې پورې اړوندې وې، امیر ته ورکړي . د امیر پر وړاندې یې ژمنه وکړه غلجي خلک به دې ته وهڅوي،چې پرهغو انګرېزي لښکرو باندې بریدونه ونه کړي، چې درابرتس په مشرۍ کندهار ته لېږل کېږي. موخه یې دا وه چې سردار ایوب خان له کندهار څخه وشړي. سره له دې چې امیر پر هغه ډېر ټینګار هم وکړ؛ خو بیا هم د هغوی تر منځ د هېڅ ډول معاهدې تړون ونه شو .

د رابرتس په مشرۍ د انګرېزي پوځونو له ۱۰۰۰۰ زرو عسکرو څخه جوړ او ټاکل شوی لښکر د اګست پر لسمه د کندهار په لور روان شو او هلته یې وروسته له هغه، چې د سردار ایوب خان پوځونو ته یې ماتې ورکړه، د کوټې له لارې هند ته لاړل. په داسې حال کې، چې په کابل کې مېشت د انګرېزانو یو بل پوځ د ستیورات تر مشرۍ لاندې، چې شمېر یې ۲۰۰۰۰ کسه و، د شترګردن له لارې هند ته تللی و. په دې ترتیب د امیر عبدالرحمن په ناستې او د انګرېزي پوځونو په وتلو سره د افغان _ انګلیس دویمه جګړه پای ته ورسېده .

په بل کال ( ۱۸۸۱ ) په کندهار کې مېشتو انګرېزي پوځونو دبېلابېلو دلیلونو له مخې په اپرېل کې کندهار هم تخلیه کړ او د هغه ولایت اداره یې امیر ته پرېښووه. خو د هماغه کال دجون په میاشت کې دویم ځل لپاره سردار ایوب خان بیا له هرات نه پر کندهار وروخوځېد او هغه یې لاس ته راوړ؛ خو له امیر سره په مقابله کې چې له زیات پوځ سره هلته تللی و، ماتې وکړه او فارس ته یې پناه یوړه . هرات او کندهار د نوي امیر لاس ته ورغلل . پر ۱۸۸۴ کال د میمنې ولایت هم، چې تر هغه وخته پورې د یوه خپلواک امیر تر واک لاندې و، د امیر تر ولکې او قلمرو لاندې راغی . په دې ترتیب د لیتن د ډېر ټینګار او طرحې پر خلاف افغانستان یو موټی او متحد شو؛ خو ځینې سمیې چې د ګندمک په تړون کې راغلې، له افغانستان نه بېلې شوې او د هغو بهرنۍ خپلواکي سلب شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## **پای او پایله**

**د دغه اثر له لوستلو ښکاره ده، چې په افغانستان کې په سیاسي ساحه کې، په ځانګړې توګه د هېواد د امنیت او د دولت د نظم دورانکاری او بیارغاوني کارونه ځنګ په ځنګ په ډېر زور او شدت سره روان وو . دا عملیه دسدوزیو د کورنۍ تر سقوط وروسته پر ۱۸۱۸ کال ښکاره شوه او د نګلیس د لومړي تېري تر پیل پورې په ۱۸۳۸ د دولت دبیارغاوني چارو په اخر کې غلبه وکړه اود االحمدزیو د واکمنۍ بنسټوال، امیر دوست محمد خان د دغې عملیې ممثل وپېژندل شو . دانګرېزانو لومړي تېري دغې عملیې ته د پای ټکی کېښود او افغانستان د پردیو پر ضد د جګړو او مبارزوپه دوره کې خپل مرکزي حکومت له لاسه ورکړ. له مرکز څخه تښتېدلې قوې تقویه شوې؛ او افغانستان په وړو واحدونو ووېشل شو . په دې ترتیب د افغانانو لومړی برخورد له پر مخ تللو او پر عصري وسایلو سمبال اروپایي انسان وژونکو سره په نظامي ډګر کې و او په دې اساس د هغه اغېزې تل پاتې او منفي ثابتې شوې .**

**امیر دوست محمد خان د خپلې دویم ځلي پاچاهۍ پر مهال خپلې پخوانۍ سیاسي رغاونې دا ځل په یوه پرخه کچه په ډېر تدبیر سره له سره پیل کړې او د خپل عمر تر پایه پر دې بریالی شو، چې افغانستان له آمو تر پېښوره په سیاسي لحاظ یوموټی او متحد کړي .**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**